# د هندوستان پښتانه

"باره بستي"

صفيه حليم
**Safia Haleem**

Ketabton.com





تخنيکي ځانګه
**www.da**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړليک


| سرليک | مخ |
|---|---|
| پېژندنه ................................................................ | |
| د اکبر دولت ................................................................ | |
| شيخ رکن الدين ................................................................ | |
| جهان او جهانګير ................................................................ | |
| دريا او جهان ................................................................ | |
| د جهان زوال ................................................................ | |
| وروستى پاڅون ................................................................ | |
| بهادر او دلېر ................................................................ | |
| د باره بستي اوسني پښتانه | |






## *Bara Basti*

This is the fourth book in the series written by Pashto writer Safia Haleem. She studied Pashtoon Communities in Various parts of present day India in 2003/4 while working for the BBC. She met those Pathans who have now integrated in the society like the rest of Muslims living in India, but having their traditions and identity.

About 100 km from Delhi the road going towards Buland Shahar District takes you to a chain of villages by the Ganga River. They are known as Bara Basti, which roughly translates as twelve villages. This area is near Muradabad and Meerut and were established by one Pashtoon Tribe of Dawoodzais. In the $16^{th}$ Century during the time of Sher Shah Suri, the first settlement was inhabited by families who built Mud forts ( Garrhi) and lived as villagers rearing horses brought from the north of Afghanistan. In the Mughal period some of their powerful leaders provided trained soldiers and took part in various battles to expand the empire . The uprising of Khan Jehan Lodi against the Mughal King Shah Jehan was supported by Darya khan married and settled in Bara Basti. The 12 villages which originated the name of this place have multiplied in to nineteen and several Garrhis are no more there due to the

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ganges water erosion and migration. Bassi, Bagrasi, Chandyana, Khanpur, Hassan pur, Poth , Bahadur Garrh , Sher pur, Pulwarra, Mohammad pur, Daulat pur, and Grora were the original villages. The author interviewed people from that area and compared the information for facts with other historical sources. She was helped by the academics of Jawaharlal Nehru University and Jamia Millia Islamia in Delhi.

## پېژندنه

د هندوستان تر ټولو لوی ولایت، اتر پردېش نومیږي چې دوه نیم لکه مربع کلومیټر زمکه کې یې یو سل او نوي میلینه خلک ژوندکوي. دلته د مسلمانانو شمېره اتلس في صده ده. د ډېلي نه په سړک ددی یوسر نه بل ته درې ورځې د موټرلاره ده. دا د هندو مذهب د زېږېدو اود مسلمانانو د کلتور مرکز ګڼل کیږي. لرغوني تاریخ دلته دنامتو سلطنتونواو ښارونوحال راکوي چې ځینې یې اوس نړۍ واله شهرت لري. اګره، لکهنو،کان پور،میرټ (میرټهه)، علي ګړهه، برېلي، بنارس او اله اباد د یادولو وړ دي.

په دی ولایت کې د ګنګا او جمنا د سیندونو تر منځ پراخ مېدانونه یو وخت دوآب نومیدل چې پکې روهیله پښتنو ښارونه ابادکړي و. هم دلته د میرټ( میرټهه) او مراد اباد سره جوخت د ګنګا سیند پر غاړه دباره بستي په نوم یوه سیمه ده چې په پښتو کې د دولسو کلیو مانا ورکوي. اوس دا کلي په وړو ښارونو اوختي دي خو پکې د هم هغو پښتنواولادونه ژوند کوي چې د شپاړسمې میلادي پېړۍ راهیسې دلته مېشت او اباد شول. د باره بستي په کلیو کې لومړي پښتانه د شېر شاه سوري پر وخت اباد شول خو مغل





باچا جهانګیر پر وخت دلته ځینو ته زمکې او جاګیر ورکړې شواو دوي پکې کچه کلاګاني جوړې کړې. په وولسمې پېړۍ کې دلته د مغل پوځ لپاره جنګیالي تربیه کېدل. له دی ځایه کله د مغلو پر ضداوکله ددی دساتنې لپاره پښتنوځاني او مالي قربانۍ ورکړې. د شاه جهان پر ضد د خان جهان په پاڅون کې هم ددی سیمې مشران وړاندې وچې د ځینو نومونه د مغل تاریخ په پاڼوکې ښکاري خونورپه زرګونو کسان بې نومه مړه شول. دلته اوسیدونکي ټول خلک د پښتونخوا د مومند او غوریاخېلو له ټبر دي او په یویشتمې پېړۍ کې هم ددوي دودیزه ژونددېر بدلون نه دی موندلې.

د باره بستي هغه دولس کلي چې د ګنګا پر غاړه د یو بل نه په لږه فاصله اباد شول، بسي، بګراسي، چندیانه، خانپور،حسن پور، پوټهه، بهادرګړهه، شېرپور، پلواړه،محمدپور،دولت پور اوګروړا نومیږي. وروسته ورسره نور کلي هم اباد شول چې جلالپور، ګېسوپور،حیاتپور، محي الدین پور، بروالـه او بهرکاون دي، خودی سیمی اوس هم د باره بستي نوم د لاسه نه دی ورکړې. ددی ځای د پښتنو په اړه یوکتاب په اردو ژبه محمد عبېد الله خان په ۱۹۳۹ میلادي کال کې ولیکلو چې " یادګار سلف، تاریخ باره بستی افغانان" نومیږي او د مغلو د بېلا بېلو تاریخي پېښو نه علاوه د هر یوکلي د خلکو شجرې پکې موندل کیږي. د باره بستي د پښتنو ځینې روایات د اتر پردیش د نورو پښتنو په څیردي خو نور یې د پېښور د شاو خوا نه له ځانه سره راوړي دي. د هند د بېلا بېلو قامونو سره یو ځای ژوندېکې د خپلې پېژندګلوۍ احساس ژوندی ساتلې دې. هغه چې زمکې لري تر اوسه د کلي د ژوند سره تړاو لري خو نورو یې د ښار ژوند غوره کړی دی.

د باره بستي کیسه یواځې ددی ځای د پښتنو حال نه دی بلکه د مغلود ځواک په ټینګولو کې د هند د پښتنو هلو ځلو یو څرک دی. د شیر شاه سوري نه وروسته دده لوی سرداران په بنګال او بهار کې د یو ځای کیدو لپاره لاس پښې وهلې خو تکړه مشر یې نه لرلو. هغه څوک چې د مشرۍ وړ و، د اکبر باچا له خوا ولمانځل شول خو تر دي بریده چې ځواکمن نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اکبر دولت

د ۱۵۷۵ میلادي کال په هند کې د مغل اکبر باچا د واک نولس کاله وتلي و. د اګرې په بازار کې د یواولسي سندرغاړي (بهاند) سندرې ته را ټولوخلکو غوږ نیولی وچې پرسویه ( منظوم داستان) یې ویېلو. د داستان اتل دګجرات د احمد اباد نه مغل والي سره په قافله کې روان و دوي د سیروهي د سیمې نه تیریږي چې داکبر باچا په قلمروکې نه ده شامله. ددې ځای د راجپوت ځوانانو یوه ډله د قافلې مخه نیسي اود والي د محافظانو سره په جګړه شي. د داستان اتل خبریږي او لکه د زمري خپل اس زغلوي . د راجپوت ځوانانو مخې ته ورځي ، خپله لنډۍ توره راباسي، راجپوت ورباندې حمله کوي او ځوان په خپل تندي ټپ خوري ، دی په قهر شي او خپله توره دومره په زوره د راجپوت په سروهي چې هغه پرې دوه ټوټې شي او د اس نه راپریوځي. د راجپوت ورورد بدل اخستو لپاره راوړاندې کیږي خود هغه ځوان د تورې په یو ګوزار دی هم قتل شي. ددوي ملګري له وېرې په تېښته شي او د قافلې خلک په ارام خپل سفر جاري وساتي.

ددې " پرسویه" د سندرې اتل د ګجرات نه راروان شوی دولت خان نومیدو، چې د میرانې کیسه یې له ده وړاندې اګرې ته رارسیدلې و. د هندي پرسویه دا مضمون خلکویو بل ته په خوند ویېلو، ان تر دې چې یوه ورځ د اکبر باچا په دربار کې یو سندرغاړي زمزمه کړه . باچا هم د شعر نه خوندواخیستوخوکله چې خبریږي چې دسندرې اتل دولت خان یو خیالي کیریکټر نه بلکه دده د والي په قافله کې شامل و نو والي ته دده د لیدو خواهش ځرګندوي. دولت خان کله چې د اکبر باچا په خدمت کې حاضریږي نو هغه د خپلو اوږو نه یو ښکلی طوسي شال لرې کوي او د دولت خان پر اوږو یې تاووي. بیا په ډېر شوق ورسره خبرې کوي او دده د ټبر په اړه ترې معلومات غواړي.

د دولت خان پلار عمر خان نومیدو او نیکه یې هم دولت خان و چې وروسته یې نوم په شیر خان واړاو. دوي په خټه لودیان او د یوسف خېلو د قبیلې نه و. کمال الدین ملک احمد د سکندر لودی په حکومت کې ډیلي ته ورغلي و . دده ځلور ځامن و، دولت خان (





شیر خان) نصرت خان ، بهادر خان او موسی خان. نصرت د تجارت د سامان سره لومړۍ لاهور ته ولاړو. د لاهور والي چې هغه هم دولت خان نومیدو او دده د خپلوانو نه و ، ورته هرکلی ووېل ،د ابراهیم خان لور یې ورپه نکاح کړه او جاګیر یې ورله ورکړو. وروسته نصرت خان خپل نور وروڼه هم لاهور ته وروبلل.

څه موده وروسته ددولت درې واړه وروڼه د سکندرلودی په بلنه اګرې ته ورغلل اوهلته دوي ښه ونازول شول. د مغل باچا بابر د حملې اود لودی حکومت دختمیدو سره دریو وروڼو د خپلو خپلوانو سره د پنجاب خاوره پریښوده او بهار ته ولاړل. هلته په پټنه کې یې د نورو پښتنو په شان ساده ژوند پیل کړو. په دې وخت کې د لودیانو د شاهي کورنی له خوا د ډیلي د تخت د نیولو په هڅه پښتانه د سکندر لوری د زوی سلطان محمود بیرغ لاندې راټول شول چې یکي دا درې وروڼه هم شامل و.

بل خوا فرید خان ( شیر خان سور) د مغلو نه د هند د مرکز اخستو په هڅه کې و او په بهار کې یې پلویان ډېر شول. په ۱۵۴۰ م کې د بابر د مړینې سره شیر خان په جونپور کې د سلطان محمود لښکر ته ماته ورکړه . په دې لښکر کې نصرت خان او دده وروڼو د شیر خان ( سوري) پر ضد جنګ کاو. د ماتې خوړلو وروسته دی وروڼو پوځي ژوند ته شا واړوله او بیرته یې تجارت پیل کړو.

کله چې فرید د شیرشاه په نوم د ډیلي پر تخت کښیناستو نو دولت خان ( شیر خان ) ورته سر ټیټ کړو او دده په پوځ کې شامل شو. مغل همایون د خپل سلطنت د بیرته اخستو لپاره لاس پښې وهلې او په بهار او بنګال کې یې څو جنګونه وکړل. دولت خان ( شیر خان ) په داسې یو جنګ کې ووژل شو او ځلور ځامن یې پاته شول. شیر شاه دوي ته زمکې او جاګیرونه ورکړل او عمر خان یې له ځانه سره وساتلو. د لودیانو ځینې امیران د مغلو په لنډه دوره کې دکن ته ورغلل و او په دوي کې یو تن عالم خان کله چې بیرته د شیر شاه سره مل شو نو دده یوه لور بې بې لاجې عمر خان ته ور وراده شوه. په ۱۵۵۱ م کې عمر خان د ګوالیار په کلا کې و چې هلته د بې بې لاجې زوی وزیریدو او دې د خپل نیکه په نوم دولت خان ونومول شو.

د باره بستي سیمه د ګنګا سیند پر غاړه ده . یو اولسي روایت کې وای، هغه مالونه چې شیر شاه سوري په کشتیو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغوښتل، زيات وخت د سيند پر غاړو دده له حريفانوله خوا چور شو. ددی د مخ نيوي لپاره هغه د خپل پوځ يو تن عيسا خان ته دا دنده وسپارله او هغه له خيبر پښتونخوا د سيمې نه ورته پښتانه راوبلل. هغه کلې چې دوي په لومړي سر کې پکې ديره شول " بسي " نوميږي .

د شېر شاه له مړينې وروسته دده زوی اسلام شاه لودی سرداران له ځانه سره وساتل او دوي ته يې لوړې عهدی ورکړې. د اسلام شاه تر ژونده دغه لودی ورونه په امن کې و . خو د ده د مړينې سره حالات بدل شول. د اسلام شاه د خورخاوند مبارز خان خپل ماشوم خوريونه ووژل او پخپله سلطان محمد عادل په لقب د گواليار په کلا کې خپله باچاهي اعلان کړه . عمر خان په دی وخت کې د هغه امبارکی له نه و ورغلی او مبارز خان دا خبره ورته په زړه کې غوټه کړه. هغه وخت مغل همايون يو واری بيا ټول پنجاب نيولی ،تر ډيلي سيمه يې په لاس کې وه او په اگری کې د واکمن په توگه پر تخت ناست و.

عادل شاه (مبارز خان) اوس په لکهنو کې خپل ځواکونه راټولول اوله کوموافغانانوچې په وېره او يا يې نه خوښيدل هغوي سره يې سمه دمه دښمني کوله. د عمر خان او دده له ورونو يې ټول جاگيرونه واخستل نودوي پوه شول اوددی لپاره چې مبارز خان راضي کړي ، لکهنوته ورغلل. هلته مبارز خان ددوي د نيولو او په بندي خانې کې د اچولو امر وکړو. خوعمر خان ته چا ژر خبر راوړواو ده د خپلې کورنی سره د گجرات د بهټه راجپوت حاکم سره پناه واخسته. هغه دده هرکلی وکړو، د خرڅ لپاره ورله زمکې ورکړې او دې هم هلته پاته شو.

د همايون د واک موده دده په مړينې ختمه شوه خو دده زوی اکبر باچا د خپلو پت منو اميرانو په ملاتړ پر تخت کښېناستو. افغانان د يو راجپوت هيمو چندرا په مشری د پاني پت په مېدان کې بيا مغلوته مخامخ شول. په دی جنگ کې د عمر خان ورونه هم شامل و. چې محمود او قاسم دواړه پکې ووژل شول او کمال خان ژوندې پاته شو. له دی جنگ سره په هند کې سوري واک پای ته ورسيدو.

عمرخان د خپلوورونو په وژنه دومره خفه و چې د مغلود واک په سيمه کې ژوند کول يې خوښ نه شو اود۱۵۵۶ م په پای کې د خپل عيال سره بيا د گجرات مرکز احمداباد ته ولاړو. هغه وخت دده زوی دولت خان د وو کالو و. احمد اباد ته په لاره دوي د مالوې نه تېر شول چې هغه وخت شجاعت خان پکې واکمن و. ده





چې د عمر خان د قافلې اسونه او پيلان وليدل نو حرص په مخه واخستو او له ده يې ښه اسونه او پيلان په زوره وگرځول. عمر خان هغه وخت ورسره جنگ کول مناسب وونه گڼل او وړاندی ولاړو خو شجاعت خان پښېمانه شو او ورپسې يې د تاوان په توگه يو زر روپۍ وروزغلولې. عمر خان ددی پيسو اخستل خپل سپکاوې وگڼلو اود مننی سره يې ورله بېرته واستولې.

په ۱۵۶۱ م کې اکبر باچا د ماشومتوب له درشله وتلې اود خپل سرپرست او استاد بېرم خان د پنجو نه د وتلو لپاره يې لاس پښې وهلې. بېرم خان د مغل سلطنت د ساتلو لپاره پښتنو ته امتيازات ورکول. ددوي لوې سرداران چې يو وخت د لودي باچاهانو د تخت پاې ټينگې کړې وې اوس د مغلو سره مله و. پدی کې عالم خان لواني، شهباز لودی، دولت خان لودی، محمد خان نيازي، ناد علي مېداني، حسن خان بېټني، مبارک خان کاکړ، عمر خان افغان، بابو منقلي، غازي خان مېداني او فتح خان سور شامل و. اکبر باچا د بېرم خان سره له يوې شخړې وروسته، هغه نه ټول اختيار واخستو او دې يې حج ته ورواستوو.

هغو پښتنو سردارانو چې په بنگال او اړيسه کې يې تر هغې مغلوته غاړه نه وه ايښې، سلېمان کرلاني ، داود خان، قتلو خان، او عيسا خان و. اخواپه گجرات کې د لودی پښتنو د بغاوت اود جنگونو له کبله اکبر نشوکولې چې بنگال او اړيسه ته ولاړ شي او تر ۱۵۷۳ م دا سيمی خپلواکه وې. د لوديانود وخت زيات تره پښتانه اميران هغه وخت په گجرات کې راټول و چې يوه خپلواکه سيمه وه. د عمر خان اخښې (د مېرمنی ورور) عالم خان هغه وخت په احمد اباد کې دده کوربه و. دده په هلو ځلو ورته ملازمت پيدا شو خو عمر خان د پښتنود مشر شېر خان فولادي سره اړيکې جوړی کړی چې د پټنی نه ورغلي د شېر شاه پاته شونې پښتانه يې په ځان راټول کړی و.

مغل باچا اکبرنه غوښتل چې په دومره لوې شمېر پښتانه دی يو ځاې په گجرات کې پاته وي. دده مورخينو ليکلي چې هلته دی اميرانو به مدام د يو بل سره نانډرۍ وهلی، تر دی چې ددی ځاې واکمن اعتماد خان وويريدو او اکبر ته يې پيغام ورواستاو چې دده مرستی ته دی راشي. هم هغه وه چې اکبر د خان کلان په مشرۍ يو لوې لښکر د گجرات د نيولو لپاره ورواستاو او اخر دا صوبه په مغل سلطنت کې شامله شوه. د ځوانیسن ته د رسيدو سره دولت خان د پلاراوماما نه بېل د گجرات د يو بل لودی امير حاجي خان سره ملازمت وکړو. ددی ټولی کورنی ځانگړتيا په دی کې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي به ديني او دنياوي دواړه زدکړی کولی. دولت خان ته په احمد اباد کې د"اوټاوه" جاگير په برخه ورسيدو . ده د يو بل امير هېبت خان لور بي بي راجي جيو راواده کړه.

خو د مغلو پر ضد د پښتنو بغاوت سوړ نه شو اود شېر خان فولادي په مشری پښتنو هغه کلا محاصره کړه چې مغل امير اتکه خان پکې تم و. ددی خبر په اوريدو اکبر باچا په ۱۵۷۲ م کې پخپله د اگری نه احمد اباد ته روان شو . په نهو ورځو کې يې هلته ځان ورسوواو په يوسخت جنگ کې پښتانه مات شول . په دی جنگ کې عمرخان هم ووژل شو چې د باغيانو په صف کې ولاړ و. په داسی حالاتو کې مغل به د باغيانو کورنی نه غچ اخستو. له دی ويرې د پلار د مړينې سره دولت خان د ټولې کورنی سره د احمد اباد نه ووتلو او د سورت د راجه سره يې واړول. د سورت راجه دده هرکلی وکړو اودی يې خپل مشاور وټاکلو.

په ۱۵۷۷ م کې د گجرات حالات ښه شول نود دولت خان پير، ابو تراب ورپسی پيغام ورواستاو چې بېرته خپل وطن ( گجرات ) ته راشه. دولت خان يو وارې بيا گجرات ته ورغلو نو د ابو تراب په هلو ځلو د مغل والي خان اعظم محمد عزيز کوکه سره معرفي شو. ده پوځي صلاحيت او علم سره، ښه اخلاق هم لرل نو ډېر ژرد مغل والي، نږدې ملگرو او اميرانو کې شامل اود "چله وار" نيمه پرگنه ورله د جاگير په توگه ورکړی شوه. کله چې اکبر باچا خان اعظم اگری ته بېرته راوبللو نوده دولت خان هم له ځانه سره بوتلواو په هغه سفر کې د دولت خان مېراني سندرو ته کډه وکړه.

د اکبر باچاپه تاريخونوکې دا خبره بيابيا کيږي چې ده پښتانه ډېر ونازول اودوي ته يې زمکې او جاگيرونه ورکول خو په حقيقت کې داځايونه دومره لری پرتو سيموکې و چې بل څوک به ورته نه تلل. د جهاړکهنډ ، اړيسه او د بنگال کې په ځينو ځايونو کې دومره گڼ ځنگلونه و چې په هغی کې کور جوړول گران و. په زمکې دکروندې لپاره دوي مجبورو چې په جونگړوکې ژوندوکړي، دختوکلاگانی جوړی کړي او د وحشي ځناورو نه ځان وساتي. هغه زمکه چې پخوا به پکې يوه نه وه گرځيدلي د هغی اړول گران وې او دا هر څه به زيات وخت په انساني مړوکيدل. ځينو ځايونو ته به په مياشتو بهرني خلک نشول رسيدې. اکبر به په افغانانو شک کاواو که څه هم د خپل پلار همايون سره د شېر شاه سوري جنگونه ده پخپله نه و ليدلي خو د هغه پاته شوني افغانان يې ليدل ، چې د هند په ختيځ او جنوب کې يې جنگ ته بدی وهلی





وی.

پښتنو سردارانو زور لگوو چې ددوي جاگير اوزمکې دی په پنجاب کې وي، چې پښتونخوا ته نږدی واو دوي ورته په اسانه ورتلای شول. خواکبرنه غوښتل چې پښتانه په اقتصادي توگه قوي اوبيا سر راپورته کړی. په آيين اکبري کې ليکلي دي چې ۴۵ پرگنی داسی هم وې چې د اکبر پر وخت د پښتنو زمينداراتو سره وې. په دی کې زيات د ډيلي اود اگرې په صوبو کې وې.

اکبردا هم ليدل چې پښتانه په مغل دربار کې ناارمه وي. ددوي لپاره مغلو ته سر ټيټول عيب ښکار يدو. څوک چې به يې دربار کې ځان ته نږدی کړل هغوي چې هر وختی موقع پيدا کړه، تری باغي شول. د سکندر خان سور زوې عبد الرحمان سور او غازي خان تنولي چې په ۱۵۵۷ م کې ده ته تابع شول، د مان کوټ د نيولو نه وروسته په ۱۵۶۰ کې د بېرم خان سره په بغاوت کې شامل شول او په سمبهل او پنه کې يې ورته جنگ پيل کړو. د سلېمان کراني وراره جنېد کراني مغل دربار ته ولاړواو اکبر ورله په "هندان" کې جاگير ورکړوخودې گجرات ته وتښتيدو او په ۱۵۷۲ او ۱۵۷۳ کې يې هلته د مغلو سره جنگ وکړو . گجرات د مغلو لاس ته ورغلو نو دی بهار ته ولاړو او هلته يې جنگ وکړو. د سکندر سور يو بل زوې محمود خان سور او د عادل شاه زوې حسېن خان هم په ۱۵۷۲ م کې د اکبر د دربار نه ووتل، بېرته ورتسليم شول او ۱۵۷۴ م کې تری بيا وتښتېدل.

په مغل دربار کې لږوافغانانو ته مهمی چوکی ورکړې شوی وې. د اکبر ۴۱۵ منصب داران و چې يولس پکې پښتانه و. په آيين اکبري کې ليکلي دي چې هغه وخت ۵۱ هندوان په لوړو منصبونو ټاکلي و. بل خوا د پښتنو لوې شمېر د مغل په پوځ کې د جنگيالو په توگه ځانونه ورگډول او مغلو به ددوي له جنگي صلاحيتونو کار اخستو. دده پاليسي دا وه چې د جنگ لپاره تری کار واخله خو په مهمو عهدو يې مه اخله.

په هند کې بل جنگيالي قام د راجپوت هندوانو و چې اکبر د ودونو د لارې ورسره خپلوي وکړه او لوړې عهدی يې ورله ورکړې . هغه هڅه وکړه چې افغانان د نورو قامونو سره ودونه وکړي او خپلی لونه دوي ته ورکړې خو دا هغه مېدان وچې دی پکې کاميابه نشو. پښتنو په نورو قامونو کې ودونه نه کول. د مغل په پوځ کې د سپرو پوځيانو معاش د نورو سره برابر و او هغه کوماندانان چې ددوي په سرټاکل کيده ، ورسره يې ښه چلن کوو. خو داکبر يو قانون دا وچې يو پښتون عسکر ته به د کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورو زرورو‌پو نه زياتي پېسي نه ورکول کيږي. دا هغه پاليسي وه چې ډير پښتانه پرى خفه و.

په اگرى کې مغل واکمن د دولت خان د صلاحيتونو او پوځي انتظام نه کار واخستو. ده ته يې د شاهي قواو مشر او سپه سالار مرزا خاني سره يو ځاې د پوځي ډلو د جوړولو دنده وسپارله. دولت خان د توري مېړنى و او په جنگونو کې به د سپه سالار سره مله و. په ۱۵۸۸ م کې د دکن سلطان مظفر شاه( درېم )د ځلورو زرو عسکرو سره په گجرات کې د اکبر پاچا پر ضد پاڅون وکړو . اکبر خپل والي عبدالرحيم خان ته د اگرى نه امر وکړو چې تر څو ورته کومک نه وي رسيدلى، هيڅ جنگ ونکړي. خو دولت خان والي ته مشوره ورکړه چې که برى دى ومونډلو نوپه دى کې به نورهم درسره شريک وي، که غواړى چې دخان خانان منصب درسره پاته شي نو پخپله دا جنگ وگټه. عبدالرحيم خان د لښکر ټول انتظام د دولت خان په لاس کې ورکړو چې دا سيمه يې ورته ونيوله . کله چې خان خانان لاهور ته ولاړو نوپه گجرات کې يې خپل نايب دولت خان وټاکلو. وروسته د سنده صوبه هم د دولت خان پر مټ مغل سلطنت کې شامله شوه نو اکبر هغه ته د دوو زرو عسکرو منصب او نور اعزازات ورکړل. په ۱۵۷۹ م کې دولت خان د رنتهمبور په کلاکې و چې دده دوېم زوې پير خان وزيږيدو. راتلونکي دېرش کاله دولت خان دخان خانان په ملازمت کې و او د هغه سره يې دومره نږدى ملگرتيا لرله چې په هر يو جنگ کې به يې دي له ځانه سره بيولو. دى د شهزاده مراد سره د دکن د نيولو لپاره هم ورواستول شو . د مراد د مړينې نه وروسته دى د شهزاده دانيال لوې مله او منصب دار وټاکل شو او د احمد نگر په جنگ کې يې د خپلو دوو زامنو مېا محمد خان او پير خان سره يو ځاې د جنگ په مېدان کې مېړانه وښودله.

پير خان پخپل انتظامي صلاحيت د اکبر باچا د باور وړ شو او په ۱۶۰۰ م کې يې دملتان والي وټاکلو. هغه وخت د پارس باچا په کندهارد حملې گواښونه کول او دوه کاله وروسته کله چې شاه عباس د کندهار په کلا حمله وکړه نو خان جهان دربار ته وبلل شو او ورته په کندهار د يو ناممکن دفاع د تياري لپاره امر ووشو .

دولت خان د يو څه مودى لپاره د احمد نگر والي هم پاته شو. دى په ۱۶۰۱ م کې مړاوپه برهان پورکې يې خښ کړو. دده په مړينې د هغه وخت مورخينو وليکل " که سل دولت خان زيږېدلى واې نو ددى يو د مېړانى سره يې نشو برابرولى". د هغه په مړينې اکبر باچا وويل " نن شېر شاه له دى نړۍ رخصت شو"

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شیخ رکن الدین

۱۶۰۵ م کال دې او مغل باچا اکبر د هندوستان پر تخت پنځوس کاله حکومت نه وروسته د اګرې په کلا کې د ژوند وروستۍ سلګۍ وهي. د ده کټ ته یو خوا دده د امرورور ورور مان سنګه ولاړ دې او بلې خوا ته یې با اعتباره سردار خان اعظم مرزا عزیز کوکه دی. د باچا لمسی شهزاده خرم کله دده کټ ته او کله بهر په دالان کې د نورو سردارانو خوا ته ورځي. ده خپل پلار شهزاده سلیم پسی پیغام وراستولی دی چې په شاهي مانۍ کې سازش روان دی .

مان سنګه او خان اعظم غواړي چې د شهزاده سلیم زوې خسرو دی د اکبر باچا ځاې ناستې اعلان شي. دوي د اکبر باچا هغه خبره پر ځاې کوله چې د خپل زوې شهزاده سلیم د بغاوت پر وخت یې کړې وه. سلیم نافرمانه او کمزورې واو یوځل یې د پلار پو ضد بغاوت هم کړې و. خواوس دی د باچا یواځیني ژوندې زوې او ځاې ناستې و. دسلیم وروڼه دانیال او مراد په دکن کې مړه شوي و. په مغل سلطنت کې د ځاې ناستې قانون نه و او هر څوک چې به برلاسی شول، پر شاهي تخت به کښېناستو. اکبر باچااوس د خبرو کولو هم نه و چې د خپل زوې سره کیدونکې ناانصافي مخه یې نیولې واې. سلیم چې د پلار د ځنکدن خبر تر لاسه کړو نو د اګرې کلا ته وروخوزیدو خو په لاره ورته بل خبر د خپل زوې خرم له خوا ورته راورسیدو چې دده مېرنې وروږخسرومرزا اوس پر باچاهي تخت ناست دی او خلک ورته سر ټیټوي. د هند په سیاست کې هغه وخت دا کار د سلیم د مرګ اعلان و.

شهزاده خرم چې کله خپل ځان هم په خطر کې ولیدونو له کلا یې پښې وویستې. دواړه پلار او زوې په یوکشتۍ کې له جمنا سیند پورې ووتل او نږدې وه چې له اګرې تښتېدلی واې چې د شهزاده سلیم یو منصب دار رکن الدین ورته ډاډ ورکړ چې هم هلته دی ایسار شي. رکن الدین د اګرې په کلا کې دننه څو پښتانه پیژندل او پوهیدو چې هغوي به چرې هم خسرو د باچا په توګه نه مني. هلته سلیم ته پت من کسان هم واو د شپې په تیاره کې د یوې او بلې ډلې خلک په دالانونو کې خپلې پرې ته ځانونه رسول. .





سلیم د رکن الدین مشوره وومنله او هم هلته په انتظارشو. څو ساعته وروسته رکن الدین ته خپلو ملګرو خبر راوړو چې د اکبر باچا پت منو پوځیانو هغه سازش ړنګ کړو او شهزاده خسرو د نورو باغیانو سره له کلا تښتیدلي دې. سلیم ددی خبر په اوریدو د رکن الدین مننه وکړه او کلا ته د خپلو ملاتړو سره وردننه شو. اته ورځې وروسته سلیم د هند پر تخت د جهانګیر باچا په لقب کښیناستو. ورپسې د خپل زوې خسرومرزا د نیولوپاره تر پنجاب ورپسې ولاړو، دی ونیول شو، په اګرې کې یې بند، په سترګو ړوند او اخر د خرم په وېنا په زندان کې ووژل شو. ځینې تاریخي سرچینې واي چې د مارچ په څلورمه په ۱۶۲۲ م کې یوه شپه خرم بندي خانې ته ورغلو او خپل ( میرنـي ) ورور ته یې مرۍ خپه کړه. په بله ورځ د هغه جنازه یې په ډېر درناوي وکړه او په عالم ګنج کې یې خښ کړو. عامو خلکو دده په قبر،ویر او ماتم کوو اود هرې جمعې په شپه به هلته ورتلل. د خرم په امر دده مړې هلته نه وویستل شو او د ګجرات اله اباد ته یې یوړو . کله چې دده مړې کومې ښارېې نه تیریدو نو خلکو به هلته ورله یو زیارت جوړاو چې هره جمعه به ورته خلک ورتلل. په اله اباد کې دده ښکلې مزار اوس هم شته.

رکن الدین د شېر شاه سوري د یو تکړه پوځي کوماندان شیخ عیسا زوې و، چې په خټه بازید خېل و. شیخ عیسا د پیښور او د چارسدی تر منځ د ګیدړۍ نومی کلي اوسیدونکې و. د خپلو خدمتونو په بدل کې ورته مراد اباد او د میرټ تر منځ لویه زمکه ورکړې شوي وه چې هلته یې د خپلو شپږو زامنو، یوسف ، حسن، عمر، خضر ،داود خان او رکن الدین سره څو کلي اباد کړي و. رکن الدین تر ټولو مشر وچې درې زامن او یوه لور یې لرل. د مشر زوې نوم یې کمال الدین، د دوېم عبد الرحمان او درېم یونس خان و.

شهزاده سلیم د باچا کیدو نه وړاندی رکن الدین ته لوړ منصب او لوې جاګیرورکړې واو دی لا پخوا د جهانګیر نږدی ملګرو نه و. هغه ورته د شېر خان خطاب او د دریو زرو او پنځو سوو عسکرو منصب ورکړې و. د دی نه وړاندی رکن الدین د یو ازبک سره ملازمت کوو او په یو جنګ کې یې لاس غوڅ شوی و. ده د پیښورسره نږدې په بازید خېلو کې هم د خپلوانو سره اړیکې نه وې شلولې.

اخوا د دکن په برهان پور کې د لودی دولت خان زوې پیر خان د خپل کور مخی ته په باغ کې ناست و. د ورور دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يتيمان عزيز خان او بهادر خان ورسره و . هلته د مړي د ختم او د دعا نه وروسته خلک خپلو کورونو ته تللي وخو يو څو تنه ايسار و. د ده وروړمحمد خان تري تم و او يواځې د سر وپښته يې په ځنګله کې موندل شوي و چې د پير خان زړه يې له نړۍ تور کړو. محمد خان څو ورځي وړاندی په مجذوب حالت کې له کوره وتلی او په لاره د سيمی ګونډ او بهېل قبايلو وژلی و. پير خان د سيمی له خلکو د ورور بدل اخستی و او ډېر يې له توري ايستلي و. هغه ته د مغل باچا جهانګيرله خوا ايلچي رارسيدلي و . په دکن کې د نورو اميرانو سره پير خان ته هم نوي باچا د يو خلعت، او اس په ورليږلو خپل دربار ته د راتلو امر کړی و. پير خان لکه د خپل پلار دولت خان د توری مېړنی، په ديني علم سمبال واو د ښو اخلاقو خاوند و. دی د برهان پور نه روان شو او مخه يې اوس لاهور ته وه چې جهانګير پکې مېشت و. کله چې دی دربار ته حاضر شو نو باچا ورله د خلعت خاص نه علاوه يو مرصع خنجرهم ورکړو او دی يې پخپلو خاصو سردارانو کې شامل کړو. څو ورځې يې پير خان دربار ته رابللو، د دکن حالات يې پوښتل اوکله چې دده قابليېت يې وليدو نو ده ته يې د صلابت خان ( د اوسپنی په څېر کلک ) خطاب او دوه هزاري منصب ورکړو.

جهانګير باچا په اوړي کې د کابل د سفر هوډ وکړو او پير خان يې له ځانه سره بوتلو . په دی سفر کې به هره ورځ د پير خان صلاحيتونه او د هغه استعداد نه خبريدو. دری مياشتې وروسته چې دی بيرته لاهور ته وګرځېدو نو هلته يې ده ته نه يواځې د خپل زوې ، " فرزند ما " په ويلو د خان جهان خطاب ورکړو،بلکه دده منصب يې پنج هزاري کړو. په ۱۶۰۷ م کې دوي بېرته کابل نه راغلل . جهانګير ملا احمد ته امر وکړو چې د پير خان لپاره يوه خاص انګشتري جوړه کړي . په دی ليکلي و.

" فرزند خاص شاه شداز قدرت الله.

خان جهان مريد جهانګير بادشاه

ښاي دا شعر پخپله د جهانګير وي. په دی موقع پير خان د ځانګړو سوغاتونو سره ولمانځل شو. د مرواريدو لړۍ، اسونه، خلعتونه، دومره چې بېلګه يې چرته نه وه ليدل شوی. له دی وروسته پير خان له خلکو هېر شو او د خان جهان نوم په تاريخ کې پاته شو. په باچا دده اغيز دومره وچې خلکو جهانګير ته که څه خبره رسوله نو خان جهان ته ورتلل چې سفارش يې وکړي.

د باچا کيدوسره ، خپلو پټ منو اميرانو ته د منصبونو ويشلو وروسته جهانګير خپلو دښمنانو ته د سزا ورکولولپاره متې





راونغښتې. د شهزاده خسرو په هغه بغاوت چې د اګری په کلا کې يې د اکبر باچا په مړينې کړی وه، جهانګير داسی فکر کاو چې دخان اعظم پکې لاس و. د هغه سره يې ليدل بند کړل او نږدی وه چې ټول القاب اوامتيازات يې تری اخستی واې چې خان جهان باچا ته د هغه وکالت وکړو، دلايل يې ورکړل ، د هغه د پلار شمس الدين محمد اتکه خان نېکي يې ورپه ياد کړه او دا چې د هغه مور دده څومره خدمت کړې و . هم دده په وېنا باچا د خان اعظم زوړ منصب او جاګير ورته بېرته ورکړل او ده ته د سزا ورکولو فېصله يې بدله کړه.

په دی سازش کې د شهزاده خسرو ماما مان سنګه هم شامل و او جهانګير د راجپوت قام نه دومره زړه تور شو چې ددی د هرغړي د وژلو هوډ يې وکړو. په دی موقع هم خان جهان باچا ته د مان سنګه پخواني خدمتونه ورپه زړه کړل او د راجپوت قام د ښوکارونو او ددوي د مثبت ونډې يادونه وکړه. باچا دا خبره هم وومنله او په دکن کې دمان سنګه جاګير يې ورته بحال کړو.

خان جهان د خپل پلار دولت خان د ملګري خان خانان په اړه هم د باچا په زړه کې رخه ليرې کړه. په هغه دا تور وچې ده عنبرحبشي ته په دکن کې ډېرې پرګنې جاګير ورکړې اوله کبله يې هلته ډېر اغېز پيدا کړې و . هغه له خپلو اختياراتو ناوړی ګټه اخسته . باچاعنبر اګری ته راوبللو او ترينه پوښتنې پېل شوې. خان جهان ډېر په جرات دخان خانان وکالت وکړو . جهانګير ته يې دده د پلار او نيکونو هغه خدمتونه ورپه زړه کړل چې د بابر، همايون او د اکبر په وخت يې په تېرو ځلويښتو کالو کې دده کورنۍ ورته کړي و. داسی ښکاري چې خان جهان په خبرو کې تکړه او د يو وکيل په حېث به يې داسی دلايل ورکول چې خلک به يې قانع کړل.

د جهانګير د تخت پر کښېناستو دريم کال دليپ راې د خپلو اختياراتو نه ورتير شو اونږدی زنداني شوې واې خو د خان جهان په وېنا هغه ته معافي ورکړې شوه. ډېرو نورو امراو خپله خبره دده د لاری باچا ته رسوله او هم دا وه چې باچا غوښتل ده ته د سلطان لقب ورکړې شي او دې د غسل خانې په امراو کې شامل شي. خو هغه دا عهده او لقب قبول نه کړل. دا هر څه د نورو درباريانو او اميرانو د حسد باعث ګرځيدو چې د افغانانو اغېزو ته يې د خطر په سترګه کتل او باچاته به يې د شير شاه سوري وخت وريادوو. يو ځلې امير لاامرا شريف خان د جهانګير د باچاهۍ په شروع ورځو کې ورته مشوره ورکړه چې ټول پښتانه دې د مغل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطنت نه وباسي. ځکه چې دوي د مغلو د دښمن په توگه را زيرېدلي دي. ددی په نتيجه کې د فرمانونود ليکلو کار پيل شو خو بيا خان اعظم باچا ته ددی کار نتيجې په گوته کړې نو لاس په سر شو.

خان جهان په ۱۶۰۰ م کې دملتان والي ځکه وټاکل شوچې ايرانيانو په کندهارد حملې گواښونه کول او دوه کاله وروسته کله چې شاه عباس د کندهار په کلا حمله وکړه نو خان جهان دربار ته وبلل شو او ورته په کندهار د يو ناممکن دفاع د تياري لپاره امر ووشو . کله چې پښتانه خبر شول نو ډېر خلک پرې راټول شول.

دکن د هند جنوبی برخه او د سمندري تجارت يو مهم مرکز و. اکبر باچا دلته څو ښارونه نيولي و چې پکې د ده زوې دانيال حاکم و. ددی سيمې ساتنه په دی گرانه وه چې ځاي قبايلو د مغلوواک نه منلو . د دانيال د مړينې نه وروسته د جهانگير بل زوې شهزاده سلطان پرويز دی سيمې ته ورواستول شو خو هغه هم ناکامه شو. هلته دعنبر اولس راپورته کړی او د مغلو ډېری زمکې او پرگنې يې نيولې وې. باچا دپورا دکن سيمه نيول غوښته اوځينوامیرانو ورته مشوره ورکړه چې خان جهان د دکن سره بلد و نو پکار ده چې د شهزاده پروېز د پوځي مشاور په توگه ور سره ولاړ شي. باچا په دی خوشاله نه و ځکه خان جهان له درباره لېرې لېږلو ته يې زړه نه و خو داخبره يې وومنله. ښاي نورو درباري اميرانو غوښتل چې خان جهان له باچا ليری شي او په دی توگي يې اغيزه کمه شي.

د دوو مياشتو د سفر نه وروسته خان جهان د مغل پوځ د تازه ډلو سره برهان پور ته ورسيدو اود دکن د لومړي جنگ لپاره يې مورچې ونيولې. د عنبر جنگيالي د سيمې سره بلد او چريکي جنگ يې کوو. ده سره په لوی شمير برگي قبايل مله و. يو وخت هلته د سختی گرمۍ له کبله په مغل لښکر کې د خواړو او د اوبو کمی پېدا شو . خان جهان د نواب سپه سالار او نورو امراو سره د بالا گهاټ سيمې د يوکلي په څنډو ايسار و . ځاي خلکو وربانډی غله او نور شيان ډېرگران خرڅول . څو ورځې وروسته برسات پيل شو او خواړه نور هم کم شول . د شاو خوا برگي قبايلو به په نهرو مغلو پوځيانو حملی کولی تر دی چې د پوځ مورال راټيټ شو او د يو بل سره به ونښتل. خو عنبر ددی موقع نه هيڅ گټه وانخسته او د صلح لپاره يې خواست وکړو. شهزاده پروېز او خان جهان صلح ته راضي نه و خو اخر يې حالاتو ته وکتل او په دی شرط روغه





وشوه چې د شهزاده دانيال پر وخت چې د بالا گهاټ نه احمد نگر، جالنه او مونگي پټن پوری کومې پرگنې وې هغه دی بېرته دوي ته ورکړی شي.

د روغې نه وروسته شهزاده پرويز برهان پورته مخه کړه او څو ورځووروسته د جهانگير په امراگرۍ ته روان شو. د دکن ټول مالي ملکي او پوځي اموريې خان جهان ته وسپارل چې ترېوکال يې دا دندې سر ته ورسولی. په برهان پورکې د کومو خلکو زمکې چې د برگيانو د بغاوت پر وخت ددوي له لاسه وتلی وي، خان جهان هغه بېرته ورله ورکړې . خو جهانگير د دکن د حالاتو نه مطمين نه وځکه په دربار کې د هغه مغل اميرانوورته غوږ کې دا خبره څڅوله چې دومره لويه سيمه دپښتنو په لاس کې نه وه پکار. باچا، خان اعظم ( مرزا کوکلتاش) دکن ته ورواستاوچې د خان جهان نه ټول انتظام پخپل لاس کې واخلی. داسې ښکاري چې يا خو جهانگير وربانډې اعتماد نه کوو او يا بيا ددکن انتظام يواځې خان اعظم کولې شو ، باچا اوس هم عنبر ته سزا ورکول غوښته او فرمان يې جاري کړو چې د شمال لوېديځ نه دی په دولت اباد حمله ووشي.

د دکن ددوېم جنگ تياري وشوه. شهزاده پروېز او خان اعظم يوی خوا، او خان جهان له بلی خوا نه د برگيانو د حملو د مخ نيوي لپاره ورغلل. په دی غرنۍ جنگ کې شلو زرو برگيانو چريکي جنگ کاو چې د غرونو په غارونوکې يې بارود اووسله پټه کړې وه . کله چې خان جهان د خپل پوځ سره "ديهاري" ته ورسيدو نو هلته ځاي اوسيدونکو ورته مورچې نيولی وې. خان جهان په يوه بله لاره بالا گهاټ ته ورسيدو. هغه وخت دې وړاندی، د مان سنگه پوځ په منځ کې اوراجه صورت سنگه د خان اعظم سره ورپسې و. په سخت باران کې دوي وروورو دولت اباد ته وخوځيدل. اخوا هغه ځواک چې د عبدالله خان فدوي په مشرۍ کې دوي سره يوځاې کيدو، له وړاندی رسيدلی و خو انتظار يې ونکړو اوپخپل مخ سر د دولت ابادنيولو لپاره روان شو. په لاره کې د يوی تنگۍ دری نه د تيريدو پر وخت د عنبر پنځوسوزرو عسکرو وربانډی حمله وکړه . دوه دری ورځې سخت جنگ کيدو خواخر مغل تېښتې ته اړشول.

دمغل د پوځ مشرانو اوس د يونوی جنگي پاليسې لپاره مشوره وکړه. مان سنگه او نورو ويېل چې د برسات او د خوراکي موادو دکمې له امله پکار ده چې دوي بېرته برهان پور ته ولاړ شي. خو خان جهان ويل که تاسو بېرته ځئ نو ولاړ شئ، زه نه شم تللې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځایه ځو میله شا ته په " ترتم" نومی سیمه کې د مغلو یو بل لښکر پروت و. مان سنګه خان جهان ته مشوره ورکړه چې دې دی د هغه لښکر سره یو ځاې وړاندی ورشي. خو خان جهان په دی هم راضي نه شو، بېرته ګرځیدل ورته ناځواني ښکاریده. اخر ټولو ورته مینت زاری پېل کړې او په بله ورځ دی ترتم کې د خواجه ابوالحسن د لښکر سره یو ځاې شو. درې شپې هم هلته د برګیانو له خوا وربانديې ګولۍ وریدې خود دکن د جنګ څه فېصله نه کېده او خان جهان د یولوې حملی لپاره ناقراره و. اخوا د" ملکاپور" نه ورپسی بیا بیا د شهزاده پرویز او د خان اعظم لیکونه راتلل چې برګیانو سره جنګ مه کوئ. مان سنګه او خواجه ابوالحسن پوهیدل چې دوي د شهزاده خبره که وونه منله نو ورته جنجال جوړیږي. خان جهان ورته وویل چې ماته باچا د دکن د نیولو امرکړې دې او زه اختیار نه لرم چې بېرته ولاړ شم. اخر مان سنګه او خواجه ابوالحسن باچا ته یو لیک ورواستوو چې خان جهان بېرته ګرځیدو ته تیار نه و خو ددی امکان نشته چې دومره لښ. پوځ سره دی دکن فتح کړو. که مقابله وشوه نو نتیجه به زمونږ. ماته وي. که باچا سلامت زمونږ. په بېرته ګرځیدو خفه کیږي نو ددی پړه مونږ. پخپله غاړه اخلو.

په هغه ورځ د خان اعظم له خوا هم یو لیک راغی چې د بیجا پور حاکم عادل شاه دکهني په یو لیک کې د صلح خواست کړی دې نو ځکه ده دمغلو ټول لښکر ته د بېرته راستنیدو امر وکړو. د روغی نه وروسته خان جهان برهان پور ته ولاړواو هم هلته پاته و، تر څو شهزاده پروېز د خان اعظم په مشوره ور ته د خلعت او نورو امتیازاتو سره د "بیرار" انتظام وسپارلو. باچا هم په دی فېصله خوشاله واو هغه ته یې د لیک سره ځیني پرګني په انعام کې ورکړې. خان جهان ډېره موده په بیرار کې پاته شو دده د علم سره مینه وه او لوې شمېر د تصوف کتابونه به ورسره و چې دده په محفلونو کې به خلکو په زوره ولوستل او وربانـدی به تبصری کیدی.





## جهان او جهانګیر

په ایلچپور ( دکن) کې د لمر خاته سره خان جهان د خپل کور نه بهر دیوان خانی ( حجری ) ته ولاړو چې په یو باغ کې یې جوړ کړې و . هلته ځیني خلک دده سلام ته حاضر شوی و. دوي یې رخصت کړل نو هغه چار واکي چې د حکومتي کارونو لپاره ورغلي و،ده سره کښېناستل. د دکن د بیلا بیلو سیمو د پوځي امورو په اړه خبرونه ورته واورول شول. یو څو مهمو لیکونو ته د ځواب لپاره یې هلته ناستو علماو نه مشوره واخسته اودری ساعته وروسته دی بیرته کور ته ورغلو. هلته د کورد غړو سره یې ډوډۍ وخوړه، په جومات کې د ماسپښین له لمانځه وروسته بیا دیوان خانی ته ولاړواو پاته کارونه یې سر ته ورسول. نن ماځیګرله لمانځه وروسته په باغ کې د کفترو د الوت سیالي وه او ډېر خلک ورته راټول و. د ماښام د لمانځه پر وخت جمع وشوه او خلک خپلوکورونو ته ولاړل. خان جهان بیا په دیوان خانه کې کښېناستو او دخپل استاد مولانا ابراهیم سره د نویو کتابونوپه اړه خبری وکړې. په ځینومسایلو یې ځان پوه کړو او هغه سره د شپې د ډوډۍ خوړلو وروسته کور ته ولاړو. ده په وونی کې یوځل د ښکار لپاره ټاکلی وه او په یو تېز رفتار اس سپورد ملګرو سره به ځنګل ته تللو. یو کال او نهه میاشتې په برار کې یې تېر کړل نودجهانګیر باچا لیک یې تر لاسه کړو، چې زه درپسې خفه شوی یم بیرته دربار ته راشه.

د خان جهان وکیل بهګوان داس نومیدو . هغه ورته وویل چې اوس د خریف د فصل اخستو وخت دی او په داسی وخت کې ستا ورتلل به د اولس لپاره ستونزې جوړی کړي. ښه به دا وي چې د یوی میاشتی لپاره خپل سفر وځنډوه. خان جهان په دکن کې مغل سپه سالار ته لیک ورواستاو، نو هغه د اګری دربار ته عریضه ولیکله چې تر څو ددی صوبی ټول کارونه په پورا ډول سر ته ونه رسیږي او په دی تسلي وشي چې هر څه سم دي، خان جهان ته دی هم دلته د پاته کیدو اجازه ورکړې شي. ددی عریضې څو ورځې وروسته د شهزاده سلطان پروېز عریضه هم وړورسیده. باچا دواړو ته ځواب ورکړو چې که داسی ده نو پیر خان دی په دکن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایسار شي.

وروسته یوبل فرمان یې خان جهان ته وروستاو چې د تهانېسر ضلع ( ولسوالي) په غرونو کې دکول او بهېل زات ډاکوانو کورونه جوړ کړي دي او خلک په ازاروي. داسې مې اوریدلي دي چې بهادر ګجراتي هم دکن کې د ورننوتلو هوډکړی دی نو ضروري ده چې ته هلته ورشې او د بیرار د پرګنو په بدل کې هلته ځان له پرګنې واخلې. کله چې شاهي فرمان وورسیدو نو خان جهان دا شهزاده پرویز ته ښکاره کړو او د هغه په اجازه تهانېسر ته روان شو. د مغل باچا له خوا د یو امیر دبریالیتوب لمانځنه او د نوری زمکې د هوس دا یوه بېلګه ده. نه یوائې دا چې پښتانه، بلکه نور هم د ارامه او ځوکاله سیمو نه یې لیرې کړل، او هغو سیمو ته به یې وروستول چې پکې ناارامي وه. هغه پرګنې ( زمکې او کلې) چې پښتنو به اباد کړل، له دوي به یې واخیستل او بل ځاې به یې ورله زمکه ورکړه. خان جهان تر یوکال د تهانېسر په یوځې کلا کې پاته شو او د باچا امر یې پر ځاې کړو. بل کال یې بیا برهان پور ته وراستاواوپه دی موده کې ځو واري قیمتي خلعتونه او اسونه د تحفې په توګه وروليږل.

خوجهانګیر د دکن د حالاتو نه راضي نه و او غوښتل یې چې پخپله ورسره ووینې. خان جهان پسی شاهي فرمان ولاړو چې ځومره ژر کولی شي دربار ته حاضر شه. باچا په دی وخت کې په اجمېر شریف کې لنډ محال پلازمېنه جوړه کړی وه. د لاری فاصله دولس سوه میله وه او خان جهان د دویشتو ورځو د سفر نه وروسته اجمېر ته و رسیدو. هلته دده هرکلي چې په کوم ډول وشو ددی ټول حال د حیات افغاني لیکوال په دی ډول بیان کړي دی.

دی لا اجمېر ته نه و رسیدلی چې شهزاده خرم ورته یو عراقي اس او نوری تحفې وروستولی. د ښار نه بهر باچا ورته خپل خسر مرزا غیاث الدین بېګ ( د ملکې نورجهان پلار ) د هغه زوی مرزا ابوالحسن اصف الدوله (د خرم خسر ) او نواب مهابت خان د هر کلي لپاره واستول. دوي ځومیله وړاندی پخپله خوښه د هغه سره بدرګی لپاره ورغلل. د باچا سره د لیدو لپاره د ماځیګر د لمانځه نه وروسته وخت وټاکل شو دوي یې د اجمېر سره نږدې په ګورشاه کې یو ښکلی اراسته مکان کې ایسار کړل. ملکې نورجهان د ایراني مېوو ځو طشته چې په هغه ورځ ورته د مشهد نه رسیدلي و، او په شاهي مطبخ کې تیار شوي ځو ډوله خواړه د غرمې د ډوډۍ لپاره د سوغات په توګه وروستول. د ماځیګر د





لمانځه نه وروسته پیر محمد د ځوځوانانو په بدرګه د یواراسته پیل اوبیلا بیلو سوغاتونو سره د باچا په خدمت کې حاضر شو . دلته باچا په دارلامارات خاص و عام کې چې د محل بهرنۍ غولی و د عامو خلکو په وړاندی راتلو او د عوامو سلام او درشن به یې ورکول. عامو خلکو ورته سوغاتونه ، هاتي، اسونه، اوښان او غوایان د ډالی په توګه او منصب دارانو او سرکاري اهکارو د خپلو خپلو سیمو رپورټونه وړاندی کول. دا چلن د اکبر باچا له وخته رواج شوی و. بیا لیکوال وایي.

"کله چې نواب (پیر محمد) دی دیوان کې وردننه شو نو باچا یې له لیرې ولیدو او سر یې ورته ټیټ کړو. د باچا او دده تر منځ د یو غشي د ویشتلو فاصله وه چې نیم فرلانګ کیږي. د باچا د غږ په اوریدو، دی هغه ځاې ته ورسیدو چې "کلان بار " نومیدو او یواځې وزیران او نور امرا به پکې ولاړ و. نواب هلته باچا ته دري واري ( فرشي) سلام وکړو، هغه ځاې چې د ګلانو سبج ( دکانچه) ورباندی جوړ و او خلکو به باچا ته سجده کوله، هلته یې ورته سجده وکړه. د شاه د محفل بساط ( فرش)یې په ادب بوسه کړو. هلته چې باچاپه جهروکه ( ګېلري) کې ناست واشاره یې ورته وکړه چې بره راوخېژه. خواجه ابوالحسن چې د بخشي ګري په لوړ مقام ناست و د چغتاي دستور سره سم د نواب لاس ونیولو، بره یې بوتلو او د باچا د پښې د ښکلولوشرف یې ورته ورکړو. باچا پخپلو ګوندو ودریدو او نواب ته یې غیږه ورکړه. بیا یې دده تندی ښکل کړو او حال یې وپوښتلو. بیا دی ( خان جهان) د جهروکې نه راښکته شو او پخپل ځاې ودریدو او دری ځلی یې بیا ورته ټیټ سلام او دري سجدی وکړي.

خان اعظم چې پخپل ځاي ناست و راپاڅیدو او د نواب له خوا ورته ځلور لعل ( یاقوت) پینځه لوي مروارید او سل جهانګیري اشرفي ډالی کړي او د شهزاده پرویز سلام او سجدات یې ورته وړاندی کړل. باچا به بیا بیا ترینه د سفر حال احوال پوښتلو تر ځو چې نورو کارونو ته یې هیڅ پام ونکړو.

کله چې لمر پریوتو نو د ځوکیدارانو او د محافظانو سلامي وشوه او ( باچا) د ماني دننه دولت خانه کې چې دیوان خاص نومیدو ولاړو. په سر کې شهزاده خرم ورته حاضر شو . بیا نور ارکان دولت، خان اعظم، نواب خان جهان اعتمادالدوله ( غیاث بېګ) مهابت خان،خواجه ابوالحسن میر بخشي او ځیني نور ملګري . هلته هم ټول وخت د پیر محمد نه یې د سفر د تکلیفونو پوښتنې کولی . یو ساعت وروسته د دکن په معاملوبحث پیل شو. باچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل، دا څوکاله کيږي چي زما په زړه کي خواهش دی چي ټول دکن دی ونيسم، نوضروری ده چي ددی صوبی ټول حالات دی راته بيان شي. مثلا دا چي شاهي پوځ کله چي په لومړي ځل په بالا گهاټ حمله وکړه نو بي له جنگه ولي بيرته وگرځېدو. دوېم ځل چي د عبدالله خان کومک وونه رسيدو نو ددی سبب څه و، او پوځ لپاره بېرته برهان پور ته د راگرځيدو فېصله، په تېره بيا مان سنگه دا فېصله په کوم مصلحت وکړه. د دکن د نورو معاملاتو د سر ته رسولو لپاره نواب سپه سالار( خان خانان) څه هلی ځلی کوي. پير محمد ډېر په احتياط باچا ته ټول حالات وويل. په دی مجلس کي يو تن د خان خانان مخالف و ده وويل تر څو چي خان خانان هلته موجود وي د دکن يوه معامله به هم سمه نه وي او دا صوبه به چری هم د مغلو لاس ته ورنشي. دی سړي نور هم غوښتل چي د خان خانان سپکاوې وکړي خو پير محمد خپل دلايل پيل کړل او وې ويل د دکن په معاملو په داسی محفلونو کي بی له سوچ او فکر خبری کيږي او هغه خلک چي داسی خبری کوي هيڅ د حالاتو نه نه دي خبر، که نه دخان خانان په وفا او کار کي هيڅ شک نشته. ځيني امرابی احتياطه دي او د دی خبرې نه د دکن واکمنو پوراپورا گټه اخستی ده . د دکن خلک په خلاص مېدان کي جنگ نه کوي، چي د شاهي پوځ ځوانان ورته خپله مېړانه وښاي. هم دا ده چي دکن نه فتح کيږي. خان خانان په دی گرم نه دی ځکه د هر کار لپاره يوخاص وخت ټاکلی وي. باچا وويل زه دا دی لس کاله کيږي چي په تخت ناست يم . د هغه وخت راهيسي تر نن پوری می ډېر خلک دکن کي وټاکل ، لويه سرمايه مي خرڅ کړه خو د دی سره هلته حالت د لومړي ورځي په ډول دې. هر څوک چي راځي واي چي خان خانان هيڅ گناه نلري. ښاي دا خلک پخپله په حالاتو نه دي خبر که نه د زړه نه يې هڅی کړې وې نو دا سيمه به يې نيولی وې.

په دی وخت کي شهزاده خرم خبره راوچوله چي خان خانان د دکن امورو ته پام نه دی کړې . پلار ته يې وويل که اجازه وي نو زه به د گجرات له خوا او سلطان پروېز به د دکن ( جنوب)له خوا پوځ کشي وکړي نو زما باور دی چي دا سيمه به ونيسو. ددی په ځواب کي خان جهان وويل شهزاده دی ژوندې ووسي، هغه د باچا مشر زوې او ځاې ناستې دې او د ډېرو کلونو نه په دی صوبه کي هڅه کوي. خانخانان دده اتاليق دې که دی د گجرات له خوا د دکن د نيولو لپاره ولاړو نو ددی دواړو زړه به مات شي چي گني دوي ددی کار جوگه نه دي. زما باوردې چي تر راتلونکي کال به د





دکن مهمات پورا شي. او شهزاده ته يې وويل تا ته دا مناسبه نه ده چي د خپل مشر ورور په اړه داسی خبری وکړې چي گوندی دکن ته پام نه کوي."

د حيات افغاني دا ليکنه د مغل دربار د غورځو پرزو او د دربار د سازشونو يوه انځوروړاندې کوي. جهانگير يو عېش خوښوونکې، نازولې او جاه طلب انسان و. دزمکو نيول دده ارمان واود هند چار چاپېره يې لښکرى لېږلې چي ملکونه ورته وونيسي. دده اته سوه ښځې وې چي ځيني نکاح شوي او نورې مينځې وې. په دی مجلس کي شهزاده خرم پخپل مشر ورور اعتراض کوي چي د پلار زړه ترې بد شي. د تخت د وراثت په اړه د نفرت زړي په دی محفلونو کي به کرل کيده. ښاي د خان جهان له خوا د شهزاده پروېزدفاع د خرم په زړه کي رخه اچولې وي چي پايله يې د هغه په وژنه تمام شوه.

په بله ورځ د خان جهان کور مخی ته گڼ خلک راټول و . د خپلو خپلوانو نه علاوه د هری طبقي کسان هغه ته د سلام لپاره ورتلل. د باچا ترور، (د اکبر باچا لور ) خان جهان ته د رنگارنگ خواړو، ميوو او شيرينيو سل د سروزرو او سل نقری طشتونه د غرمي ډوډۍ ته ورواستول. په ټول ښار کي ددی ډوډۍ کيسی کيدي. تر دی وروسته باچا به هره ورځ ده ته خلعت او سوغاتونه ورکول . په دی کي اسونه، جواهرات او نور شيان شامل و. تر ټولو هغه قيمتي او ښکلی اس و چي د ايران باچا شاه عباس حسېني د خپل سپرلي لپاره د عراق نه راغوښتی او جهانگير ته ورواستولی و. شهزاده خرم چي د اسونو شوقي و، ډېر وغوښتل چي د پلار نه دا اس واخلي خو وريې نکړو هغه دا اس د خپل سپرلي ته ساتلي و خو او س يې دا خان جهان ته ورډالۍ کړو.

مغلو د دکن او هلته اوسېدونکو په اړه ډيرمعلومات نه لرل چي دا سيمه له نور هند نه توپير لري.

دکن ( دکهشڼ ) په سانسکرت ژبه کی جنوب لوري ته وايې ځکه چي داسيمه دهندوستان د گنگا د وادۍ په جنوب کی پرته ده . که څوک د هند نقشه وگوري نوددی په جنوب کي يولوئ مثلث په سمندر کي غزېدلی دی. همدغه ددکن سيمه ده چي د يو لوې مېزپه شان دغرونو د دريو سلسلو په مينځ کی راښکېل شوې ده . ددکن د لوېديځ او ختيځ ساحلونه چي په ځايي ژبه کي ورته گهاټ وايې دوه سرحدونه لري . چي د سمندر نه ورپورته د هند ترجنوب پوری رسيږی. ددغې سيمې د لوېديځی غاړی غرونه لوړدی او د جنوب لوېديځ نه د لمدې هوا مخه نيسی. هم دا ده چي دلته باران لږ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارچ له میاشتې بیاد جون ترمیاشتی پورې پکې هوا وچه وي. د دکن ختیځه برخه ټیټه ارتفاع لری ، له جون بیاداکتوبر تر میاشتې د باران اوبه پکی په بخاربدلیږي. زیات سیندونه یې وروسته په بنګال خلیج ور ګډیږي خو په اوړي کې وچ شي.

مرهټه د هندي اریاي نژاده خلک دي. چې زیات تره د هند د اوسني مهاراشټره ایالت کې اوسیدل. دوي په وولسمی او اتلسمې میلادي پیړی کې د هند په جنوب ختیځ برخه کې ځان له سلطنت جوړکړو. دوي ته کله کله کهشتریه جنګیالي هم ویل کیږي او ژبه یې مراټهي ده. مرهټه توری په عام ډول د مهاراشټره کې اوسیدونکو لپاره چې په مراټهي ژبه خبری کوي کاریدله خو مراټهي ژبه نور قامونه هم واي ځکه دا د مرهټه تعریف نه شي کېدې.

مها په سانسکرت کې لوې او راشټي یا راشټه د ځاې یا د قام لپاره کاریږي. په دریم ..ق.م پیړۍ کې د اشوکا راجه پر وخت په ځینو لیکنو کې د راشټریکا ( راشټرک، راشټریه ) خلکو زکر شوی دی چې په دکن کې اوسیدل. د مرهټو ۹۶ قامونه و چې هر یو یې بیلا بیل نومونه لري.

د دولسمی پیړۍ نه وړاندی ددوي بېلا بېل مشران و خو په وولسمې پیړۍ کې دوي د چتر پتې شیواجي د مشرۍ لاندې یو شول او په لومړي ځل دوي ځان ته د هند په جنوبي ساحلونو یو سلطنت جوړ کړو . د هغه د مړینې نه وروسته د مرهټو مشر به پېشوا نومیدو او د مغلو او نورو قامونو سره به تل په جنګ و.

په ١٤٨٢م کی د مسلمان بهمني سلطنت په ټوټی کیدودکن په پینځو مسلمان واکمنو ریاستونووېشل شوې و،چې ګولکنډه، بیجا پور، احمد نګر، بیدر، او بیرار نومېدل. د دکن په زیاتوځایونو کې د لرغونو مرهټه واکمنو له خوا، کلا ګانی او حصارونه جوړ شوي وو. پردغوکلاګانومسلمانانوداسی دفاعي برجونه ور زیات کړل چی له بهر نه د حمله کوونکولپاره یې نیول ګران وو. د دکن بهمني واکمنو د پارس (ایران) ، ترکي او ځینو اروپایي ملکونو سره تجارتي اوسفارتي اړیکي ټینګی کړی. برهان پور د ململ ټوکر، ګلداره ورېښمو او کمخواب چی د سرو زرو په تار به اوبدل کېدو، لپاره نوم لرلو او له دی ځایه به پارس، مصر، ترکیی، روسیې او پولېنډ ته استول کیدل .

دی مسلمان واکمنو د خپلې ساتنې اودفاع لپاره دختیځې او شمالي افریقې نه مرئیان راوستل اوهمداسې به بی شمیره عرب او ترک تجاران او عالمان د سمندر له لاری دکن ته ورتلل. خو د





فارس اغیزه پرې تر ټولو ډېره وه . د بیجا پور یو واکمن یوسف عادل شاه چی ماشومتوب یې په فارس کې تېر شوی و، د پینځلسمی پیړۍ په پای کې دجمعی په خطبه کې شیعه د دکن سرکاري مذهب اعلان کړ.

په دکن د مغلو حملې د اکبر باچا پر وخت پېل شوې وې. دده زوې شهزاده مراد د احمد نګر ښار تر دوو کالو کلا بند کړې و چې ددی نامتو ملکې چاند بي بي ورسره مقابله وکړه. چاند بي بي د خپل ماشوم زوې د سرپرستی په توګه حکومت کاو . خواحمد نګر په کورنۍ جنګونو دومره کمزوری شو چې اخر یې روغه وکړه او مغلوته د باج ورکول یې وومنل. د اکبر بل زوې دانېال هم هلته مړ شوې واوبیا د جهانګیرزوې پروېز د ټول دکن په نیولو کې پاته راغلې و.

د وولسمی پیړۍ په سر کې مغلو په برهان پورکې خپله پوځي چاونۍ جوړه کړه. هغه وخت دا ښار په اتلس کلومیټره مزکه کی غزېدلی وو. په ۱۶۱۶ م د نومبرپه میاشت کې مغل پوځ د شهزاده خرم په مشرۍ د دکن د نیولو لپاره روان شو. دې د خپلې نازولې مېرمنې ممتاز محل او اولادونو سره د برهان پورپه کلا کې ایسار شو. دده مرستې لپاره په سیمه کې پاته مغل پوځ هم فعاله شو او په څو کالو کې بهمني سلطنت ړنګ شو. شهزاده خرم ، عبد الرحیم خان خانان د دکن صوبه دار وټاکلو او دده د کومک لپاره د مغلو دېرش زره سپاره، شپېته زره پلي پوځ یې هلته وساتل. د دکن نه خرم ډېر مال و زر تر لاسه کړل. په دی کې دوه سوه پیلان چې دری پکې د سرو زرو او نهه په نقرۍ ساز اراسته و. ددی ځاې نامتو پیل "سرنات" نومیدو چې هغه وخت یې بیعه یو لک روپۍ وه. خرم دا مال اسباب خپل پلار ته ورواستول . ددی ټول مال او دولت اندازه ۲۲ لکه او شپېته زره روپۍ لګول شوې وه چې دوه لکه جهانګیرباچا خپلی نازولی ملکې نورجهان ته او شپېته زره یې د حرم نورو مېرمنو ته ډالۍ کړې.

خان جهان د جهانګیر یومهم مشاور و او باچا به د هغه مشورو ته درناوې کاوو. داسی وخت و چې خان جهان به په اس ورختلو نو جهانګیر ده ته لاس ونیولو او په اس یې سپور کړو بیابه یې ورپسې ووژړل . د جهانګیر په دربار کې اروپاي سفیرانو هم دخان جهان د اغیزو زکر کړې دې. په ۱۶۱۶ م کې "لارډ ټېرې" د جهانګیر په دربار کې و اووی لیدل چې باچا، پیر خان ( خان جهان) زما د زړه مالک، سلطان ، نواب(لارډ) په توګه مخاطب کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







## دریا او جهان

د پېښور په سویل کې د بربرو نومی کلی ملک ابراهیم خان داود زي پخپله حجره کې ناست دی یو ماشوم په منډه راځي او ده ته خبر ورکوي چې اسونه راروان دي. د ملک ابراهیم په سترګو کې د خوشالۍ رڼا لیدل کیږي، خپل کشر زوی نېکنام ته اشاره کوي او دی سمدلاسه کور لوري ته ورځي چې پر ښځو د مساپرو د ډوډۍ غږ وکړي. هلته چا د وړاندی نه د کور له بامه خېبر لوري ته ګرد او دوړی لیدلي دي او ښځې د خاورو په لویو لویو خانکونو کې د اوړو په اخښلو بوختی دي ، ماشومان چرګانو پسی منډې وهي او ښځو ته یې رانیسي چې پښې ورله تړي. د نېکنام مور د کلي قصاب کره ماشوم ورلیږي چې ژر ورله غوښه راوړي. په حجره کې ناست ټول کسان د ابراهیم خان سره یو ځای بهر پټیو ته روان شول دری ځوانان د ځارویو د یوی جوپې مخی ته په اسونو راځغلي، د لیرې نه د خپل کلي خلک ویني نو اسونه هم هلته په شنو پټیو کې پرېږدي او پخپله رامنډه کړي.

تر ټولو وړاندې د ابراهیم خان مشر زوی دریا خان دی چې د راتلو سره د پلار په پښو لویږي. پلار یې غیږي کې نیسي او له تندي ورله خوله پاکوي. ور پسی دده بل ورور عثمان خان دی چې ابراهیم ده ته هم غاړه ورکوي او سترګی یې د دریم زوی لټه کوي . هغه سپین ږیري او ځوانان چې ددی قافلې د هر کلي لپاره راوتلي و دوي بدرګه کوي. د کلي ټول ماشومان هغه وخت بهر په شین مېدان کې ددی اسونو ننداري ته ورغلی دي. د ابراهیم خان سترګي اوس هم د خپل دریم زوی زکریا خان په لټه کې دي اخر دی ویني چې تر اوسه په اس سپور دی. او یو بل کس دده د اس قېزې نیولي ورسره پلی روان و. ابراهیم خان پوهیږي چې زوی یې یا ناروغه او یا ټپي دی. د حجرې نه دوه کسان یو کټ ورزغلوي او ابراهیم د زکریا اس ته نږدی ورځي. د هغه رنګ ژیړ وي او د دوو کسانو په مرسته چې له اس کوزیږي نو پلار ته یوه شېبه دریږي خو په پښو کې یې طاقت نه وي او ژریې په کټ څملوي چې وربانديې نوی ملتاني څادر غوړیدلی و. ابراهیم ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده پر مټ تړلي پټکي د نسواري رنګ داغ وينې نو پوهيږي چې دی ټپي و. د کلي ډم ته خبر ورکوي او دريا خان پلار او نورو ته د هغه د ټپ کيسه کوي.

په هغه ماښام تر ناوخته دابراهيم خان حجره اباده وه او خلکو ددريا خان له خولې د هغه د بلخ د سفر کيسه اوريده. دا درې واړه ورونه مياشت کيده چې د خيبر نه وراخوا ادينه چې اوس ورته جلال اباد ويپل، د لارې کابل او بيا له هغه ځايه بلخ ته ورغلي و. ددی نه وړاندې دوي به د باجوړ له لارې د بدخشان غرونو ته ورتلل او هلته نه به يې اسونه اخستل. څو ورځې په پېښور کې له دمې وروسته پنجاب ته به يې ووړل او خرڅول. خو اوس د جهانګير په باچهۍ کې د خيبر اپريديانو ددی تاريخي درې لاره قافلو لپاره خوندي کړې او مغل باچا له دوي سره روغه کړې وه. هم دا وه چې دريا خان د خپل پلار په اجازه سږ کال پخپله په دی لاره داسونو د پلورلو لپاره يو لوې تجارتي قافلې سره بلخ ته ورغلی و. د پېښور يو پراچه تجار هم ورسره و چې د پيسو په حساب او د معاملې په کولو پوهيدو. دريا خان اوس د سيمې د سيندونو غرونو او د درو نه ښه بلد شوې و.

د بربرو په کلي کې څو ورځې د دريا خان د سفر کيسې کيدې هغه اسونه چې ده راوړي و ښه چاغ او ښکلي و. د کلي په شنو مزکو ورته د خسماني او ساتنې بندوبست شوې و. مياشت وروسته دريا خان ددی اسونو سره د پنجاب په لوري روان شو. په يوه ورځ کې د اباسين او د کابل سيندونو سنګم ته ورسيدو . په سيند اوس دوه د لرګي پلونه تړل شوي و چې يو يې د څاروو او اسونو او بل يې د پلي خلکو لپاره و. د اکبر باچا له خوا جوړ د اټک سره دنوي کلا شاو خوا، د مساپرولپاره شير شاهي سرايونه اوس هم اباد و. درې ورځې وروسته دوي د پنجاب په کسور کې دمه وکړه چې د اسونو لويه منډۍ به پکې جوړيده او د خويشګو پښتانه به ددوي کوربانه و.

دريا خان يو څواسونه دلته خرڅ کړل خو دوه ورځې وروسته د اګرې په لوري روان شو. د پنجاب په شنو مېدانونو کې اسونه نور هم ښه شول خو په لومړي ځل دی اسونو په ګرمۍ هوا کې ساه واخسته . په عامه توګه د اسونو تجارانو به داوړي په ختمېدو اسونه هند ته اوړل خو دريا خان په دی باور و چې لکه د انسانانو څاروي هم د هوا سره ځان عادتولی شي.

په اګرې کې دده د رارسيدو خبر د جهانګير باچا په دربار کې شيخ رکن الدين ته هم ورسيدو . هغه پخپله هم نورو اسونو ته اړتيا





لرله او کله چې د دريا خان سره مخ شو نو د هغه د شرافت او د مېړانې نه ډېر اغېز من شو. دده په تندي کې د فراست او د پوهې نښې يې وليدې او د اسونو د خرڅولو نه وروسته يې دريا خان ته بلنه ورکړه چې له ده سره بسي ته ورشي. په بسي کې هغه وخت رکن الدين ښه ډېر کورونه جوړکړي و. يوه ورځ او د شپې د سفر نه وروسته دوي بسي ته ورسيدل . رکن الدين خپلو مېلمنو ته ښه درناوې وکړو. په بسي کې مساپر پښتانه ټول دريا خان نه تاويده او نه يې غوښتل چې دی هندوستان نه بيرته خپل کلي ته ولاړ شي.

ښاي د دريا خان شخصيېت او يا دا چې رکن الدين په سيمه کې نورو پښتنو د ابادولو ته ليواله وچې ده ته يې خپله لور بي بي ببړۍ ور واده کړه. د هغې په پسول کې يې د پوټ ( پوټهه) نومی کلی ورله ورکړو چې د بسي نه په لږه فاصله و او د رکن الدين په جاګير کې شامل و . هدف يې دا و چې دريا خان د خپلې مېرمنې سره په پوټ کې ژوند پيل کړي. خو دريا خان دی ته تيار نه شو او د نوی ناوې سره بېرته د بربرو کلي ته يې مخه کړه. دی د خپل پلار مشر زوې و او د هغه د مړينې نه وروسته دی د کلي مشر هم و . دا څرګنده نه ده چې ملک ابراهيم څه وخت وفات شو.

جهانګير باچا په ۱۰۱۶ ه ( ۱۶۰۷ م ) کې کابل ته د ورتلو هوډ وکړو خو دی د پېښور د ناظم احمد بېګ خان کابلي د انتظام نه خوشاله نه و. په هغو ورځو کې به د باچاسفر ډېر مهم کار و. ده سره په سوونو اسونه، پيلان، په زرګونو عسکر د حفاظت لپاره د خوراکي موادو ګاډي د حرم د مېرمنو لپاره خدمت ګاران ، پخونکي او دغسی خلک مله و. هر ځاې چې به دی قافلې پړاو وکړو نو هلته به يو وړوکې ښار اباد شو، بازار به پکې ولګيدو، خېمې او تمبوانو به لوې ځاې نيولی و. د نږدی سيمو نه به خلکوخپل شيان دی قافلې ته راوړل او په دوي به يې پلورل. هر پړاو به يوه يا دوه وونۍ وخو کله کله به باچا د سيمې دهوانه خوند واخيستو نو زيات به تم شو. دا پړاو به يواځې د ښکار لپاره نه و، بلکه يو ډول د باچا سرکاري سفر هم و. ده به په لاره د سيمې مشرانو سره وليدل چې ده ته سر ټيتولو له ورتلل او څوک چې حاضر نشو، هغه به باغي ګڼل کيدو. ددی سوونو کسانو لپاره به د سيمې ناظم د ځای او د استوګنې انتظام کوو او مشران به يې خبرول. جهانګير د پېښور او د پنجاب د سيمو واک رکن الدين ته سپارلی وچې دده د سفر پورا انتظام وکړي. هغه د دی لپاره چې پېښور ته ولاړو نو لورکره د بربرو کلي ته ورغلو او دريا خان يې وليدو. هغه محال دريا خان يې هم دجهانګير باچا سره د ملاقات لپاره بوتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ځوورځی وروسته د روژې په ۲۹ نېټه رکن الدین د وو پنځوسوکالو په عمرکې لاهورکې وفات شو. جهانګیر دده په مړینې ډېر خفه شو او دده زمکې او کلي يې دده زامنو ته په میراث کې ورکړل. دا هم د هغه وخت د مغل واکمنو یوه سیاسي پالیسي وه چې کوم امیر ته به يې زمکې په انعام کې ورکړې وی ، که هغه ورته پت من پاته کیدو نو اولازونو ته به يې د فرمان له مخې دا زمکې میراث کې ورکولې. که داسی نه وه نو ټولې زمکې به يې تری واخستې. په هغو حالاتو کې د بغاوت مخه به په دی توګه هم نیول کیده.

کمال الدین په پېښور کې د پلار پر زمکو کښېناستو او ده ته يې د وو نیمو سوو منصب ورکړو. دریا خان د خپل خسر د مړینې نه وروسته د خپلې کورنۍ سره یوځل د بسي لور ته ولاړو او هلته یا خو د مېړمنې په ټینګار او یا دا چې مغل دربار ته دده شهرت رسیدلی و او ښاي چې جهانګیر باچا د زوې شهزاده خرم په پوځ کې ورته د منصب پیشکش ووشو، دریا خان په پوټ کې د ایساریدو فېصله وکړه. ده ته د یوی پخې کلا د جوړولو اجازه هم ورکړې شوه چې هغو ورځو کې به لږو خلکو تر لاڅه کوو. هم دا وه چې دریا خان په پوټ کې خپل کور او کلا دواړه پاخه جوړکړل. دریا خان کله چې په پوټ کې ژوند پیل کړونو خپل دری واړه وروڼه يې اګرې ته را وغوښتل او دوي هم د شهزاده خرم په پوځ کې منصب داران شول. عثمان خان یو زروپلی عسکرو او اتو سوو سپارو منصب دار و . نېکنام د وو سوو پلی عسکرو او دریو سوو سپارو مشر منصب دار و . زکریا خان د دکن په پوځ کې د خان جهان سره کومکي سردار و.

په ۱۶۱۸ م کې د پنجاب په شمال کې د غرنۍ ملک کانګړه راجه سورج مل د سیمې د نورو زمکه والو په زمکو تعرض پیل کړو . جهانګیر خپل زوې خرم ته چې اوس د شاه جهان لقب يې ورته ورکړې و، ددی سیمې د رالاندې کولو امر وکړو او د ستمبر په لسمه نېټه شاهي پوځ د احمد اباد( ګجرات ) نه کانګړی ته مخه کړه. په دی لښکر کې دریا خان هم شامل و. د مغل پوځ سر لښکر بکرما جیت یوکنډک ته د ابراهیم خان مومند په مشرۍ د یوې لارې نه کلا ته د ورداخلیدو امر وکړو. سورج مل کلا خپل ماشوم زوې ته پرېښوده، د چمبه د راجه سره يې پناه واخسته او هم هلته مړ شو. دمغلو محاصره چې تنګه شوه او نورددی ځاې خلکو مقابله ونکړې شوه نو دا کلا يې ورته تسلیم کړه.

په ۱۶۲۰ م کې د خان اعظم د مړینې نه وروسته جهانګیر،





خان جهان د ګجرات والي او د شهزاده پروېز اتالیق وټاکلو خو هغه وخت په دکن کې د مغلو پر ضدیو واری بیا د بغاوت لمبې راپورته شوې . ددی دریو مسلمان واکمنو ، نظام الملک ، قطب الملک او عادل خان په ګډه پنځوس زره پوځ سره په مغلو حمله وکړه او وروورو دوي يې سیمې نه د برهان پور په کلا کې محاصره کړل. عبد الرحیم باچا ته پیغام ورواستاو چې که ددوي کومک ونشو نو ښاي د راجپوت سردارانو په شان د ځان وژنې رسم ( جوهر ) پورا کړي. هغه وخت د راجپوت هندوانو یو دود و چې کله په جنګ کې د ماتې سره مخ کیدل نو د سلامي کیدوپر ځاې به يې کوماندانانو په ګډه ځان ووژلو. په دوېم دسمبر ۱۶۲۱ م کې شاه جهان د دېرشو زرو سپرو او شلو زرو پلی عسکرو سره یو وارې بیا دکن ته روان شو. دری میاشتی وروسته دا پوځ د نربدا سیند پر غاړه پړاو وکړو اودبرهان پور محاصره ختمه شوه. دلته هغه ځینې سیمې په جنګ او ځینې د خبرو اترو او د تاوان د ورکولو په لوز ونیولې. اخر د دکن باچاهانو د پینځو لکو روپو د تاوان په بدل کې ورسره روغه وکړه او مغلو ته يې د وړاندی نه زیاتې سیمې پرېښودې. د جهانګیر زوې سلطان پروېز د شرابو د لاسه پخپل مرګ مړ شو او شاه جهان دیو بل سیال نه بې غمه شو. اوس دده یو ورور شهر یار پاته وچې د پلار نازولې مېرمنې نورجهان يې ملاتړ کوو.

په هند کې دجهانګیر په بوخت کیدو د ایران باچا شاه عباس صفوي ګټه واخسته، په کندهار يې حمله وکړه او هلته مغل عبد العزیز نقش بندي کلا بند پاته شو. شاه جهان ایله د دکن نه اوزګار شوې و چې پلار ورله امر وکړو چې کندهار ته دی لښکر یوسي . هغه وخت د برساتونو موسم پیل شوې و اوددی دومره لوې لښکر خوځول ورته ممکن نه و . ده د مانډو ( مرزي هند) په کلا کې اړولي و او اراده يې دا وه چې هلته درې میاشتې پاته شي او وروسته کوچ وکړي. د مانډو نه شاه جهان پلار ته د شاهي فرمان په ځواب کې ولیکل " د حکم سره سم زه په مانډو کې ایسار یم ، هر کله چې برسات ختم شي نو زه به کندهار ته ورشم. خو د کندهار ته ورتګ د هند د معرکو نه توپیر لري، د ملتان نه کندهار پوری دری سوه کوس (۹۰۰ میله ) فاصله ده. هلته غله کمه ده، مقابله به مې د شاه عباس غوندی با تجربه عسکر سره وي، نو ځکه د لښکر د پاره د غلی دانی انتظام ضرور دې. ددی لپاره مناسبه ده چې د ملتان پنجاب او د کابل صوبی دی ما ته راکړې شي چې د لښکر لپاره د خواړو انتظام وکړم او دومره خزانه هم راکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د لښکر د سامان او د تنخواه لپاره کافي وي. ددی نه علاوه زما د چار واکو د منصب او په تنخواه کې د بدلون او د جاګیرونو د بدلولو اختیار دی هم په بش پره توګه ما ته راکړی شي."

د شاه جهان له خوا دا غوښتني د خپلواکۍ په لور د هغه لومړي ګام و. داسی ښکاري چې جهانګیر د خپل زوي د ارادو نه په اندیښنه کې شو . د شهزاده خسرو( ورور) سره د شاه جهان چلن اوپه بندي خانه کې دده مړینې ورته وېره ودرولې وه. ټول پنجاب شاه جهان ته د ورکولو معنا دا وه چې جهانګیر په لوېدیځ کې د خپل سلطنت هغه برخه ورله ورکوي چې دده لپاره د ملا د تیر په شان وه. زوي یې د دهول پور نومی پرګنه هم پخپل جاګیر کې د شاملولو خواست کړې و چې د اګری او د ګوالیار په منځ کې د ۵۵ کلومیټر په فاصله یوه شنه سیمه ده. هغه په دې باور و چې پلار به یې دده په بریالیتوب خوشاله وي او ضرور به دا سیمه هغه ته د انتظام لپاره ورکړي او پخوا ددی چې باچا ددی څه امر ورلیږلې وي ، هغه دریا خان د پوځ د یوی ډلې سره د دهول پور د انتظام لپاره وراستوو. خو دشاه جهان لیک لا باچا ته نه و رسیدلې چې د ملکې نورجهان په وېنا دا پرګنه د شهزاده شهر یار په جاګیر کې شامل کړې شوه. هغوي هم د وړاندی نه د خپل جاګیر د انتظام لپاره خپل منصب دار شریف الملک وراستولی و چې د دهول پور سیمه یې نیولی وه.

کله چې دریا خان د شاه جهان د مراسلی سره هلته ورسیدو نو شریف الملک یې مخه ونیوله. د زباني بحث نه وروسته خبره توري او غشي ته ورسیده. دریا خان د جنګ له ډګره چری نه و په شا شوی. په نتیجه کې د دواړو ډلو تر منځ ښه مرګ ژوبله وشوه. شریف الملک په یوه سترګه پر غشي ولګیدو نو نور یې له جنګه لاس واخستو او د خپلوجنګیالو سره د دهول پور نه ووتلو. دریا خان په دی سیمه کې خپل تسلط جوړ کړو او شاه جهان یې له حاله خبر کړو. کله چې شریف الملک اګری ته د باچا دربار ته حاضر شو نو هغه ته د دهول پور پېښه په دی توګه بیان شوه، چې باچا فکر وکړو، زوي یې له ده بغاوت کړی و. ددی پېښې سره سره ښاي نورجهان هم باچا ته خبرې کړي وي . جهانګیردومره په قهر شوچې شاه جهان ته ورکړی شوی د دواب تر منځ ټول جاګیر یې د هغه نه واخستو او شهزاده شهر یارپه نوم یې کړو. د کندهار د نیولو کار یې هم شهر یار ته وسپارلو. شاه جهان ته خپلو جاسوسانو خبر راوړو چې په دربار کې دده پر ضد سازشونه روان و چې نورجهان یې په سر کې وه. هغه پلار ته یې یوګیله





من لیک وروواستاوچې پکې یې د نورجهان د چلن شکایت کړې و چې د دوي په معامله کې د مداخلې په تور یې تورن کړه. باچا ددی لیک په تر لاځه کولو نور هم په قهر شوځکه ملکه نورجهان وربانديې ډېره ګرانه وه.

د نورجهان اصل نوم مهر النسا او د پارس ( ایران) د یو کډوال غیاث الدین لور وه. د شپاړسوکالو په عمر کې دا په یو ترکمن منصبدار علي قلي استاجلو واده شوه چې د غیاث الدین په خیر له ایرانه هند ته ورغلی و. اکبر باچا علي قلي ته دده په مېړانه د شېر افګن ( دزمري پرزوونکې) خطاب ورکړی و. دی د بنګال په یوه شخړه کې وژل شوی اود ځینو خلکو دا نظر دی چې د هغه په وژنه کې پخپله دجهانګیر لاس وځکه ده د مهرالنسا سره مینه لرله. دا یوه افسانه ده او تاریخي حقایق یې ملاتړ نه کوي. مهر النساد مېړه له مړینې وروسته د خپلې ماشومې لور سره پلارکره میشت شوه چې د اکبر باچا یو منصب دار و. له هغی مهرالنسا دربار ته هم تګ راتګ کوو. یو ځل په یوه مینا بازار ( مېله ) کې دا جهانګیرولیده، خوښه یې شوه اوژر د جهانګیرشلمه نکاح کړې میرمنه شوه. په دی کې شک نشته چې مهرالنسا یوه با استعداده او هوښیاره ښځه او باچا ته تر ټولوګرانه وه. هم دا وه چې له واده وروسته یې هغې ته د نور محل او بیا د نورجهان خطاب ورکړو او پخپلو سیکو یې ددی نوم لیکلې و.

له واده وروسته د نورجهان د کورنۍ او د نورو ایراني امیرانو اغېزې د هغه وخت په مغل سلطنت کې دومره ډېرې شوې چې پخوا هند کې یې ځارې نه لیدل کیږي. په لوړو او مهمو دندو ددوي د ټاکلو یوه بېلګه د کابل والي مهابت خان و. دده خپل نوم زمانه بیګ او پلار یې غیور بیګ ،د ایران ( شیراز ) نه کډه کړې وه او وروسته دوي دواړو د خپلو نومونو سره کابلي لیکلو. د اکبر باچا په وخت کې زمانه بیګ هند ته ولاړو او هلته په مغل پوځ کې شامل شو. ورو ورو دی د شهزاده سلیم په ځانګړي دسته کې ورګډ شو. کله چې سلیم باچا شو نو ده ته یې د پوځي منصب سره د مهابت خان خطاب ورکړو. د شاه جهان د بغاوت د ختمولو لپاره ده د جهانګیر د پوځ مشري کوله او وو زرو کسانو شخصي پوځ یې لرلو . په پېښور ښار کې دده په نوم جومات اوس هم شته چې دده زوي جوړکړې و.

په ۱۶۱۵ م کې جهانګیر باچا د پیر روښان د غورځنګ یو غړي او دده لمسي،اله داد ته د بخښنی سره شل زره ضرب سیکې او یو مرصع خنجر په انعام کې ورکړل. د دکن د نیولو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغلود پوځ یوی ډلی مشري هم ورته ورکړې شوه. الله داد،دروښاني پاڅون د سالاراحداد اخښي واومغلو غوښتل چې په خیبر پښتونخوا کې د افغانانو بېلا بېلی قبیلی ددوي واک ته د تابع کیدولپاره رامات کړي.. هلته د تللو نه وړاندې جهانګیر باچا الله داد ته درشید خان خطاب اوقیمتي سوغاتونه هم ورکړ ل او د ضمانت لپاره یې تری دده مشر ورور او زوی په دربارکې ایسارکړل. په ۱۶۱۷ م کې الله داد د مهابت خان تر څارنی لاندې په افغانستان کې خپله دنده سر ته رسوله اوڅه موده په کابل کې و. مهابت خان دی د یو پوځ سره لومړی د بنګښو سیمې ته ورواستاو خو هلته اولس دده مخالف شو ان تر دی چې دې یې د خاین په تور تورن کړو. د الله داد لپاره دا یو ګران کار واو دی د مغلو نه بېل شو.

خو په ۱۶۲۰ م کې اله داد د جهانګیر باچا نه بخښنه وغوښتله، دی معاف کړې شو او په خپل پخواني منصب دوه نیم زره پلي او دوه سوه سپرو بیا بحال کړي شو. دده ورور او زوی چې د مهابت خان په وېنا د ګوالیار په کلا کې بندي ساتل شوي و، خوشی شول او زر روپی یې ورله ډالۍ کړې. په ۱۶۲۵ م کې دی د کندهار د یو لښکر مشر وټاکل شو او وروسته د خان جهان لودی په پوځ کې شامل و. یو ځلی مهابت خان جهانګیر ته وویل چې په دی ټولو پښتنو کې رشید خان هوښیار مېړنی او اغېزمن ځوان و او هغه ته یې مشوره ورکړه چې یا خو رشید خان د دکن نه بېرته راوبلي او یا د هغه ملګری خان زمان په دی سرحدي سیمه کې د کوماندان په توګه ونه ټاکي. هغه اندیښنه وښودله چې که دوي دواړه یو ځای شول نو هم هلته به د شاهي پوځ پر ضد پاڅون وکړي. د رشید خان د خدمتونو په بدل کې ده ته په شمس اباد کې جاګیر ورکړی شو. خو دده کورنۍ د کمپل په سیمه کې پخپلو زمکو ژوند کوو چې د "پراني ډانګ" نومې کلي کې وی. ده هلته یوه کچه کلا( ګړهي )جوړه کړه چې تر اوسه یې کنډوالې په سترګو کیږي. له هغه راهیسې دا ځای د ماو رشید اباد په نوم شهرت لري. د رشید خان په وخت کې ځیني اپریدي او بنګښ قبایل دلته مېشت شول . ماو رشید اباد اوس د فرخ اباد ضلع په قایم ګنج کې دې او د نواب رشید خان قبر هم دلته جوړ دې. د هند له وېشه وروسته ددی سیمې یو بل پښتون، ډاکټر زاکر حسېن د هندد جمهوریت لومړې صدر وټاکل شو.

دا څرګنده نه ده چې د باره بستي کلي څه وخت د دریو نه دولسو ته ورسیدل. د شیخ رکن الدین د مړینې نه وروسته په بسي کې دده دوېم زوی عبد الرحمان د کلي او قام مشر شو او په دی





وخت کې دده ترونو حسن، عمر، خضر او یوسف نور کلي اباد کړل. عمر خان په بګراسي نومې کلي کې ځان له کوراو کلا جوړکړل او ورو ورو دده دوو زامنو داود او محمد خان تېر پکې اباد شو . خضر خان د بګراسي نه دری میله جنوب په چندیانه نومی ځای کې خپلو زامنوله کورونه جوړکړل. دی هم د جهانګیر باچا په پوځ کې د ټیټې رتبی یو منصب دار و. یوسف خان، د خان پور په نوم یو نوی کلی اباداویوه ښکلې کلا یې پکې جوړه کړه چې کنډوالې یې تر شلمې پېړۍ پاته وې.

د رکن الدین بل ورور شیخ حسن تر ډېرې مودې په کابل کې د مغل پوځ د کومکي سردار دنده پر غاړه لرله. جهانګیر باچا ورته منصب ورکړی و او د هغه په با اعتماده سردارانو کې شامل و. په ۱۶۲۳ م کې کله چې د بلخ مغل والي نذر محمد د باچا پر ضد بغاوت او د لسو زرو قواو سره یې په کابل حمله وکړه نو ددی د مقابلی لپاره په پوځ کې شیخ حسن هم ورواستول شوچې جهانګیر ورته د مبارز خان خطاب ورکړی و.

بسي کې د رکن الدین ورونو او ددوي اولادونو پخپلو کې خپښې کولې اوکه هلک یا جینۍ لپاره په کورنۍ کې څوک نه و نو د پېښور دبازید خېلو نه به یې خپلوان راوستل. په دی کلیوکې پاته ددوي نور ټبر نه به کله کله ځوانان هلته ورتلل او په مغل پوځ کې به یې د جنګیالو په توګه ځان شاملوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جهان زوال

اوس په خيبر پښتونخواکې د دلزاک قام يو کس هم نه نشته څکه لوی شمېر دلزاک د هند د جنگونو لپاره ورتلل او دوي ډېر ښه غشي ويشتونکي و. ددوي، د مومندو او يوسفزو تر منځ به تل جگړی وې اود وولسمي پېړی د پيل نه دلزاک په ټول هند او په تېره بيا دکن کې خپاره شول. د جهانگير د حکومت په شروع کې دکن کې د سختو جنگيالو ضرورت و د ۱۶۱۱ م په لوی کيمپېن کې د پير خان (خان جهان) په مشری کې لوی شمېر مهم افغانان په جنگي ډلو کې ورسره و. دده په پوځ کې دری زره دلزاک سپاره و چې د بيجاپور د نيولو لپاره يې ورواستول.

ملک عنبر چې په دکن کې د مغلو پر ضدمورچې نيولې وی دده د ماتولو لپاره د مغلو د پوځ لويه برخه پښتانه وچې ددوي يو څو سرداران ،علی خان نيازي، محمد خان نيازي، احمد خان نيازي، مبارز خان ، ناهر خان، دلاور خان، منگل خان، کمال الدين ( د شېر خان زوی) شهباز خان لودی، مبارک خان سرواني، الله داد ، بختيار خان، بوډا خان، جلال خان او جمال خان د دلاور خان زامن، سکندر خان دومړو.

د دکن د ملک عنبرسره په يوجنگ کې حسن خان ميا ووژل شو او دده زوی بهلول ته باچا د سربلند خان لقب ورکړو. په دی وخت کې دجهانگير اود شاه جهان تر منځ اړيکې وراني شوې او يواځينی کس چې دواړويې مشوره منله، خان جهان و. شاه جهان خپل پلار ته د هغو اميرانو فهرست ورکړی و چې د خسرو مرزاد بند نه خوشي کول يې غوښتل. دا هغه کسان و چې دهغه په اند د جهانگير مخالفان و. خو خان جهان باچا ته وويل چې کيدايشي په دی کې د بی گناه خلکو نومونه هم شامل وي. باچا د هغه مشوره وومنله اوبی له دی چې هغه نومونه يې کتلی واې، فهرست يې وسيزلو. خو په دی کار دشاه جهان په زړه کې رخه پيدا شوه او هغه خان جهان ته د پلمی په انتظار شو.

د جهانگير لومړی مېرمنه مسلمانه او دده دزوی شهر يار مور وه. نورجهان غوښتل چې ددی لورلاډلي بېگم د باچازوی شهر يار ته واده کړي او ددی لپاره هغې د جهانگير ځاې ناستې شهر





يارگڼلو. دشاه جهان مور يوه راجپوت وه اوده د نورجهان د ورېرې ارجمند بانو سره په مينه واده کړې. يو خوا نورجهان د خپل زوم او بل خواد هغی وروراصف خان د خپل زوم لپاره د واک او د قدرت په سازشونو اخته و.

نورجهان تر دی حده خپل اغيز د ساتلو په هڅه کې وه چې جهانگير ته يې څوک نه پرېښودل. د کندهار نيول د دواړو ډلو د پاره د سيالی وړ موضوع وه. نورجهان خپل زوم شهريار د کندهار د مهم لپاره تيار کړو . مرزا رستم صفوي چې د ايران نه ورغلی و د هغه اتاليق وټاکلو.

جهانگير دشاه جهان وکيل مير عبد السلام خپل دربار ته د راتلو نه منع کړو. هغه چې خبر شو نو خپل استاځی افضل خان يې د پلار دربار ته ورواستاو چې غلط فهمي لېرې کړي. خو باچا هغه بې له ليدو بيرته وگرځوو. شاه جهان د لښکر سره پخپله لاهور ته روان شوچې پلاز پخلا کړي. داسی اوازه گډه شوه چې زوی د پلار پر ضد بغاوت کړی دی. جهانگيرددی خبرپه اوريدو دومره په قهر شو چې د زوې سره د جنگ لپاره د لاهور نه ډېلي ته روان شو. دده د پوځ مشر مهابت خان او د وړاندی تلونکو کومانده د عبد الله خان په لاس کې وه چې په زړه کې يې د شاه جهان ملا تړ کاوو. په ۱۶۲۳ م د اپرېل په مياشت کې د جمنا سيند پر غاړه پلار او زوی د يو بل مقابل ته ودريدل. د جنگ په مېدان کې عبدالله د جهانگير د پوځ نه ولاړو او دشاه جهان لوري ته ودرېدرو. د جهانگيري لښکر ملا ماته شوه خو هم هغه وخت دشاه جهان سپه سالار بکرما جيت په يوی گولۍ ولگيدو او د هغه لښکرگډوډ شو. شاه جهان د جنگ د بندولو اعلان وکړو او بېرته د دکن په لوري روان شو. د پلار او زوی په دی جنگ کې پښتانه هم وېشلي و. د شاه جهان سره په جنگ کې دا افغانان مله و. معصوم خان د موسی زوی . دريا خان. بهادر خان د هغه زوی. بابو خان برېڅ. علی خان نيازي. خواجه داود ( د عثمان خان ورور ) ابراهيم خان (د عثمان وراره) کوم کسان چې وروسته ورسره مله شول ، عدل خان، پهاړ خان او حېدر خان نوميدل. دريا خان دده دکنډک مشر و.

جهانگير د خپل پوځ يوه برخه د شهزاده شهريارپه مشری ور پسې واستوله . ورورو هغه کسان چې دجهانگير نه بيل شوي او په دی هيله دشاه جهان سره يو ځاې شوي و چې ډېر ژر به دی د هند پر تخت کښېني،پوهه شول چې د پلار تله درنه ده. داسې کسان چې له شاه جهان نه يې لاس واخستو نود جنگ د ميدان حالت واوختواو شاه جهان ته بله لاره نه وه بې له دې چې د اړيسه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنگال لوري ته ولاړ شي. د بنگال حاکم ابراهيم خان له وړاندی نه د ملکې نورجهان له لوري فرمان تر لاځه کړی و چې دشاه جهان حساب دی برابر کړي. د ابراهيم خان سره په جنگ کې دشاه جهان بی شمېره عسکر ووژل شول چې دده څلور نامتو سرداران پکې شامل و. شاه جهان د دوېم جنگ لپاره خپل پاته پوځ ترتيب کړوچې په دی کې دريا خان او دده زوي بهادر خان دواړه ورسره مله و. ددی نه علاوه دلاور خان بړېڅ، کريم داد خان، محمد خان مومند، داراب خان او خواجه صابر هم د خپلو ډلو سره پاته و. په ١٦٢٤ م کې شاه جهان په بنگال کې ددرېا خان پر مټ اکبرنگر ونيولونو هغه ته د شېر خان لقب لس زريز ( پينځ سوه پلي او نور سپاره) منصب يو لک روپۍ نغدی او هاتيان ورکړی شول

د بهاگل پور په مېدان کې د سيند پر غاړه سخت جنگ ووشو . سردار محمد خان مومند د خپلو اوياو ملگرو سره ووژل شو . خو اخر د جهانگير لښکر ماته وخوړه او د بنگال حاکم ابراهيم بيگ سر يې په نېزه کې ټومبلې شاه جهان ته راوړو. بنگال او بهار دواړه د شاه جهان لاس ته ورغلل نو په بنگال کې يې داراب خان صوبه دار وټاکلو او دی پخپله په بهار کې د روهتاس په کلا کې ميشت شو. په ١٦٢٦م د مارچ په مياشت کې شاه جهان، خپل دوه زامن داراشکوه او اورنگزېب، د دوو لکو روپو او نورو قيمتي جواهراتواو پيلانو سره پلار ته ورواستول چې روغه ووشي خود اکتوبر په مياشت کې دپلار او زوي د پوځ تر منح يو واری بيا په جونپور کې جنگ ووشو چې پکې دوه زره کسان ووژل شول. تر دوو کالو هم دغه حالت و او اخرشاه جهان ناروغه شو.

جهانگير اوس پخپله د جنگ نه ستړې و او ده غوښتل چې زوي سره روغه وکړي خودشاه جهان د بغاوت په ختمولو کې دخان جهان نه علاوه دکابل والي او د جهانگير مشر وزير او با اعتماده منصب دار مهابت خان ډېر لوې رول لوبولی و. دوي دواړه د شهزاده خسرو پلويان و او په دربار کې د مهابت خان د اغېز په زياتيدو ملکې نورجهان د خطر احساس کاو. باچا اوس د ساه لنډۍ په مرض اخته واو د حکومت ټول کارونه نورجهان کول. کال وروسته ملکې نورجهان هڅه وکړه چې مهابت خان د خپلې دندې نه ليرې کړي خوهغه ته مخبرانو خبر راوړو او پخوا له دی چې وژل شوې واې د خپلو عسکرو سره د شاهي مانې نه ووتلو. هغه وخت دده سره اله داد( رشيد خان ) هم مله و.

خان جهان اوس ورو ورو د گمنامۍ کندو ته په لويدو شواو ډېر شيان ورته پلمه شول. د مهابت خان بغاوت، د جهانگير ناروغي،





دشاه جهان سره د اصف خان ملاتړ، چې يو بې رحمه اوکبرژن انسان و. په دی حالاتو کې خان جهان په وېره او د خپل راتلونکي په اړه اندېښمن شو. د دکن ځينې برخې د نظام شاه سره وې او هغه مغلو ته باج ورکوو. خان جهان د هغه سره اړيکې ښې ساتلی وې. بل خوا د جهانگير اوشاه جهان تر منځ اوږدی جگړې کې ډېرو پښتنو سر خوړلی و. ده فکر کړی و چې که په راتلونکي کې د پلار او زوي تر منځ په جنگ کې راښکېل شو نو د نظام شاه دربار ته به پناه ووړي. د نظام شاه د سلطنت پېشوا ( روحاني مشر) حميد خان و اوده د پښتنو د ديني عالمانو درناوې کوو. دده د فشار لاندی خان جهان د بالا گهاټ ( سمندری ساحل) واک د نظام شاه پوځ ته وسپارلو،د هغه نه يې دری لکه روپۍ واخستې او د سيمې نورو فوجدارانو ته يې وويل چې نظام شاه ته دی تسليم شي. يواځې د احمد نگر پوځدار سپه دار خان دده امر نه و منلی. دا د خان جهان يوه لويه تېروتنه وه . خو هغه فکر کوو چې د مغل واک په ټينگولو کې دده کورنۍ دېرې قربانۍ ورکړي دي او تر اوسه تری جهانگير او شاه جهان دواړه خوشاله و. خو په دی معامله کې هم جهانگير او هم شاه جهان ورته په قهر شول.

دريا خان اوس دري زامن لرل چې سر ابدال، محمد خان او عنايت خان نوميدل. دری واړه هلکان لا ځوانۍ ته نه و رسيدلي چې ددوي مور ببړۍ بي بي( د رکن الدين لور ) مړه شوه. دوي په پوټ کې ژوندکاو . پوټ اوس د ميرټ ولسوالۍ پوری مربوط دې. او د ميرټ ښار نه څلور دېرش ميله سويل ختيځ کې واقع دې. دلته د هندو راجه گانو يو ډېر مشهور باغ پشپاوتي په نوم و او دی سيمې ته به يې پشپاوتي ويېل وروسته دا نوم پوټ شو. تر شلمې پېړۍ د دريا خان د کلا څو برجونه پاته و خو د گنگا اوبو کال په کال زمکه خوړلې او اوس په پوټ کې کنډوالې يې هم نه ليدل کيږي.

دريا خان د گگيانود قام يوه بله مېرمنه رابعه بي بي راواده کړه. ددی مېرمنې دوه زامن ووزيږيدل چې جلال خان او يوسف خان ونومول شول. دريا خان اوس د شاه جهان د لوې منصب دار شېخ فريد مرتضا خان بخاري په پوځي کنډک کې شامل و. په ١٠٢٥ ه ( ١٦١٦م ) کې کله چې شېخ فريد د کانگړې په جنگ کې پخپل مرگ مړ شو نوشاه جهان د دريا خان مېړانه د وړاندی نه څارلی وه . هغه يې د يوې پوځي ډلی مشر وټاکلواو له ده سره شپاړس کاله ددی لوې سلطنت په بيلا بيلو سيمو په جنگونو کې شامل و. د بنگال، بهار او اله اباد په جنگونو کې يې ښه مېړانه ښکاره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دده زوی سر ابدال هم ځوان شوی او ورسره په جنگونو کې مله و. په ۱۶۲۵ م کې د تونسه په جگړه کې دریا خان ډېره توره ونکړه او ماته یې وخوړه. نور افغانان لکه دلاور خان او معصوم خان د باچاد پوځ سره ډغره عبث وګڼله او جهانگیر ته تسلیم شول. خو په دی شخړه کې هغو پښتنو چې د لودیانو له وختهٔ د هند د واک لپاره یې هلی ځلی کولی د خان جهان سره راټول شول. داسی ښکاري چې هند یو واری بیا د افغانانو لاس ته ورتلی شو ځکه مغل کورنۍ پخپلو کې اخته وه.

نورجهان د ناروغه جهانگیر پر ځای اوس د سلطنت ټولې فیصلی پخپله کولی او د مهابت خان نه د ځان خلاصولو لپاره هغه یې لاهور ته ددی پیغام سره راوبللوچې دی به د بنگال والي وټاکل شي. مهابت خان چې د نورجهان له ارادو خبر شو نوپه ۱۶۲۶ م کې د خپلو پت منو راجپوت عسکرو سره د کابل نه پنجاب ته لښکر کشي وکړه. هغه وخت د جهانگیر او د نورجهان قافله د کابل په لوري خوزېدلی وه او د جهیلم سیند پر غاړه یې پړاوکړې و. مهابت خان په دی کېمپ حمله وکړه ، باچا یې پرغمل ونیولو اواعلان یې وکړو چې دي ( مهابت خان ) به د ټول هند واکمن وي. نورجهان په دی وخت کې د هوښیارۍ نه کار واخستو او خپل مېړه ته یې پیغام ورواستاو چې مهابت خان ته دی ډاډ ورکړي چې دی ناروغه او د حکومت کولو جوگه نه دی او دده تابعت کوي خو بلی خوا ته ملکه پخپله د مهابت خان سره د جنگ پلان جوړ کړو. مهابت خان په دی سازش پوه نه شو. د باچا جهانگیر سره د راجپوت عسکرو شمېره یې کمه کړه او پخپله په لاهور کې د تاج په سرولواو پر شاهي تخت د کښېناستو لپاره روان شو. په دی حالاتو کې شاه جهان دکن لوري ته تللې و او د خان جهان نه یې د دکن د تر لاسه کولو هڅې پیل کړې. خان جهان د مهابت خان له بغاوت خبر شوې و او نه پوهیدو چې په دی اړی ګړی کې د چا پلوي وکړي. دې اوس هم جهانگیر ته پت من و چې د ناروغۍ په حالت کې د مهابت خان دبندي په حیث په یوه خېمه کې پروت و.

نورجهان د جهانگیر د خوشی کولو لپاره هغه ته پتمن راجپوت جنگیالي راوننگول چې ددی په ملاتړ ودریدل. هغه په یو هاتي ( پیل ) سپره شوه او د پوځ مشري یې پخپل لاس کې واخستو. دی عسکرو د لاهور سره نږدې په هغه کېمپ حمله وکړه چې باچا پکې ساتل شوې و. د یو لنډجنگ نه وروسته ورجهان خپل مېړه راخلاص کړو او هرې خوا ته یې خبر خپور کړو چې مهابت خان باغي و. په هند د مهابت خان باچاهي سل ورځې وه. ملکې ددی





بغاوت د ختمولونه وروسته ناروغه جهانگیرکشمیر ته بوتلو. خو هلته دده حالت نور هم خراب شواو په اتم نومبر ۱۶۲۷ م کې دی مړشو. د هغه مړې لا هور ته یوړل شو، خو د ملکې ورور اصف خان چې د شاه جهان خسر هم و، د باچا د مړینې خبر پټ وساتلو او خپل زوم ته یې لیک ورواستوو. شل ورځې وروسته یو قاصدشاه جهان ته په دکن کې د اصف خان له خوا د پلار د مړینې خبر ورکړو. شاه جهان د دریو ورځو د ماتم نه وروسته د اگرې په لوري روان شو. خسر یې خپل ټول امیران راټول کړل او د جهانگیر د جنازې نه وروسته یې شاهي مانۍ پخپل لاس کې واخسته. د جهانگیربل زوې شهر یارچې د نورجهان زوم و، دکشمیرنه لاهور ته ولاړو او هلته یې ځان د هند باچا اعلان کړو. اصف خان ورسره د جنگ لپاره لښکر یوړواو ماته یې ورکړه. شهزاده شهر یار ژوندی ونیول شواو د خسرو په شان دده سترگې د اصف خان په امر ړندی کړی شوی او په بندي خانه کې یې واچوو.

په باره بستي کې پخوا راهیسی یوه کیسه مشهوره ده. په برهان پور کې کله چې دپلار د مړینې خبر شاه جهان ته راورسیدونود خان جهان لښکر په مېدان کې دهغه مقابل ته ولاړ و. له هغه دیر ملاتړي اوس د شاه جهان لوري ته اوړیدلي و چې پکې دریا خان هم و. شاه جهان پخپل دربار کې د ټولو په مخکې دریا خان ته مخ واړاو او په فارسي کې یې ورته وویل، " دریا خان شنیدم که ننگ افغان از گورستان می خزد، تو که افغان با نام ونشان هستي، در این وقت مصیبت شریک یار وفادار خود نه شدي"

دریا خان ما اوریدلی دی چې د افغان ننگ د هدیرې نه تیرېږي. ته چې په نوم او نښان افغان یې. په دی سخت وخت کې د خپل وفادار یار ملگرې نشوې. واې چې دغه سنگ زن جمله د دریا خان لپاره د زغملو وړه نه وه او هم په هغه ورځ خپل منصب او اعزاز یې په لته ووهل او د خان جهان سره ملگرې شو.

دری میاشتی وروسته شاه جهان اگری ته ورسیدو، خو هندو نجومیانو ورته ویلي و چې که ددولسو ورځو نه وړاندی پر شاهي تخت کښېناستونو دابه ورته ښه شگون نه وي. په ۱۰۳۷ ه ( ۱۶۲۸ م) کې شاه جهان پر شاهي تخت کښېناستو او د جمنا د سیند پر غاړه د یو نوي ښار شاه جهان اباد د جوړولو امر یې وکړو. لکه چې د مغلو دود و، د اختر په موقع د باغیانو لپاره به د بخښنې ورځ وه. دریا خان ته دده ملگرو مشوره ورکړه چې ډېر پښتانه اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشاه جهان سره مله دي او له جنگ څه نه جوړيږي. هم دا وه چې دريا خان يو واری بيا له خان جهان بيل شو ، په مغل دربار کې حاضر شو اوله باچا يې بخښنه وغوښته. باچا دی وبخښلو او د څلورو زرو پلی عسکرو او درې زره سپارو منصب يې ورته ورکړو. ددی سره يو زين شوې اس ، يو پيل د زنځير سره او شل زره روپۍ نغدی ورته انعام کې ورکړی.

په هند کې د مهابت خان د بغاوت او د شاه جهان پر تخت کښيناستل د پښتنومشرانو لپاره د اندېښنې وړ خبره وه. د مغل سلطنت د زوال نښې راڅرگندې شوې او د هند په لر وبر کې خلکو د خپلواکۍ لپاره سر راپورته کړو. په دی کې راجپوت او پښتانه په سر کې و. شاه جهان ددی لپاره چې حالات ورته کړکېچن نشي، مغل مخالفانو ته يې څه نه ويېل. مهابت خان ته يې بخښنه اعلان کړه اودی يې د خپل پوځ مشر وټاکلو. خان جهان يې د دکن صوبه دار وټاکلو چې يوه ټيټه رتبه وه او په څرگنده د هغه سپکاوې و.





## وروستی پاڅون

د اگری ښار نه بهر په يوپراخ مېدان کې افغانان په وړو وړو ډلوکې ناست دي. له مازديگره ددوی مشران په يوی لوې کېږدۍ کې د خان جهان لودي سره په مشوره بوخت دي. دريا خان او نوروااميرانو د خان جهان خبری اوريدلي دي او اوس هر يو کس په دی خپل نظر ورکوي چې څه کول پکار دي. په دی مېدان کې اوس د ډېروخلکواته مياشتې شوې وې چې د انتظار په حال و. خان جهان ټولو سردارانو ته خپلی وروستۍ خبرې وکړې چې دی به د سهارلمانځه وروسته کوچ کوي او هر څوک واک لري چې که دده سره ځي او که د مغل پوځ برخه کيږي.

په بل سهار دصفر د مياشتې وويشتمه نېټه د ١٠٣٨ ه کال (ميلادي١٦٢٨ کال)، خان جهان چې خپلو نږدی ملگرو ورته پيرو ويېل، د لمانځه وروسته پخپل اس سپور شو نواسمان ته يې وکتل او وې ويېل. " خدايه ته خبر يې چې زه د خپل ناموس د ساتنې لپاره دا ځاې پرېږدم . زما په زړه کې د بغاوت اراده نشته." بيا دا لوې لښکر ختيځ کې ددهول پورپه لاره مالوی ته روان شو.

اته مياشتې وړاندې شاه جهان د هند پر تخت کښيناستونو په بندېل کهنډ کې جهجهر سنگه راجه بغاوت وکړو اوددی بغاوت د ماتولو لپاره هغه د پوځ مشري مهابت خان ته ورکړه. دا د شاهجهان د هوښيارتوب يوه نښه وه چې مهابت خان يې دکابل نه ليرې ، خپلې گټې لپاره يو بل د شخړی خاې نه ورواستوو. د قدرت او د منصب لېواله د کابل پخواني والي، د سلو ورځو لپاره د هند پر تخت د کښيناستو خوند څکلی و او دده قابو کول د باچا لپاره مهم و. . نوي باچا دا هم نه غوښتل چې خپل افغان سرداران چې په بده ورځ کې يې دده ملاتړکړې و، د انعام نه بی برخی کړي. پر تخت د کښيناستو سره شاه جهان داسی سردارانو او اميرانو ته لوړ منصبونه ورکړل چې دويشت(٢٢) تنه پکې پښتانه و.

خان جهان يې د ٧ زروسپرو او٧٦ زرو پلو عسکرومنصب دارپه توگه اعلان کړو. هغه وخت دې په دکن کې واو شاه جهان خپل فرمان د دکن، خان ديس او د بيرار صوبه داري او نور اعزازات د يو استاځي په لاس ورواستول. د باچا استاځي جان نثار

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوميدواو د شاهي طغری سره لا دکن ته نه ورسيدلی چې خان جهان خبر شو چې شاه جهان د سپه سالار منصب مهابت خان ته ورکړی و. هغه وخت ټولو پښتنو د شاه جهان نه دا توقع لرله چې ددوي دهلوځلو په بدل کې نوې باچا به ددوي مشر خان جهان ونازوي. که د مهابت خان په ځای بل څوک وې نو ښای هغوي به پرې دومره نه و خفه شوې. خو مهابت خان څو وارې دا ثابته کړې وه چې له پښتنو يې ښه نه راتلل. د شاه استاځي جان نثار دخان جهان د چلن او کړو وړو په اړه باچا ته راپورونه لېږل او داسې يې ورڅرگنده کړه چې گوندی دې د شاه جهان سره پت من نه و. خان جهان د اگری نه ډېر لری و او اندازه يې نشوه کولی چې باچا دده په اړه څه نظر لرلو.

ددريا خان او سکندر دوتاڼي په شان ځينو نورو مخه ورو افغانانو ورته ويلي و چې ځان له دی جلا حکومت اعلان وکړي خو خان جهان چری د باچهۍ خوب هم نه و ليدلی. بله دا چې ځيني ملاتړي يې يو واری بيا د شاه جهان سره ولاړ و. د جان نثار دتلو نه وروسته هغه د برهان پورکلا سکندردوتاڼي ته پرېښوده او پخپله مالوې ته روان شو. دده سره لوې شمېر پښتانه سرداران مله و. خان جهان اگری ته د رسيدو نه وړاندې مغل دربار ته د خپل سفرپه اړه پيغام ورلېږلی و.

کله چې باچا د خان جهان د راتگ نه خبر شو نوخپل سپه سالار مهابت خان ته يې امر وکړو چې د پخوا په شان دهغه هر کلي ته له ښاره بهر ورشي. مهابت خان ته دا خپل سپکاوې ښکاره شوچې د يو پښتون صوبه دارهر کلي له ورشي. دې زړه نازړه ولاړو خوافغانانو ته يې د وسلی سره ښار ته د ورننوتو اجازه ورنکړه، دليل يې دا وچې دا د باچا د امنيت لپاره يوگام و. اخوا خان جهان دا کار د خطر الامه وگڼله او داسې يې انگېرله چې باچا دده د وژلو پلان لري. دده سره مله ځيني پښتانه هم په دی بدگومانه شول. ددی لښکر جوش او قهر په زياتيدو و او هر وگړی دی ته په انتظار و چې خان جهان به ورته کله په اگرې د يرغل اشاره کوي. خودې جنگ له نه و ورغلی او د شاه جهان سره يې ليدل غوښته. باچا، خان جهان خپل دربار ته راوبللو خو هلته هم دده ډېر سوړ هر کلی وشو. هغه اميران چې دده په راتگ به ورته په پښو پريوتل يا خو شاه جهان وژلي او يا يې بې واکه کړی و. پاته اميرانو ده ته د خاين په سترگه کتل ځکه د دکن بالا گهاټ يې نظام شاه ته ورسپارلی و. ددی نه علاوه هغه ته د جهانگير د ملاتړي په سترگه کتل کيده.





راتلونکې اته مياشتی خان جهان هر څه ته ځير و او د شاه جهان د حکومت انتظام يې وڅارلو. هغه زمکې چې ده ابادی کړې وې نورو ته ورکړې شوې. شاه جهان د خپل پلار د وخت ټول اميران يو يو دربار ته رابلل او د تخت په جنگ کې ددوي د ونډی په اړه يې تری پوښتنې کولې. څوک يې د بغاوت په تور تورن کړل، له چا يې زمکې ، القاب او خطاب واخستل اود ځينو نه يې سم دلاسه سر پرېکړو. په مغل حکومت کې د تقاعد سيسټم نه واو شاه جهان د نوو اميرانو لپاره هم ځای جوړولو. دخان جهان نه دا پوښتنه کيده چې بالاگهاټ يې ولی دښمن ته سپارلی و. دده په دليلونو د باچا تسلي نه کيده. له اگرې بهر د هغه زامنو ته د مخلص خان زوې مرزا لښکري د دربار نه خبرونه راوړل چې هلته ددوي دپلار د بندی کولو سازش روان و.

په دربار کې پاته ده ته څو پت منوکسانوهم خان جهان ته خبر ورکړو چې د شاه جهان شاو خوا ځينو اميرانو د ده پر ضد يوه کړۍ جوړه کړي ده او بل څوک نه پرېږدي چې په باچا اغېز وشيندي. ددی کړۍ مهم لوبغاړې د باچا خسر د ممتاز محل پلار او د نورجهان وروراصف خان و. هغه دتخت ټول دعوا لرونکي، دشاه جهان ورور شهريار چې سترگې يې ورته سيځلي وې، وريرونه ( د خسرو زامن )داور بخش او گرشاسپ، دده د تره دانيال دوه زامن، طهموراس او هوشنگ په يو مخه ووژل.

په داسې حالاتو کې د خان جهان نږدې ملگرو او خپلوانو دده ژوند هم په خطر کې ليدو او ورته يې ويل چې پخوا له دی چې وربانډی څه ووشي، ځان دی له اگری ووباسي. د هغه وخت مغل تاريخ ليکونکو دا ټولې پېښې په داسی تعصب ليکلي دي چې ښېلگه يې موندل گران کار دې. ملا محمد صالح کمبوه ليکي، " پير خان افغان يو بی نومه کس د خان خانان عبد الرحيم په واسطه د جهانگير په ملازمت کې داخل شو" وړاندې ليکي، " په يو معمولي خبره دومره وويرېدوچې يو زر پښتانه يې له کور چاپېره او د خوف نه ځان دننه بند کړو."

ښاي شاه جهان او دده مشاور هغه وخت په دومره لوې شمېر لښکر د پلازمينې سره نږدې په ليدو پخپله اندېښمن وځکه دوي هم پوهيدل چې پښتانه جنگ ته تيارو. ښاي دوي هم غوښتل چې خان جهان د خپل لښکر سره له اگرې ولاړ شي. هم دا وه چې خان جهان د سازش د خبرونو په راتلوهم له اگری وونه وتلو او دربار ته تگ يې بند کړو. دوو زرو افغانانو شپه او ورځ دده ساتنه کوله. کله چې شاه جهان دده په غېر حاضري خبر شو نو پوښتنه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه خو دده خسر اصف خان ورته سم ځواب ورنکړواو د باچا بد گوماني پرې زياته شوه.

باچايو تن اسلام خان ورپسی واستاو چې د دربار ته د نه ورتلو دليل وواي. هغه اسلام خان ته خپله وېره څرگنده کره او ورته يې وويل چې د شاه جهان په لاس ليکلې عهد نامه دی ورته راوړي چې دده ژوند به په امان کې دي. شاه جهان ورته ليک ورواستاو او اصف خان ورته په خوږه ژبه وويل چې که ته غواړې درويش شې نو مونږ ټول به هم درسره مله شو. خود خان جهان په دی خبرو تسلی و نه شوه. په اصل کې هغه دخپل ځان په شان دنورو اميرانوسره د شاه جهان چلن ليدو اواندازه يې کوله چې پايله به يې څه وي. هغه هر څه يې وسنجول نو اخر د اگری نه د وتلو هوډ يې وکړو. اصف خان ته يې د خپل ورتگ پيغام ورولېږلو چې باچا خبر کړي. دا څرگنده نه ده چې دا خبر باچا ته ورسيدو او که نه؟ خو مغل مورخ واي چې خان جهان پټه له اگری ووتلو.

د خان جهان سره لوې شمېر پښتنو نه علاوه، دده دوه زامن حسېن خان او عظمت خان ، دده وراره بهادر خان، دده زوم شمس الدين او دده دوه ورونږه محمد او محمود، بهيکن خان، بهادر خان، دريا خان، ايمل خان ترين، سردار خان ، عزيز خان اوکمال الدين ( د شېخ رکن الدين زوې) و. دا چې دريا خان ولی د اتو مياشتو په موده کې د شاه جهان د دربار نه بيا ووتلو او د پښتنوسره مله شو، تاريخ پرې گونگ پاته دې.

خان جهان او دده ملاترې، دهول پور ته رسيدلي و چې د شاه جهان له خوا ورپسې استول شوې پوځ را ورسيدو. په دی کې راجپوت او سېدان شامل و. دا خبره د حېرانتيا وړ ده چې شاه جهان ورسره د روغې يا د جرگې هڅه ونکړه او دی لښکر وربانديې يرغل وکړو. ددوي تر منځ سخت جنگ ووشو او د خان جهان دوه زامن، دوه ورونږه، زوم او شپېته نور کسان ووژل شول، دی پخپله هم ټپي شو. خو د چمبل د سيند نه پوری غاړی راجپوت سيمې ته په تلو کې کاميابه شو . په بندېل کهنډ کې بکرما جيت دده سره مرسته وکړه او دی د نظام شاهي سلطنت د احمد نگر ښار ته ( دکن ) ته ورسيدو. په لاره ده سره نور افغانان هم مله شول لکه سکندر دوتاڼي او بهلول ميا، چې د بالا پور جاگيرداران و.

نظام شاه دده ډېر قدر وکړو . دی يې خپل دربار کې پر مسند کښېنولو. د "بير" پرگنه يې د تنخواه په توگه اودده ځينو ملگرو ته يې هم زمکې ورکړې. شاه جهان اوس په تشويش کې شوځکه هغه ليدل چې د هند په لر او بر کې پښتانه بيا ناارامه و. هغه





پخپله دکن ته مخه کړه، او دا ځلی يې د نظام شاه د ختمولو هوډ هم وکړو.

د ١٦٢٩ م په سر کې شاه جهان د خپل ټبر سره يو وارې بيا ددکن د برهان پور ماڼۍ ته ورسيدو. په مغل کورنۍ کې د ليک ولوست او د شعر ډېر قدرکيدو. دشاه جهان مشره لور جهان ارا يو با استعداده ليکواله وه اود هغه وخت ځينې پېښې يې پخپلو يادداشتونو کې ليکل. د خان جهان په اړه ليکي، " نه پوهېږم چې څه وشول، خان جهان زما د پلار د ماشومتوب ملگرې و او يو بل ته به يې ډېر قدر کاوو. تالي بېگم چې زما د پلاربښځه ده د خان جهان د خپلوانو نه ده . هغې خوارې ته به اوس ډېر مشکل وي."

دشاه جهان په پوځ کې هم لوې شمېر پښتانه شامل و، الله داد (رشيد خان) احداد، مبارک خان نيازي، عبدالرحيم روهيله حبيب سور، خان جهان کاکړ، عثمان روهيله ( د بهادر خان تره) هغه سرداران دي چې نومونه يې د تاريخ په پاڼو کې پاته دي. د باره بستي يو بل پښتون منصب دار ديوان صدر خان چې د شېر پور د باني شېر خان کشر ورور و د شاه جهان نه بېل اوپښتنو سره يو شو. خو ددی سره سره د دريا خان زوې بهادر خان پخپله شېر خان ( شهباز خان ) او شېخ عبد الرحمان ( د رکن الدين زوې ) د مغلو په ډله کې جنگيدل. د خان جهان د بغاوت اغېزې تر مالوې او بندېل کهنډ ورسيدې.

دريا خان او خان جهان د خپل ملا تړ لپاره ، پېښور ته ليکونه ورواستول ، نوپه پښتونخوا کې هم خلک راپاڅيدل. د دريا خان اخښې شېخ کمال الدين د حکومت نه بېل شو . ځان سره يې خليل مومند ، داود زي، يوسفزي، برکلاني خټک ، ايمان حاجي او توري قبايل راپاره کړل . د احداد زوې عبدالقادر يې ددوې مشر کړو . د جلاله زوې کريم داد ته يې هم وويل چې خلک دی يو ځاې کړي او د روښاني انقلاب ناره دی پورته کړي. د احداد بل خپل محمد زمان هم د جنگ لپاره متې راونغښتې. په ١٦٣٠ م کې د کمال الدين په مشرۍ دا پښتانه د ايلم غره سره نږدې ( سوات او بونېر تر منځ) راټول شول چې په پېښور حمله وکړي. شېر خان چې د پېښورزمکه وال و، د قبايلو ديو لښکر په مرسته د اټک او ددی شاو خوا سيموخلک ځان سره کړل . پښتنو ښار محاصره کړې وخو دمغلو مشر کوماندان سعيدالظفر خان ورته د کابل نه نور پوځ راوغوښتواو دوي د دواړو غاړو نه راگېر شول. د څو ورځو د سخت جنگ نه وروسته دپښتنو ډلی تيت او دا پاڅون ختم شو.

خان جهان اوس خپلی کورنۍ سره بيجا پور ته ووتلو او پاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځ د دریا خان په مشرۍ ورسره یو ځاې شو . بیا ده دولت اباد ته ځان ورسوو. هلته دده ملاتړو ورته وویل چې د خپلی باچاهۍ اعلان دی وکړي . ده وویل، " زما د ژوند پنځوس کاله وتلی دی زه نه یم خبر چې ز ما نه وروسته به مې زامن د حکومت کولو جوګه وي او که نه . هر مغل به د ښارونو او کلیو نه افغانان شړي او بیا د افغانانو دکورخدمت ګاری به ما ته ښیراوې کوي چې دده د لاسه مونږ دی حال ته ورسیدو. زه دځپړووهل نشم زغملی."

اوس د هغه د ملاتړو لپاره د امېد هیڅ نښه نه وه پاته . دوي یو قوي پوځي مشر ته اړتیا لرله او خان جهان د مغلو سره جنګ نه غوښتلو. دی پوهیدو چې د جنګ په حالت کې به دواړو غاړو ته پښتانه وژل کیږي. په دی حالت کې یوځونور تکړه مشران تری ولاړل. بهلول او سکندر دوتاني په سر کې ترینه بیل شوي و. د نورو افغانانو سره د نظام شاه چلن ښه نه و . هغه افغان مهاجر چې د مغلو نه په تیښته ورغلي و،حېرانه پاته و چې څه وکړي. مغل پوځ د نظام شاه سره په جنګ کې پورا زور لګولی و او هلته یې یو څه بی ثباتی راوستې وه. د دریا خان، ایمل خان ترین او سردار خان روهیله په مشوره خان جهان اوس پنجاب ته د ورتلو قصد وکړوچې هلته دده د کومک امکان زیات و. خو د پښتونخوا د لښکر د ماتیدو نه خبر شو او مغل باچا دده د نیولو یا د وژلو لپاره د هند مرکزي برخو کې ورته هر ځاې کمین نیولې و، نو پنجاب ته یې د ورتللو نه ډډه وکړه. د دریا خان د کومک په انتظار ده په "بیرګاون" کې پوځي کېمپ لګولی وچې مغلو پری یرغل وکړو. دده ځینې جنګیالي ووژل شول نو ده په سیوګاون کې مورچې ونیولی. کله چې د دریا خان کومک راورسیدونو دوې د نظام شاه سره د یو ځاې کیدو لپاره بیا د دولت اباد لوري ته وخوځیدل. د شاهي پوځ دوه سرداران عبدالله خان فېروز او مظفر خان باره ورپسی و. خان جهان په سرونج کې د شاهي پوځ پنځوس پیلان ونیول اوکالپي ته د تللو لپاره بندېل کهنډ کې داخل شو. کالپي کې هغه وخت لوې شمېر افغانان مېشت و.

په ١٠٤٠ ه ( ١٦٣١ م ) کې د راجپوت لښکرو مشر بکرماجیت هم د خان جهان په لټه راوتلو. دی هم لکه دپښتنو پخوا د شاه جهان نه بېل شوي و او غوښتل یې چې بیا ورسره یو شي خو ددی لپاره هغه له پکار و چې ځان پت من وښاي. دخان جهان وړاندنیو پوځونو د مظفر خان سره جنګ کوو. دریا خان د بیلا بیلو جنګونو نه وروسته دپښتنو د جنګیالو په وروستي ډله کې و او په بندهر نومی ځاې کې د بکرما جیت پوځ د دریا خان دډلی نه کړۍ





په شان راتاو شو او دوي یې له نورو بېل کړل . هغه وخت د راجپوت د پوځ شمېره ډېره وه او دریا خان ددی جوګه نه و چې ورسره جنګیدلې واې. خو ده د عاقبت پرواه ونکړه او په راجپوت لښکرو یې ورودانګل. دی د ټوپک په یوی ګولۍ ولګیدواو د اس نه راپریوتو. دده جنګیالو دده د وژل کیدو وروسته هم جنګ جاري وساتلو . شلورسوه افغانان چې ددریا خان زوې محمود خان هم پکې و، ووژل شول نورود راجپوت پوځیانوکړۍ ماته کړه او د خان جهان د ډلې سره یو شول. بکرما جیت د دریا خان او د محمود خان سرونه پرېکړل او دباچا خدمت ته یې واستول چې ځان له بخښنه تر لاسه کړي.

شاه جهان په برهان پور کې په کشتۍ کې ناست و او د جنګ خبرونه به ورته ساعت په ساعت رارسیدل. کله چې د دریا خان سر یې ورته راوړو نو ده یو بېت وویلو

رفتم به سېر دریا دیدم عجب تماشا
دریا درون کشتي ، کشتي درون دریا

زه د سیند سېل له وتلی ووم او یوه عجیبه ننداره مې ولیده، دریا په کشتۍ کې و او کشتۍ په دریا کې .. دریا خان د مرګ پر وخت د نهه شلوېښتو کالو و.

خان جهان د دریا خان په وژنه نور هم مایوسه شو اوکالنجر ته یې مخه کړه چې دبهار ایالت ته ځان نږدی کړي. هلته هم لوې شمېر افغانان مېشت و. یوه ورځ خان جهان په ډولۍ کې ناست و او چیلم یې څکول. دده زوې راغې او ورته یې وویل که ته غواړې چې جنګ وکړې نو په اس سپور شه او حمله وکړه دا نور خلک ولې له ځانه سره تباه کوې. ده ځواب ورکړو ته باور لرې چې مونږ به د شاهي پوځ مقابله وکړی شو کاشکه د یو زخمي ښاروي په شان د هلو ځلو پرځاې یوه داسی لاره پیدا شوی وې چې زه مکې معظمې ته ولاړ شم . داخبره په ټوله مانا دا متل په ریښتیا کوي چې، " جنګ پرې ورتپل شوې و"

د خان جهان سره نه زور و او نه وسایل چې د باچا د پوځ سره جنګیدلی واې. مغلو دده د ماتولو لپاره په زوره دې د جنګ دګر ته ورایستلې و. کله چې دده ملاتړي او نور خلک خبر شول نو ورو ورو تری په بیلیدو شول. په زرګونو نور پښتانه چې د شمالي برخو نه ورغلي او د مال غنیمت یا د مغلو پر ضد راپاڅیدلی و دوي هم نا امیده شول. د کالنجر سره نږدی مغلو په یو چپاو کې دده زوې حسن خان ژوندی ونیولو.

د مان سون ( بارانونو) د پېل سره شاه جهان پخپل پوځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلون راوستو. د شاهي پوځ مشر سپه سالار، اعظم خان وټاکل شو او مهابت خان یې د اجمېر والي کړو. خان جهان اوس په راجوړي کې ایسار شو. دده سره څلور سوه سپاره و چې تر ورستیو ورسره پت من پاته شول. هغه دا جنګیالي په مېدان کې منظم ودرول. د شاهي پوځ نه بهادر خان روهیله راوتلو او د خان جهان د وراره بهادر خان لودي سره یې یو په یو جنګ پیل کړو. په دی جنګ کې بهادر خان روهیله ووژل شو.

شاهي پوځ ته نورکومک راورسیدو نو بهادر خان لودی مجبوره شو چې بېرته راشي. لنډ وخت وروسته دی د بهار سنګ بندېله له خوا مغلوب شو او په جنګ کې ووژل شو.

خان جهان خپل سفر جاري وساتلو. هغه اوس پوهه و چې که د مغلو لاس ته ورغلل نو د کورنۍ سره به یې ښه چلن نه کیږي هم دا وه چې ښځې او ماشومان یې په سیوګاون نومې کلي کې د نورو خپلوانوکورونو ته ورواستول او پخپله د وروستي جنګ لپاره د سپن هوندا سیند په غاړه دمی ته ایسار شو. هم دلته یې وصیت وکړواو خپلی زمکې یې وویشلې. په ۲۴ جنوري ۱۶۳۱ م کې ده توره را واخسته او دمغلو سره دوروستي جنګ لپاره په اس سپور شو. د سیند پر غاړه په دی جنګ کې هغه د خپل زوې عزیز خان سره ووژل شو . ایمل خان ترین، فرید خان، دده وراره جان جهان ، د هغه زوې او جلال خان چې د بهادر خان زوې و، ژوندي ونیول شول او د مظفر خان په امر هم هلته یې ووژل. د ټولو نه یې سرونه پرېکړل.

د شاه جهان د دور یو مصور تاریخ پادشاه نامه نومیږي . په دی کې د شاه جهان د فتوحاتو او د بیلا بیلو جنګونو په لاس کښل شوی انځورونه یو ځا شوي دي. په دی کې یو انځور د خان جهان د وژنې هم دې، او واي چې د شاه جهان د خوښې انځور و. په دی کې ښودل شوې، چې د خان جهان نه یې په ژوندو سرپرېکوي. خومغل تاریخ واي چې خان جهان او دده ملګري تر وروستیو شېبوجنګیدل او په اخر کې دی د مادهو سنګهه د تورې په ګوزار راپرېوتو او نورو پوځیانو ټوټې کړو. دده سر یې په نېزه ټومبلی برهان پور کې د شاه جهان ماڼۍ ته یوړو. د خان جهان لودي اود دریا خان سرونه د برهان پورد کلا په دروازه ځو ورځې ځړېدل چې نور باغیان تری عبرت واخلي. د مغل دربار شاعر،

طا لب کلیم املي د دواړو د سرونو په راتللو یوه رباعي وویېله چې

ایـــن مـــــژده فتح از پې هم زیبا بود





این کېف دوبالا چه نشاط افزا بود
از رفتن دریا سر پیرا هم رفت
گویا سر او حباب این دریا بود

ژباړه.

ددی زېري نه دا ورپسې زېرې ډېر ښکلی و، دغه دوچنده خوند زمونږ خوښي زیاته کړه . د دریا نه وروسته د پیرا ( پیر محمد) سر هم ولاړو. داسې ښکاري چې د پیرا سر ددغه دریا یو بوړبوړکۍ و.

د خان جهان په مقابله کې د مظفر خان په لښکر کې افغانان اوراجپوت شامل و . بهادر خان روهیله، خان جهان کاکړ، رشید خان انصاري( الله داد) ، احداد ، حبیب خان سور، مبارک خان نیازي، عثمان روهیله ( د بهادر خان روهیله تره). د دلاور خان زامن، جلال خان او جمال خان .

د خان جهان د جنګیالو نه دېرش تنه په تېښته کې کامیابه شول او ځینې سرداران یې یو واری بیا د مغل باچا دربار ته حاضر شول. هغه کس چې د باچا نه یې د ټولو لپاره معافي وغوښتله بهادر خان روهیله و او هم ده د نورو پښتنو د پاڅون په ختمولو کې فعاله رول ولوبو. ده ته په راجوړي کې د ښه جنګ کولو لپاره شاه جهان جاګیر ورکړو چې شل کاله ورسره و. د خان جهان د مړینې نه څو میاشتې وروسته د شاه جهان نازولې ملیکه ممتاز الزماني ( ارجمند بانو ) دبرهان پور په کلا کې د دیارلسم ماشوم د زېږون پر وخت مړه شوه. باچا د هغی په غم کې دحکومت د کارونو نه لاس واخستو. د هغې مړې یې د تاپتي سیند پر غاړه د یوې ماڼۍ په باغ کې امانت خښ کړو او شپږ میاشتې وروسته په اګره کې یې دمرمروجوړګومبد لاندې خاورو ته وسپارلو. په راتلونکو شلو کالو کې دلته نوری ګومبدې ، جومات او سرایونه جوړ شول چې اوس یې خلک د تاج محل په نوم پېژني.

دکن ترهغه د شاه جهان لاس ته نه و ورغلی او ددی د نیولو لپاره ورته جنګیالي پکار و. بل خوا په کالپي کې اوس راجپوت ده ته خطر جوړ شول. ددی لپاره پښتنو ته اړتیا وه نو ډېرېې بیرته په مغل پوځ کې ورګډ شول. بهادر خان روهیله یې کالپي ته ورواستوو چې راجپوت پری ووهي.

د دریا خان زوې بهادر خان د پوټ نه څلور میله لوېدیځ کې د بهادر ګړهه په نوم یو کلي اباد کړو . پوټ کې اوس لږ پښتانه پاته دي. پخپله دا کلی کنډوالی لري خود ګنګا سیند سېلابونو ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانۍ برجونه او کلا ګانې وراني کړي دي.







د خان جهان قتل په شاهجهان نامه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بهادر

د باره بستي پښتانه د بهادر خان او د دلېر خان په نومونو وياړي چې د دريا خان زامن و. دا دواړه ورونه د مغلو په پوځ کې، د کابل نه تر بنگال په بيلا بيلو جنگونو کې شامل و. په ۱۰۵۴ ه ( ۱۶۴۵ م ) کې بهادر خان د ډېلي نه پينځه لکه روپۍ قنوج ته ورواستول خو دکانټ د ځنګل سره نږدې راجپوت قبايلو په دی کاروان حمله وکړه او پيسې يې لوټ کړی. بهادر خان د بدل اخستو لپاره دخپل ورور جلال خان په ملتيا، د وو زرو پوځيانو سره برېلي ته روان شو او د چنور په مېدان کې د قبايلو سره مخ شول. په يو سخت جنګ کې د مغلو يولس سوه او د راجپوت هندوانو ديارلس جنګيالي ووژل شول. شاه جهان غوښتل چې دی قبايلو ته سخته سزا ورکړي او هم دا وه چې په دی سيمه کې ددوي ټول کلي يې ترې ضبط کړل. هغه بهادر خان ته دا دنده په غاړه کړه چې په کانټ کې دباچا په نوم يو ښار جوړ کړي. دا سيمه د برېلي او د لکهنو تر منځ ده او بهادر خان پرې د شاه جهان پور ښار بنياد کېښودو. د راجپوت هندوانو نه نيول شوي څوارلس کلي بهادر خان او دده اولادونو ته په جاګيرکې ورکړی شوې، چې خپل کورونه پری اباد کړي. د دلېر خان خپل نوم جلال خان و او دا لقب ورته شاه جهان د يو شاهي منصب سره ورکړی وچې نهه سوه پلي او پينځه سوه سپاره پکې شامل و.

بهادر خان د يوی کلا په جوړولو هم لاس پوری کړو خو هغه وخت د بلخ والي له مغلو د خپلواکۍ اعلان وکړو او بهادر خان ته امر وشو چې بلخ ته ولاړ شي. هغه د کلا جوړولوکارخپل ورور دلېر خان ته پرېښودو او په ۱۰۵۵ ه ( ۱۶۴۶م ) کې د افغانستان لوري ته ولاړو.

د بلخ او د بدخشان والي نذر محمد ازبک و او کله چې مغل کورنۍ پخپلو کې په جنګ اخته و، ده تر کابله پښې وغزولې. د شاه جهان د باچا کيدو وروسته ده تر باميان او غزني سيمې ونيولې او مغل صوبه دار هغه سره په جنګ کې د ځاني تاوان نه وروسته هند ته وتښتيدو. شاه جهان يو لوی لښکر د خپل زوی مراد بخش په مشري پېښور ته روان کړوچې د جنګي ډلوکوماندان يې





بهادر خان و. ده سره دده تره نېکنام هم مل وچې د دريا خان له مړينې وروسته په بازيد خېلو کې اوسيدو.

نذر محمدهم پخپلې کورنۍ کې د مخالفت سره مخ و او دده يو زوی د مغلو سره لاس يوکړی و. هم دا وه چې مغل پوځ د کابل له نيولو وروسته د پنجشېر د لارې بلخ ته روان شو. د ژمي په واوروکې وړاندی تګ د هندی پوځ لپاره ګران کارواو ددوي زيات وخت به د واورينو لارو په پاکولو تېريدو. نذر محمد دوي سره د جګړې پر ځای روغه وکړه اوشاه جهان ته خبر ورواستول شو. خوپه سيمه کې ازبک سردارانونذر محمد د ملاتړ ژمنه وکړه چې لس زره جنګيالي به ورسره شي. هم دا وه چې نذر محمد په پټه د بلخ نه ووتلو او په شبرغان کې يې مورچې نيولې. خو مغلو د دده ډلې دهری خوا نه راګېری کړی او د وړو وړو جنګونو نه وروسته نذر محمد، د ترکمانستان مرو ښار ته او زامن يې بخارا ته ووتل .

په دی برې، بهادر خان ته لس زريز منصب ورکړې شواو د خلعت نه علاوه شهزاده مراد بخش ورته دوه لکه روپۍ د بلخ د خزانې نه په انعام کې ورکړې. د بهادر خان وروړعنايت خان او تره نېکنام خان ته هم منصب او خلعتونه ورکړی شول. اوس مغل شهزاده مراد پلار ته پيغام ورواستوو چې دی نورد بلخ انتظام بهادر خان او نورو ته پرېږدي او پخپله اګری ته ورځي ځکه دی اوس ډېرستړی و. دا دهغه وخت د مغل شهزادګانو د حالت يوه بيلګه وه چې د اګرې او ډېلي د ارام او د عېش ژوندسره اوس عادت شوي و.

باچا ددی پيغام په اخستو په قهر شو. هغه پوهيدو چې نذر محمد به خپله سيمه نه پرېږدي او بېرته به راځي. زوی ته يې د نصيحت ليک او يو مشاور ورواستوو چې هغه دی په بلخ کې پاته وي. خو شهزاده مراد دا خبره ونه منله، بلخ يې بهادر خان ته وسپارلو او پخپله کابل ته وروخوځيدو، پلار ته يې وويل چې دی به شمالي سيمې له کابل اداره کوي. شاه جهان په دی خبر پخپله کابل ته ولاړو او څه موده يې ددی سيمې انتظام پخپل لاس کې واخستو. هغه په کابل کې د بابر باچا د قبر سره جوخت د يو جومات جوړولو امر وکړو او بېرته لاهور ته روان شو. باچا د بهادر خان په صلاحيت باور لرلو چې د ازبکانوسره لاس او ګرېوان و. دوي د آمو نه پوری غاړی نه په مغلوچريکي حملې کولې. نذر محمد د مرو نه اصفهان ته ورغلو اود ايران باچا نه يې د مغلو پر ضد مرسته وغوښته. هغه ورته انکار وکړو نو دی بېرته مېمنې ته راورسيدو. بهادر خان اوس د نوي جنګ لپاره تياري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چې د دریو ځایونو نه د حملی سره مخ و. د نذر محمد زامنو، سبحان قلي او عبد العزیز د دوو بېلوځایونو نه په بلخ د یوی لوی حملی لپاره هوډ کړی و. بهادر خان د وسلی زېرمتون په خان اباد کې ساتلې و، ځکه په کندوز کې به زیاتی حملی کیدې. خو د مغلو په پوځ کې شامل ځینو ازبک سردارانودکلیف د لارې راتلونکوازبکانوسره لاسونه یوکړل او په شبرغان کې یې مغل ځواک ته لوی تاوان واړولو. نذر محمد په مېمنه کې ورته لښکر راټول کړی و . شاه جهان له دی خبر شو نو د مقابلی لپاره خپل بل زوې اورنگ زیب یې کابل ته ورولیږلو. دی لښکر سره توپونه او هاتیان ( پیلان ) هم و او کله چې بلخ ته ورسیدل نو جنگي پلان یې جوړ کړو. په راتلونکو وو ورځو کې د علي اباد او فیض اباد سره نږدې دواړو حریفانوپه یو بل حملې پېل کړې او ازبکانو د چریکي جنگ د لارې خپل زور وښودلوخوددوې مرگ ژوبله ډېره وه. دشاه جهان په بادشاه نامه کې لیکلي دي چې پینځه شپږ زره ازبکان او د مغلود پوځ پینځه شپږ سوه کسان په دی جنگ کې ووژل شول. دا شمېرې که هر څومره مبالغې ته نږدې وې خو د جنگ پایله د نذر محمد ماتې وه. هغه له دی ماتی وروسته اورنگ زېب ته یو لیک وروا ستووچې پکې د شاه جهان نه یې بخښنه غوښتې وه. شاه جهان د بلخ په جنگ څلورکروړه ( څلویښت میلینه ) روپۍ لگولې وې چې پخوا یو جنگ کې هم ورته دومره مالي تاوان نه و شوې. بیا هم هغه د نذر محمد بخښنه وومنله او دی یې بلخ ته راوبللو. خونذر محمد ډاډمن نه و چې مغل به یې دومره په اسانه پرېږدي. فکر یې وکړو چې دا یوسازش و. خواست یې وکړو چې د مېمنې کلا دی لومړې ده ته خوشې کړې شي چې دی خپل خپلوان پکې مېشت کړي. اورنگ زیب ورته وویل چې بلخ ته راشه، چې دا ټوله سیمه ستا په لاس درشي. نذر محمد بیا هم ویریدو. خپل یواستاځې یې د مېمنې کلا ته وروا ستوو چې هغه وخت د بهادر خان لښکر پکې مېشت و. د نذر محمد استاځي ورته د هغه عذر او د اورنگ زېب ژمنه وروړاندې کړل او دا چې کلا دی هغه ته پرېږدي. بهادر خان فکر وکړو چې روغه شوې ده او دا سیمه به هسې هم ازبکانو ته ورکول کیږي نو کلا یې ورته خوشې کړه. خو دا د نذر محمد چل او د بهادر خان ساده توب و چې په هغه یې باور وکړو. د ژمنې سره سم نذر محمد اورنگ زیب ته حاضر نه شو او د ناروغي بانه یې وکړه. اوس هوا سړه شوې وه او اورنگزیب غوښتل چې د واوری له وریدو وړاندې د بلخ نه کوچ وکړي. هغه د خپل لښکر ځینې برخې د غوربند د لارې روانی کړې خو ازبکانو





وربانـدی چریکي حملې پېل کړې. بهادرخان د داسی څلورو حملو په تمبولو کې بریالې شو. د غوربند سره نږدې هزاره پری ورمات شول او مغل پوځ ته یې تاوان واړو. اورنگ زیب په تادۍ له دی سیمې ووتلو او کابل کې یې دمه وکړه، خو بهادر خان د پاته لښکر سره په هزاره سیمه کې د واورو په طوفان کې راگیر شو. دوې د خزانې شل لکه روپۍ هم له ځانه سره ووړلې. ددوې څاروي او اسونه په طوفان کې مړه شول او ځاي خلکو هم وربانـدې ناتار گډکړو. بهادر خان د سیمې خلکو نه د اسونو د پلورلو هڅه وکړه خو هیچا ورته څاروې نه ورکول. نږدې وه چې ددوې خزانه هم لوټ شوې واې، خو بهادر خان د روپوکسوړي د پوځي ډلو مشرانو ته وویشل چې په ځانونوپورې یې وتړي. دوې په پښو مزل وکړ او ډېر په تکلیف یې کابل ته ځان ورسوو. اورنگ زېب د هغه د راتلو انتظار هم ونکړو او پېښور ته یې پښې سپکې کړې وې. هلته په ډېلې کې د بلخ ددی ناکامه جنگ پړه ځینو درباریانو په بهادر خان واړوله.

بلخ ته د تلو نه وړاندې، بهادر خان له شاه جهان امراخیستې و چې په نوي ښار شاهجهان پور کې به د پښتونخوا خلک اوسیږي. کله چې دې هم د کابل نه پېښورته ورسیدو نو له دی ځایه نهه زره خلک کډې کولو ته تیار شول. بهادر خان غوښتل چې دی پخپله ددی قافلې مشري وکړي او تر پنجاب ورسره روان و. په لاره کې چا ورته د اگرې د دربار خبر راوړوچې باچا ترې ناراضه دی او په اړه یې شک من دې چې په بلخ کې یې سستي وکړه او جنگ یې ورته ونه گټلو. د سزا په توگه شاه جهان په قنوج او کالپي کې د بهادر خان د جاگیر او پرگنو د ضبط امر هم کړې و. دده لپاره دا د اندېښنې وړ خبر و. د پښتنو د بدرگه کولوکارېې خپل تره نېکنام ته وسپارلو او د خپل سپیناوي لپاره په تادۍ اگرې ته روان شو.

هلته ده شاه جهان ته د جنگ حالات، د شواهدو سره بیان کړل خو هغه یې قانع نکړې شو. اورنگ زېب اوس هغه لوبه د پلار سره پېل کړې وه چې یو وخت شاه جهان د جهانگیر سره کوله. د ورونو او د هغوي پله ویانوپر ضد سازشونه اود پلار غوږونو ته غلط خبرونه رسول. بهادر خان د مېمنې د کلا په اړه د خپلې فېصلې دلایل او حالات باچا ته واورول. بیا د خپل ښه نیت او د تېرو خدمتونو د یادونې لپاره درېم گړو او مشراو ته زارۍ وکړې او شپږو میاشتو کې دی جوگه شو چې شاه جهان قانع کړی. باچا ورته په قنوج او کالپي کې دده ضبط شوي جاگیر بېرته بحال کړو او د خلعت په ورکولو یې له دربار رخصت کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرټ نه دوه دېرش میله ختځ په بهادرګړهه کې پخوا راجپوت اوسیدل او ددی نوم ګډهه تانتوا و. کله چې شاه جهان پر تخت کښېناستو نو بهادر خان ته یې دا سیمه د جاګیر په توګه ورکړی وه. دا یو شاړ او بی اباده ځاې و چې بهادر خان پکې د کلا په جوړولو لاس پورې کړې واو ددی د پورا کولو کار یې دلېر خان ته سپارلې و. دا ځاې یې بهادر ګړه نومولې و. د بلخ نه په راګرځیدوده ځو ورځې پخپلې نوي کلا کې تېرې کړې او بیا یې دا خپل ورور عنایت خان ته وسپارله. په بهادرګړهه کې اوسیدونکي پښتانه ،د عنایت خان د اولادونو نه دي چې هم دلته یې مقبره جوړه ده. عنایت خان پخپله هم د شپږو سوو عسکرو منصب دار او په بلخ کې یې په مېړانه ورته باچا منصب لوړ کړې و. عنایت خان د اورنګزیب په لښکرو کې ورسره مله و. دده سرکاري لقب دیوان عنایت خان و او ښاي ولوستې او هوښیار وځکه د دیوان عهده د وزیر سره برابر وي. دده د څلورو مېرمنو نه نهه اولادونه و او دده له مړینې ورووسته دده مشر زوې عالم خان د پلار میراث په ټولو مېندو برابر وویشلو. خو د هغه وروستۍ مېرمنه مړه وه او دهغې دریو زامنو ته یې پینځه بسوې زمکه د ګوزارې لپاره ورکړه. په دی ناانصافي هغوي اعتراض وکړو او یو ورور یې په مرموزو حالاتو کې مړ شو. پاتو دوو ورونو د خپلې برخې زمکه خرڅه کړه او په پوټ کې مېشت شول. بهادر خان اودده ورونو د خپلو اولادونو ودونه پخپلو کې کړي واو دا دود تر ډېره نورو کورنیو هم پاللو.

د شاهجهان پور ښار باون محله ( دوه پنځوس محلتونه ) په اتر پردېش ایالت کې نوم لري. دا محلې، د پښتنو د بېلا بېلو ټبرونو پر نوم اباد دي او ځینې نومونه یې اوس هم پاته دي. بهادر خان خپله کورنۍ نوی اباد شوي ښار شاه جهان پور ته یوړه او هلته یې د بهادر ګنج په نوم یو محلت اباد کړو. دلته د ودانیو سلسله په ۱۰۵۴ ه کې پیل شوه او د ۱۰۵۷ تر وروستیو پکې د پخو خښتو یو جومات او ورسره یو کوهې د اوبو لپاره جوړ شول. په جومات کې شیشه کارول شوې وه نوځکه عامو خلکوورته د کانچ (شیشې) مسجد نوم ورکړو. په دی یوه څلوریزه په فارسي ژبه لیکل شوې ده چې د جومات د جوړیدو نېټه ( ۱۰۵۷ ه ) پکې څرګندیږي.

شد مرتب بدور شاهجهان......دروطن دلکشا بهادر خان
مسجدوچاه ساخت خواجه بلند....سال تاریخ نغز شد بجهان

بهادر خان پخپل جاګیر قنوج او کالپي کې سرایونه، باغونه، او





ښایسته ودانۍ جوړی کړې. په قنوج کې د د شبخ کبیر بالا مزار یې پوخ او د زیارت کوونکو لپاره یې دالان جوړکړو. ددی په ګومبده په یوه کتیبه دده نوم او ورسره لیکلې شعر تر اوسه لیدل کیږي. په اله اباد، لاهور، او زاړه ډېلي کې د بهادر پور نومې محلتونه ده اباد کړي و. بهادر خان د فارسي شعر هم ویېلو او د یو غزل مقطع یې داسی ده.

اې بهادردر جهان هر باغ داردمېوۍ.
مېوه باغ بهادر خنجروپیکان بود

( اې بهادر، په نړۍ کې ټول باغونه مېوې لري خو د بهادر د باغ مېوه خنجر او غشې لیندۍ و)

بهادر خان د یو څه مودې لپاره د بندېل کهنډ صوبه دار شو نو د سیمې انتظام ډېر په ښه توګه کاوو او هلته یې د ځاې خلکو غوښتنې په پام کې ونیولې. شاه جهان په دی راضي و ولې نه یې غوښتل چې هغه د خان جهان په شان اغېزه پیدا کړې. په شاه جهان پور کې د پښتنو ابادول په دربار کې د سازشونو نوي لړۍ پیل کړه. ځینو امیرانو د باچا پام دی ته راواړوو چې د روهېل کهنډ په شان پښتانه چې یو ځاې شول نو خپل حکومت به جوړ کړي. د ایران باچا په ۱۰۵۸ ه کې کندهار د مغلو نه بیا ونیولو نو شاه جهان خپل زوې اورنګزېب د یو لوې لښکر سره ورواستاو. بهادر خان هغه وخت په ملتان کې صوبه دار و او دې یې هلته هم ددی لپاره ساتلې و چې د کندهار د نیولو پر وخت د اورنګزېب ملاتړ وکړي. بهادر خان د خپلو ځواکونو سره کندهار ته ولاړواو د کلاد نیولو لپاره یې د مورچو په کنستلولاس پورې کړ. د رجب په نولسمه نېټه په ۱۰۵۹ ه ( ۱۶۵۰ م ) ناڅاپه دې د زړه له بندیدو مړ شو. دده ملګرو یې مړې شاهجهان پورته یوړو او هم هلته په بهادر ګنج کې یې خښ کړو چې مقبره یې اوس هم شته. بهادر خان د څلور څلوېښتو کالو و او پخپل منصب ورته د کال پینځویشت لکه روپۍ معاش ورکړې کیدو.

اورنګ زیب له خوا تر ډېرو هڅو هم د کندهار دمغلو لاس ته ورنغلو او اخر شاهجهان چې هغه وخت په کابل کې و، د محاصرې د ختمولو امر وکړو. کله چې دې بېرته ډېلي ته ولاړو نو د بهادر خان زامن او خپلوان یې دربار ته راوبلل. د بهادر خان ټولې زمکې او جاګیرونه یې د هغه وارثانو ته ورکړل اوهاتیان ( پیلان )یې ترې واخیستل چې شمېره یې د سلو نه زیاته وه. دده مشر زوې دلاور خان هغه وخت د پینځلسو کالو و. ده ته یې د یو زر عسکرو او پینځه سوه سپارو منصب او نورو ته یویشت اسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پنځوس زره روپۍ نغدې د تسليت په توگه ورکړې. دده لس زامن وچې تر ټولو کشر عزيز خان نوميدو. دده مشرې زوې دلاور خان په کابل کې د پينځويشتو کالو په عمر کې مړ شو. نور زامن يې د اورنگزېب په پوځ کې شامل و او عزيز خان د نوي کالو په عمر کې مړ شوې و. عزيز خان ته د مغلو واکمنو له خوا، بهادر روهيله او چغتاي، خطاب ورکړې شوي و. دده له اولادونو ځيني اوس هم په شاهجهان پور کې ژوند کوي.





## دلېرخان

د ميلادي کال ١٦٥٧ د سپرلي هوا توده شوې وه چې شاه جهان د تشي په ناروغۍ اخته شو. دده مشر زوې، داراشکوه يو عالم او دين دارکس خو په دربار کې يې ايراني شيعه گانو تر اغېز لاندې و. بل زوې، شجاع الملک د بنگال حاکم ، درېم اورنگزېب د دکن اوتر ټولو کشر مراد بخش د گجرات سيمه په لاس کې لرله. هم هاغسي چې توقع يې کيده. د باچا په څلورو زامنو کې واک ته د رسيدوسيالي پيل شوه. شجاع او مراد، دواړو په خپلوصوبوکې ځانونه د هند واکمن اعلان کړ. اورنگ زېب په دکن کې په ښکاره د واک اعلان نه وکړې خو په پټه يې د مشر ورور دارا شکوه پر ضد فعاليت پيل کړو.

څه موده وروسته، شاه جهان بېرته روغ شو نو د دارا شکوه په مشوره، خپلو دوو زامنو ته د سزا ورکولو لپاره يې لښکر جوړکړو. دلېر خان او نور سرداران چې دکن ته يې وراستولي و، بېرته اگرې ته راوبلل او د داراشکوه زوې، سلېمان شکوه په مشرۍ دا لښکر بنارس ته ورسيدو. هلته دوړاندې نه شجاع د گنگا پر غاړه ورته خېمې لگولي وی. د سلېمان شکوه مشاور، راجه جې سنگه خبر و چې شجاع د عېش او ارام خوښوونکې ونو د يو ناڅاپي حملې مشوره يې ورکړه. د حملې پر وخت شجاع پخپلې کېډۍ کې ويده واو تر څو چې د جنگ لپاره يې ځان جوړو، دده پوځ ماته خوړلې وه. هغه وارخطا په يوې کشتۍ کې کښېناستو او پټنې ته وتښتيدو. دده پوځ او توپ خانه د مال خزانې سره سلېمان شکوه لاس ته ورغلل. ددی بريالي توب لپاره د دلېر خان منصب درې زره پلي او درې زره سپارو ته ورزيات شو.

د دلېر خان خپل نوم جلال خان واو د پلار( دريا خان) د مړينې پر وخت دې د يولسو يا دولسو کالو و. ده د خپل ورور بهادر خان تر سيوري لاندې جنگي مهارت او زدکړې تر سره کړې. په ١٦٣٧ م کې دی خپل ورور بهادرخان له خواد شاه اباد، برېلي ، رام پور اوپه انوله کې د راجپوت او د پښتنو سره د جنگونو لپاره وروا ستول شو او شاه جهان ورته نهو سوو پلو او د پينځو سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپرو لومړي منصب ورکړی و. کله چې بهادر خان په بلخ کې بوخت و،نو د شاه جهان پور د ابادولوکار جلال خان پخپله غاړه اخستې و. د بلخ د پېښې نه وروسته کله چې باچا په قنوج او کالپي کې د بهادر خان جاګير ضبط کړونو د جلال خان منصب لوړاو د دلېر خان د خطاب سره يې ددی زمکو فوجدار وټاکلو.

شاه جهان د دکن د نورو ښارونو د نيولولپاره اورنګزېب د هغه سيمې فوجدار وټاکلو نودکومکي پوځ په سر کې دلېر خان و. د شجاع د ناکام بغاوت نه وروسته، اورنګزېب خپل زوې معظم په دکن کې پرېښودو او په ګجرات کې د شهزاده مراد سره يو ځاې اګرې ته نږدې شول. ددوي د مقابلې لپاره داراشکوه پخپله متې راونغښتې، خو هغه په پوځي ډګر کې کمزورې و. د ښار نه څو ميله بهر په سخت جنګ کې داراشکوه ماته وخوړه او د ډيلي په لوري وتښتيدو. په دی جنګ کې ددلېر خان کشر ورور يوسف خان هم ووژل شو.

اورنګ زيب د اګرې ښار ونيولو، شاهجهان، خپله مشره خور جهان ارا او د کورنۍ نور غړي په کلاکې بندي کړل او پخپله د مشر ورور سره جنګ لپاره ډيلي ته ولاړو. د داراشکوه زوې سلېمان شکوه هغه وخت د پټني نه اګرې په لوري روان و چې په لاره کې يې د پلار د ماتې خبر تر لاسه کړو. ده د راجه جې سنګه نه پوښتنه وکړه چې اوس څه وکړي. هغه ورته ووېل چې پلار ته ورشه خو پخپله ورسره د تلو نه يې ډده وکړه اوڅرګنده يې کړه چې دې به د واک په دی جنګ کې د اورنګزېب مله وي. سلېمان په دی ناهيلې شو او له دلېر خان يې وپوښتل چې څه وکړي. هغه ورته ووېل چې بېرته اله اباد او له هغه ځايه د ګنګا د سيند نه پورې غاړه، دده د ورور اباد کړې ښار شاهجهان اباد ته ورشي. هلته هر څومره کسان چې غواړي په پوځ کې به ورسره شامل شي. خو دلېر خان وربانديې دا شرط هم کېښودو چې هر څه به دده په خوښه کوي. شهزاده دده شرط ومنلو او په بله ورځ اله اباد ته د ورتلو اراده وکړه.

کله چې راجه جې سنګه ددی نه خبر شو نو دلېر خان يې راوبللو. هغه دده نږدې ملګرې او په عمر کې ترې مشر و. ده ته يې د مغل کورنۍ د چلن او دده د فېصلې تاوانونه ورپه ګوته کړل چې اخر به دده د کورنۍ په تباهۍ پاې ته رسيدل. دلېر خان يې اړکړو چې د کمزورې شهزاده پرځاې تکړه اورنګ زېب ته پټ من ووسي. په بله ورځ سهار سلېمان شکوه ورته د اله اباد ته د تلو وويل نو دلېر خان ترې معذرت وکړواو د خپلوقواو سره هم هلته





پاته شو.

بيا د جې سنګه نه هم درې څلور ورځې وړاندې دلېر خان د متهرا سره نږدې د اورنګ زېب کېمپ ته ځان ورسوو او سرېې ورته ټيټ کړو. اورنګزېب د سوغاتونوپه بدرګه دده منصب ورلوړکړو چې "پنج هزاري" شو. هغه ته يې لومړې دنده دا وسپارله چې شهزاده مراد (چې هغه وخت د اورنګزېب مله ) و، ونيسي او د سليم ګړه کلا کې دې بندي کړي. دلېر خان هم دغسې وکړل او په انعام کې اورنګ زېب د لکهنو فوجدار وټاکلو. دده زوې جمال خان يې نايب صوبه داراو ورته يو زريز منصب ورکړو.

داراشکوه د ډيلي نه لاهور ته ورغلې او هلته د يو پوځ په راټولولوبوخت شو. دده زوې سلېمان شکوه د سهارن پور نه لاهور ته د تلو لپاره لارې لټولې او اورنګزېب دده د مخ نيوي لپاره پخپله پنجاب ته روان شو. ده ته نجوميانو ويېلې و چې د ١٠٦٨ هجري، د ذيقعد د يوې جمعې ورځ پر شاهي تخت د کښېناستو لپاره مبارکه ورځ وه. خو اورنګ زېب سره وخت نه و. په ډيلي کې دده د پلار په نوم نوې ښار شاه جهان اباد او ددی کلا اوس جوړ و ( داسيمه اوس پرانې ډيلي او لال کلا نوميږي) اورنګ زېب په دی کلا کې په شاهي تخت کښېناستو او د نوي حکومت اعلان يې وکړو خوميلمستيا او جشن يې وځنډول. د نورو سردارانو سره دلېر خان ته يې هم په دی موقع منصب اوامتيازات ورکړل. ده خپل يو لښکر دسلېمان شکوه د مخ نيوي لپاره سهارن پور کې د جمنا سيند غاړې ته ورواستول. خو سلېمان د اورنګ زېب له وېرې، د کشمير غرونو ته ووتلو اوپه سرې نګر کې تم شو. اخوا دارا شکوه د لاهور نه دجنګ لپاره روان شوی و خوپه مقابل کې د لوې لښکر حال په اوريدو خپل بل زوې سپهرشکوه يې ځان سره کړو او ملتان ته ولاړو. ده سره اوس د کور مېرمنې او نور غړي هم مله و او لکه د کډوالوخپل ژوند د ژغورلو په غم کې و. اورنګ زيب لاهور ته ورسيدو او هلته يې هم د خپل واک اعلان وکړو. له دی ځايه هغه دارا شکوه پسې ملتان په لوري روان شو خو خبر شو چې هغه سکهر ته تللې و.

په دی وخت کې د اورنګ زېب بل ورور شجاع د بنګال نه بيا سر راپورته کړونو اورنګ زېب د ملتان نه په تادۍ لاهور او ورپسې ډيلي ته ولاړو. داراشکوه پسې يې د خپلو تکړه سردارانو په مشرې يوه لښکر روان کړو چې دلېر خان هم پکې و. دوي په سکهر کې خبر شول چې داراشکوه د خپل کورغړي هم هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښي او پخپله د معمولي خزانې سره ټهټه ته وتلې و. له هغه ځايه ده گجرات ته مخه کړه او دلېر خان په دی وخت کې د اورنگزېب پيغام تر لاسه کړو چې نور ورپسې وړاندې مه ځئ.

شجاع او د اورنگ زېب تر منځ په اله اباد کې سخت جنگ ووشو اوشجاع يوځل بيا له مېدانه وتښتيدو. د دلېر خان لښکر په روپ بانس کې د باچا سره مخامخ شواو تر اجمېر ورسره ولاړل. تر هغې داراشکوه د راجپوتانه د هندوانو په مرسته او د گجرات د صوبه دار شاهنواز خان په ملتيا دويشت زروکسانوجنگي لښکر تيار کړې او په اجمېر کې يې خېمې ټک وهلې وې. دده سره د راجپوت جنگيالو نه علاوه لوې شمېر ايراني سرداران مله و. هغه خپله توپ خانه د اجمير په غونډۍ لگولې وه چې ښکته د اورنگ زېب په لښکر يې گولې ورولې. د اورنگزيب په لښکر کې يوسل او ځليرويشتو سردارانو کې د يو نه علاوه نور ټول پښتانه و. درې ورځې سخت جنگ روان واو د دلېر خان سره، د بهادر خان زامن همت خان، رنمست خان اودده نور ورېرونه مله و. باچا د فشار سره مخ و، خپل ټول سرداران يې راوبلل اوددوي غېرت يې را ننگوو.

په بله ورځ تود جنگ ونښتو او د دواړو غاړو مېړني ووژل شول . دلېر خان په لاس د يوغشي ټپ وخوړو،خو اخر جنگ يې وگټلو. دارا شکوه د شپې په تياروکې د خپل زوې سپهر شکوه سره گجرات ته وتښتيدو. اورنگ زېب د باره بستي د پښتنو منصبونه لوړ کړل او دلېر خان ته يې پخپله پنځوس زره روپۍ انعام ورکړې. ددی برې نه وروسته اورنگ زېب دډېلي په کلا کې د خپل باچا کيدو جشن جوړ کړو او په دواړو لاسونو يې سره، سپين او ملغلري خلکو ته وويشل. د مغل سلطنت پلاز د اگرې نه ډېلي ته کډه وکړه او شاه جهان د خپلې لور سره د کلا د يوې کړکۍ نه د تاج محل په ليدو د ژوند پاته کلونه تېرکړل.

اوس نوي باچا ته لومړې مخالفت په کور کې ودريدو. د اورنگ زېب زوې سلطان محمد چې د اله اباد نه پلار د شجاع سره جنگ له لېږلې و، خپل تره ته واوړيدو او هغه ورله خپله لور په نکاح کړه. شاهي لښکر دشهزاده د اتاليق تر څارنې بې سالاره پاته و. اورنگ زېب دلېر خان راوبللو چې ددی پوځ کومانده پخپله غاړه واخلي. د برساتونو په موسم کې د دواړو غاړو پوځونو کله په يو ځاې او کله بل کې د کشتيو پلونه جوړول او اکمالات يې يوې او بلې خوا وړل. د شجاع د مرستې لپاره د ده مشر زوې زېن الدين د تازه کومک سره مله شو. د وړو وړو جگړو لړۍ روانه





وه چې يوه ورځ شهزاده سلطان محمد د خپلې مېرمنې سره د خسر ( تره) له کېمپ د شپې راوتلو او په کشتۍ کې بېرته د خپل پوځ کېمپ ته راغلو. شجاع هغه وخت خپل کشر زوې بلند اختر ورپسې ولېږلو. د سيندونو اوبه ختلې وې او د غشو او توپو نه زيات جنگيالي په اوبو کې لاهو کيدل. هم دغسې يوې جگړې پر وخت د دلېر خان زوې فتح خان د يو زرو کسانو سره د سيندپه اوبو کې لاهو شو. د باغي شهزاده حال هم بد و او سر تندې يې نه لگيدو. اخر په بده ورځ له ټانډه وتلو او جهانگير نگر ته يې مخه کړه. خو د اورنگزېب لښکر ورپسې و، تر څو دی د بنگال له خاورې ووتلو اوپه سمندر کې يو ټاپو ته ولاړو. له دی وروسته دا شهزاده د خپلې کورنۍ سره تري تم شو.

داسې ښاي چې اورنگزېب چې کله شهزاده و نو د پښتنو سره يې زړه سوي لرله. په يو ليک کې دې د شاه جهان په هغه فېصله حېرانتيا ځرگندوي چې دده له خوا د يو پښتون افسر د منصب لوړلو مخالفت و. هم دا وه چې پخپل پوځ کې يې لوې شمېر پښتانه واخستل. دلېر خان د سپه سالار معظم خان سره د اورنگزېب لپاره زمکې نيولې او د هغه په امر بهار نه وروسته اسام لوري ته يې ورواستول. د اسام په لښکر کې رشيد خان ( الله داد ) هم شامل و. د کوچ بهار په ګڼو ځنگلونو کې يې د پوځ د ورتلو لپاره لارې جوړولې او د پيلانو په زور لوې او زړې ونې يې له بېخه ويستلې. دلته زمکه د بارانونو له کبله نرمه او هر ځاې ختې او ځنگلي بوټو ورته مخه نيوله. د اسام د راجه لرغوني کلا، د برهم پتر سيند پر غاړه يوې غونډۍ جوړه وه او هغې ته رسيدل يو ناممکن کار بريښېدو. په کلا کې پينځلس زره پوځ د توپخانې سره مېشت و او په سيند کې درې نيم سوه کشتۍ د دفاع لپاره ولاړې وې. د دی ځاې خلکو کله چريکي جنگ کوو اوکله د ځينو سيمو راجگانو ورسره د جنگ پرځاې روغه وکړه. د جمدهر نومې کلا ډېره پخه او چارچاپېره تري د اوبو خندق جوړ و. دلېر خان په يو پيل سپور له دی خندق تېر شو او په پينځو غشو ټپي شو خو د کلا د دروازې په ماتولو کې بريالي شو او مغل پوځ چې زياته برخه يې پښتانه و، کلا ته ننوتو. د پوځ مشر خان خانان (معظم خان) په دی برې دومره خوشاله و چې دلبر خان ته يې غېږه ورکړه. ددی ځاې راجه خپل مال ، کورنۍ او د سلو پيلانو سره وتښتيدو او اسام په مغل واکدارۍ کې شامل شو. خو د بارانونو او د اوبو په زيات والي دلته په پوځ کې د اسهال او د ملاريا وبا گډه کړه. پخپله خان خانان هم ناروغه شواو څو ورځې پخپلې خېمې کې پروت و. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسام خپاره جنگيالو له دی گټه واخسته خودده پوځ ته د لوی زيان د اړولو جوگه نه و. د اسام راجه د صلح لپاره خبرې اترې پيل کړې او اخر د مغلو د شرايطو په منلو يې روغه وکړه چې يوه پکې مغلو ته ځلور زره جنگيالو لښکر ورکول و. ددوو راجه گانو يوه يوه لور د باچا په نکاح کې ، شل زره توله ( دوه نيم زره کيلو) سره زر، يو لک او شل زره توله ( دولس نيم زره کيلو ) سپين ، سره يې ورواستوي. ددی نه علاوه، پينځلس پيلان سپه سالار، او پينځه يې دلبر خان ته وروسپارل. په يو کال کې دننه درې لکه توله ( شپږ دېرش زره کيلو ) سپين زراو نوي پيلان په شاهي خزانه کې داخل کړي. بيا هر کال پينځلس پيلان دې ورته استوي. ددی نه علاوه د راجه ځلور زامن به د شاهي پوځ سره د ضمانت په توگه په بنگال کې پاته وي. ددی هر څه ډېلي ته د اوړلو دنده د دلبر خان په غاړه شوه. خان خانان يو وارې بيا ناروغه شو او د بېرته تگ پر وخت په لاره کې مړ شو.

په دکن کې مرهټو اوس د سيوا جې تر مشرۍ لاندې د خپلواکۍ جنگ پيل کړې و او دده د ماتولو لپاره جې سنگه د څوارلسو زرو لښکر سره روان شوی و. دلبر خان ته هم ددی پوځ د ملتيا ووبل شول او ده لا خپلې کورنۍ سره هم نه و ليدلي چې دکن ته روان شو. د دکن په پونه کې ده ته د لومړنيو دستو کومانده ورکړې شوه او دې د يوې خطرناکه درې نه دغشو او گوليو په باران کې د لښکر سره بره غره ته وختلو. د غره د پاڅه جوړ دوه کلا گان يې محاصره کړل او خپل دوه وربرونه مظفر خان او غېرت خان ( د بهادر خان زامن ) يې د دواړو کلا گانو په منځ کې د ډلگيو په مشري ودرول. په کلاگانو د توپو ډزې کيدې او د يوې کلا برج راپرېوتو نو دلبر خان وربانديې وختلواو مغل بېرغ يې پرې ولگولو. د سيواجي جنگيالو په مېړانه جنگ وکړو خو اخر روغې ته اړ شول. هغه پخپله جې سنگه په خدمت کې بې وسلې حاضر شو او کلا خوشې کولو ته يوه ورځ وخت وغوښتو. راجه جې سنگه ، د مرهټو مشر دلبر خان ته بوتلو او د هغه په وړاندې د روغې شرايط ومنل شول. په يوه کلا کې هغه وخت وو زره کسان چې ښځې او ماشومان هم و، دوي بهر راوتل نو دلبر خان سيواجي د لاس نه نيولې، راجه جې سنگه ته راوستلو اود خپل لوري نه يې ورته سوغاتونه ورکړل. سيواجي د کلا کنجيانې د سپارلو پر وخت ووبل ، " د داسې پوځيانو سره جنگ عبث دې چې اورنگ زېب پرې سرلوړې دي. " ددی برې په انعام کې اورنگ دلبر خان د وو زرو عسکرومنصب دار کړو. ددی نه علاوه هم





ورته نور سوغاتونه چې يو پيل د سپينو زرو په ساز سمبال و ورکړل.

د مرهټو نه وروسته، اورنگزېب د بيجاپور( دکن) د واکمن علي عادل شاه ته پام وکړوچې په پټه يې د مرهټو ملاتړاو د مغلو سره د جنگ لپاره يې ورته پيسې ورکړې وې. خو په بيجاپور کې عادل شاه په کلا کې ځان بند کړې اوددی سيمې ټول د اوبو سرچينېو کې خاورې او زهر ژن بوټي اچولي و چې دښمن زيات وخت هلته پاته نشي. دلبر خان له ځان سره درانه توپونه نه و راوړي او په چټکۍ د نږدې سيند ته ولاړل او هلته يې قيام وکړو. د څو جنگونو نه وروسته د نورو سيمو د زميندارانو نه د ماليې اود جنگ د نه کولو په بدل کې د تاوان او پيسو راټولو کار په کاميابې سره وکړل. د شاهي امر سره سم، دې به يو سيمې راجه ته پيغام ورواستوو او له هغه به يې سره زر، پيلان يا اسونه واخيستل او سرکاري اسناد به يې ورکړل . د دلبر خان دا تگ لاره د هغو پښتنو د رااړولو لپاره يو اغېز من گام و چې په دکن کې د مسلمان رياستونو سره مله و. په دی وخت کې د بيجا پور نه لوې شمېر پښتانه سرداران د اورنگ زېب په څواک کې د گډون لپاره واوختل او د دکن سيمې د واک توله نا انډول شوه. خو اورنگ زېب ته په دی وخت کې د پېښور يوسفزو پاڅون کړې و او هغه خپل زوې سلطان معظم د دکن نه ليرې او د افغان سيمو ته د تلو امر وکړو.

د دکن د جگړې سالار د گجرات ناظم خان جهان بهادر کوکلتاش ته وسپارلو. ده د دفاعي جنگ پلوي کوله او باچا ته يې وړانديز وکړو چې د مرهټو د راتگ يا د حملو پر لارو دی پوځيان ودرول شي او هر وختې چې دوي حمله کوله، هم هغه ځاې به مات کړې شي. دلبر خان دا وړانديز خوښ نه کړو ځکه هغه د مرهټو څواک ماتول غوښتل او سپه سالار ته يې ووبل چې په دفاعي جنگ به مرهټه نور هم پياوړي شي. خو دده نظر ته چا درناوې ونکړو . ددی په پايله کې مرهټه هغو سيمو ته نه ورتلل، چې مغلوپکې کمين نيولې و، بلکه د غرونو او درو نه نويو لارو ته وتل او د مغلو د واک په سيمو کې به يې لوټ مار وکړو او وتښتيدل. ورپسې جنگونو کې مغلوډېر زيان وموندلو .

اورنگ زېب هغه وخت پخپله په حسن ابدال کې و او د دکن د جنگ لپاره يې فرمانونه لېږل. دلبر خان ته يې د سالهير د کلا نيولو ووبل چې مرهټو د مغل صوبه دار نه اخستې و. خو ددی کلا په محاصره کې د دلبر خان ډېر ملگري د ناروغۍ د لاسه مړه شول و اخر د باچا په امر محاصره پاې ته ورسيده. دی يې له دکن

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوبللو او د ملتان صوبه دار یې وټاکلو. څو څه موده وروسته خپل دویم زوی محمد اعظم یې ملتان ته او دلېر خان بېرته دکن ته ورواستول شول. ده څو میاشتې په دکن کې په چریکي جنګونو د مرهټو سره مقابله کوله او د فوجدار په حېث یې له باچا ،په ګولکنده د حملې امر واخیستو چې ددې والي قطب شاه د مرهټو مرسته کوله. په دی حمله کې دلېر خان په پیل سپور و چې د اور په یو غشي دده ګرېوان وسوځېدو او د بتکې په اوبو یې دا اور مړ کړو. دده محافظ چې شا ته ناست و ووژل شو. د بیجا پور واکمن پخپل مرګ مړ شو نو دده دوه اولادونه زوی او لور ، دلېر پخپلې سرپرستۍ کې واخستل او وروسته هغه شهزادګۍ د اورنګزېب زوی ته یې واستوله. په ګولکنده کې یې یو وزیر وټاکلو خو د باچا دا خبره خوښه نشوه او خپل زوی معظم یې یو واری بیا د دکن فوجدار وټاکلو.

د بیجا پور مسلمان واکمن، سیواجي ته خواست وکړو چې دده مرستې ته ورشي او د مغلو نه یې خلاص کړي. هغه د یو لوی لښکر سره روان و،خو په لاره خبر شو چې دده زوی سمبها جي ، چې پلار دده په حرکاتو ترې ناراضه و او د پناله په کلاکې بندي کړی و له هغه ځایه تښتېدلی او دلېر خان سره یې پناه وړی وه.

دلېر خان د سمبها درناوی وکړو، او د اعزاز په ورکولو یې یوه خېمه کې وساتلو. اورنګزېب ته یې پیغام ورواستوو چې که حکم وي نو زوی ته د مرستی په ورکولو د پلار سره یې وجنګوو ځکه دی د دننه حال نه خبر و او ډېر مرهټه به د سیوا جي نه زمونږ لوري ته راواړوي. باچا په دی وړاندیز خط راښکلو او هغه ته یې امر وکړو چې دسمبها په پښو کې بېړۍ واچوه او ما ته یې د بندي په توګه راولیږه. دلېر خان سمبها ته د ژوند ضمانت ورکړی او خپل لوز ماتول یې نه غوښتل. سمبها ته یې داسې حالات جوړ کړل چې دی له خېمې وتښتېدو او بېرته پلار ته ولاړو. دلېر د بیجاپور کلا محاصره کړې وه او مرهټو د همیر راو په مشري ددوی د محاصرې د ماتولو لپاره حملې پیل کړې. په دی سخت جنګ کې هغه د منګل سیر کلا په نیولو کې بریالی شو.

د اورنګ زېب د هندو ضد پالیسۍ ډېر راجپوت دده دښمن کړل او دوی په اودې پور کې پاڅون وکړو. باچا لومړی خپل زوی او ورپسې پخپله اودې پور ته ولاړو. محمد اعظم یې له بنګال او معظم یې له دکن راوبللل. دده وراره شهزاده اکبر د راجپوت هندوانو سره لاس یوکړو چې د تره په ضد پاڅون وکړي. خو اورنګزېب د لوی خطر نه راووتلو او اکبر ایران ته وتښتېدو. د راجپوت بغاوت





مشر د اودې پور رانا راج سنګه له باچا بښنه وغوښته او د دلېر خان په سفارش رانا وبښل شو. سیواجي د برهان پور ښار د ورانولو وروسته په لاره کې مړ شو نو د اورنګ زېب پام د پښتنو قوت ته شو. د خپل یو زوی په بغاوت هغه ته خبرونه رسیدل چې اعظم هم دده په مخالفت کې لاس پښې وهلې.

دلېرخان یې له دکن راوبللو او هلته یې یو واری بیاخان خانان معظم بېګ کوکلتاش وټاکلوچې په پټه یې د مرهټو سره لاره وه. باچا د خپل زوی معظم سره برهان دکن کې اورنګ اباد ته ولاړو. دلېر خان هم هلته راورسیدونو باچا دخپل بل زوی اعظم پسې پیغام ورواستو چې د دلېر خان په ملتیا د بیجا پور نیولو لپاره اورنګ اباد ته راشي. د اعظم د راتلو انتظار کیدو چې د وړوکي اختر په دریمه ورځ ۱۰۹۴ هجري ( ۱۶۸۵ م ) کې دلېر خان ناڅاپه پخپل خېمې کې په مرموزو حالاتو کې مړ شو.

دده د مړینې په اړه شکونه راودریدل. لومړی دا اوازه ګډه شوه چې اعظم له ده سره د شپې په خېمه کې لیدلي و او معظم ددی خبر پلار ته ورکړونو دلېر خان پخپله زهر وخوړل. بله دا چې باچاته به یې نیغه خبره کوله چې یو ډول خودسري یې څرګندوله نو ځکه یې وژلو. بل بیان داسې دی چې ده به یودرمل خوړل او یوه شپه دده وراره ورته د درملو پر ځای زهر ورکړي و. یو تاریخ وای چې اورنګ زیب د دلېر خان نه په وېره و ځکه دده زوی معظم ( چې وروسته د شاه عالم په نوم د هند باچا شو) د پلار پر ضد بغاوت لپاره له دلېرمرسته غوښتې وه خو هغه انکار کړی و او په دی خبره ددوی تر منځ اړیکې خړې شوې . دلېر چې څه وخت باچا ته دا خبره ولیکله نو هم هغه وخت ورته خپل زوی هم لیک ورواستاو چې دا افغان د بغاوت اور ته لمنه وهي. باچا په دی وخت کې تشویش کې شو. هر څه که و، دا یو حقیقت و چې د دلېر خان پخپل مرګ نه و مړ شوی. دده مړینه یوه معمه ده خو دده د شخصیېت کیسې تر اوسه ژوندي پاته دي.

دده مړی یې له اورنګ اباد د هردوي شاه اباد ضلع ته راوړل شو او دلته په هاغه مقبره کې یې خښ کړو چې پخپل ژوند کې یې جوړه کړې وه. دده عمر څلور یا پینځه شپیته کاله واو په قبر یې دا شعر لیکلی دی.

جلال داشت زروز ازل چو صدق ضمیر
دلېر خان شده ز الطاف شاه عالمګیر

اورنګ زیب له خوا په شاه ابادکې د انګۍ کهېړه سیمه ، دلېر خان ته د جاګیر په توګه ورکړې شوې وه چې ده پرې کورونه اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل. کله چې ده په شاه اباد کې د يو لوی جامع جومات په جوړولو لاس پورې کړو نو ددی نه په لږه فاصله، د هندوانو يو مندر هم جوړ کړو چې سنګهټ په نوم شهرت لري. دلته د اشنان لپاره يو پوخ تالاب دده مقبرې سره جوخت جوړ دې. ددی تالاب د ډکولو لپاره دلېر خان د دکن د نربده سيند نه چې د هندوانو لپاره سپېڅلي سيند دې، په ډېر مصرف اوبه راغوښتې وی. تالاب تر اوسه د نربده په نوم ياديږي او ددی پر غاړه هر کال يوه لويه مېله کيږي . د شاهي زمکو نه علاوه دلېر خان سره خپله زمکه هم وه چې وروسته د لکهنو نواب سعادت علي خان دده له اولادونو په زوره واخيسته.

د دلېر خان وو زامن و چې، کمال الدين، فتح معمور، چاند خان، دلدار ، الهه ديې خان، فتح خان، جمال خان، او درې لونه حسنه بي بي ، مستوره، او د دربېمې نوم معلوم نه دې. دده له اولادونو ځينې تر اوسه په شاه اباد کې پاته دي.

داورنګ زېب حکومت په هند کې د غورځو پرزو دوره وه چې دهغه د مړينې نه وروسته هم روانه وه. د يوې اوبلې سيمې سرداران به د پېسو په اخستوکله يوې او کله بلې غاړې ته واوختل. د منصب خاوندانو باچا ته د رشوت په ورکولو د خطر ځايونو نه ځان بدل کړو.


په دکن کې جنګ وغزيدو او کله به مرهټود پېسوپه بدل کې روغه وکړه او کله مغلو. د هغه وخت يو سردار باچا ته وويل، ما ته د پينځو زرو لښکر راکړه چې دکن درته ونيسم. اورنګزېب ورته وويل، ددی لپاره زه بايد پخپله د پينځو زرو پټ من لښکر ولرم چې له تا ځان وژغورم. يو بل سردار ته چا په دکن کې وويل، چې دومره موده وشوه په دکن کې جنګ کوئ، ولې دا سېمې نه نيسئ، نو هغه ورته په ځواب کې وويل، که دا مو ونيولې نو بيا به مو اورنګزېب کندهار ته ورواستوي چې هغه ورته ونيسو. پخپله اورنګ زېب يو وارې په ډاګه دا خبره وکړه چې دې په دکن کې پخپله ناست دې ځکه دده په غېر موجودګۍ کې يو سردار هم فعاليت نه کوي. هم دا وه چې اورنګزېب خپله پلازمېنه له ډېلي دکن ته يوړه او هم هلته د اتو اتياو کالو په عمر کې مړ شو. د هغسې جنګونو لړۍ تر اوسه روانه ده او هغه څوک چې د يوې يا بلې غاړې په لښکر کې په توده وينه جنګيږي، زيات وخت د دلېر خان په څېر په مرموزو حالاتو کې مري.





## د باره بستي اوسني پښتانه

عارف محمد خان د باره بستي د ټولو پخواني کلي " بسي" اوسيدونکې دې. دده مشران داود زي او د پېښور سره نږدې دګيدړۍ دکلي نه ورغلي و. د پېښور سره نږدې د چارسدې په لاره دداودزو، يو لږ کلي اوس هم شته. بسي د ګنګا په شمال ختيځ کې د سيند نه وويشت ميله لرې دې. لکه چې وړاندې مو وويل، دا کلي شيخ عيسا خان ته د شېر شاه سوري له خوا ورکړې شوې و. د بسي، لوې مېلمستون، بازاراو جومات اوس نړيدلي او زياتو خلکو تري کډه کړې ده. د عارف خان کورنۍ دده د تعليم لپاره ډېلي ته کډه وکړه. د خپلوانو په اړه يې وويل چې تر اوسه پخپلو پخوانيو رواياتو ټينګ ولاړ دي. تر شلمې پېړۍ دوي د ښونځوتعليم ته په ښه سترګه نه کتل. هغه خلک چې پخپلواولادونو يې سبق ويېلو، مجبوره و چې نورو ښارونو ته ورشي. هم دا ده چې دده کورنۍ ډېلي کې د اوسيدو فېصله وکړه . هغه کلي چې پخوا د يوې کورنۍ د خلکو کورونه پکې جوړ و، په ښاريو بدل شوي دي. د باره بستي د دولسوکليو پرځاې دلته نولس ضلع ( اولسوالۍ) دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهد خان د بگراسي اوسیدونکې او مشر ورور یې مظفر خان نومیږي. دا کلي شیخ عمر خان بازیدخېل اباد کړې و چې مغل باچا جهانگیر پر وخت دلته راغلي و. بگراسي کې دپښتنو دا کورنۍ په دریو برخو وېشلې ده او هم په دی ترتیب بگراسي هم وېشلې ده. لوېدیځه برخه یې د شیخ عمر د لمسي په نوم حسېن خېل نومیږي، دوېمه یې " بیچ والې" یعني، منځني نومیږي او دریم یې " گړهي والې" ( د گړۍ اوسیدونکي) دي. دشاهدخان پلرني کور هم هلته دې خو د تیرو څو کالو راهسې دی په ډېلي کې ژوند کوي. ده یو څه موده د حکومت نوکري کوله خو اوس کور ناست دي او د افغاني جرگې په نوم یې یوه ټولنه جوړه کړې ده. دې د خپل نوم سره د خان پر ځای د افغان ټکې کاروي او علت یې دابښې، چې د خان توري غېر پښتنو هم د خپل نوم سره کارول پیل کړي دي. په دی خبره یې ډېر خفگان څرگند کړو چې د پښتنو پېژندگلوي به په دی نوم کېده خو اوس هر څوک ځان ته خان واي.

د باره بستي د پښتنو د خوي خصلت په اړه یې وویل دوي ډېر غاوره خلک دي . داسی فکر کوي چې اوس هم حاکمان دي. دوي د نورو قامونو د خلکو سره خپلوي، نه خوښوي، پخپل پښتونوالی ډېر ویاړي، ژر په قهر شي او که بل څوک ورسره ښه چلن ونکړي نو دا نشي زغملی. ده د خپل مور کیسه وکړه چې په ډېلي کې یوه ورځ په کوڅه کې ترکاري خرڅونکې نه یې سودا کوله. په څه خبره دوي بحث پیل کړو. ناڅاپه دبقال له خولی ښکنځله راوتله . د شاهد خان مور ورته په مخ څو کلکې څپېړې ورکړې او د هغې ورځې راهیسې هغه بقال ددوې کوڅی ته نه راځي. یو وخت ددی ځای پښتانه دومره غاورو چې یواځې سیدان به ورسره په کرسۍ کېناستې شول او نورو ته به یې ټیټې چوکۍ یا پر زمکه ځای ورکوو. شاهد خان واي، چې د واده پر وخت د هند دود دې چې د هلک کورنۍ دناوې له کوره د جهېز غوښتنه کیږي، خو پښتانه دا یو عېب گڼي. واي چې په باره بستي کې پښتانه خپلو لوڼو ته هم د پلار په جایداد کې برخه ورکوي.







بگراسي او ددی شاو خوا سیمه کې پوخ سړک او برېښنا نشته او ددی علت ښای داوي چې خلک خپله خپلواکي د لاسه ورکول نه غواړي. په دی کلو کې دوي اوس هم لکه د پخوانو زمکه والو ژوند کوي. کورونه یې حجری لري چې پکې سړي کښېني اودکلي شخړی پخپله هواروي. زیات تره سړي ټوله ورځ په حجره کې تیروي او ماښام خپلوکورونو ته ځي. د ورځې هم هغه سړې په کورکې وي چې ناروغه وي. د کور ښځې د مېلمنو لپاره چاې ډوډۍ پخوي. شاهد خان راته وویل چې په هندوستان کې د زرعي اصلاحاتواغېز د باره بستي په خلکو نه دی شوي ځکه ددوي د کلي زمکه لا پخوا په وړو وړو برخو وېشل شوې وه.

په باره بستي کې امونه ډېر کیږي. د مېوې د پخیدو پر وخت، له دی ځایه په زرگونو لارۍ اوس د ډېلي بازار ته ورځي .

د بگراسي یو بل اوسیدونکې اقبال احمد خان دی . ده سره سل اېکړه زمکه ده چې وربانديې د امونو باغونه دي . یو بل ورور سرفراز خان سره یې دا زمکه شریکه ده. ده وویل، ځینې پښتانه اوس هم د گنگا پر غاړه ښکارله ورځي چې واړه ځناورپکې موندل کیږي . اقبال خان واي زه پخپلی کورنۍ کې لومړې کس ووم چې دېرش کاله پخوا مې د حکومت نوکري وکړه . اوس تقاعد شوې او په ډېلي کې ژوند کووم. دی د بگراسي د نواب کورنۍ نه دې او د خان پور هغه پخوانۍ کلا چې اوس په نړیدو ده. ور ته په میراث پاته ده خو دی اوس دومره توان نه لري چې هغه بېرته جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي . ځکه خو هر کال په بارانونو کې ددې کلا يو دېوال يا چت راپريوځي نودې ټرېکټر يا ټرالي په کرايه کړي، د غورځېدلو دېوالونو تيږي رابار کړې او دېلي ته يې راوړي . دلته هغه د نوي کور په دېوالونو کې دغه تيږي او خټه کاروي. د اقبال خان کورنۍ ځينې اثار سمبال ايښي دي چې پکې د سيپ( صدف) رکابۍ او کتابونه شامل دي.

د باره بستي يو بل پخواني کلې، چندیانه د بګراسي نه درې ميله لوېديځ کې دې. دا کلې د شېخ عيسا زوې خضر خان اباد کړې و. بيا د خضر خان لمسي حسن دلته يوه ګړۍ ( کلا ) جوړه کړه چې اوس هم د حسن ګړۍ په نوم کنډوالې يې پاته دي. محمد صادق خان په چندیانه کې زمکې لري او واي چې دلته څلور محلتونه، حسن خېل، فتح خېل، يحيا خېل او کوټ واله ( کلا لرونکې) نوميږي. دی په حسن خېلو کې وسيږي چې د باره بستي تر ټولو زيات شمېر وګړي پکې مېشت دي.

قېصر جهان د چنديانې اوسيدونکې ده، خو په بګراسي کې واده ده. واي، څو کاله پخوا هم کله چې د کور ښځې به بهر وتلې نو جامو د پاځه به يې سر نه تر پښو يوه سپينه چپنه اغوستې وه چې ورته تلک يا سرګاه واي. اوس ددې رواج کم شوې دې او يواځې سپين سرې مېرمنې يې په سروي. خو د واده پر وخت کله چې جينۍ د پلار له کوره روانيږي نو هم هاغسې يوه سپينه لوپټه يا څادروربانډی غوړوي. دا شېږ ميټره څادر " سليرګۍ " نوميږي. او نن سبا ښه ګلکاري وربانډي شوي وي. د ناوې لپاره د سپينو زرو په ګډون ، د غاړې لونګين هرو مرو جوړيږي. که هر څومره هغه د سرو زرو ګانې ولري خو په دی لونګين کې سپين زرکارول شوی وي.

قېصر جهان راته د خپلې مشرې لورد واده عکسونه راښکاره کړل چې لونګينو امېل يې په غاړه و. د واده پر وخت د شاه زلمي د کميس پرتوګ د پاځه واسکټ ضرور وي او په ځينو ځايونو کې پټکې ( لونګۍ ) هم په سروي. ناوې ته آرسي ( د سرو زرو ګوته چې شيشه پکې لګيدلې وي) هم ورکړې کيده خو اوس يې رواج ختم دي. د واده په څلورمه ورځ د ناوې د کور ښځې د ناوې د راوستلو لپاره د هغې خسرګنۍ کور ته ورځي. په دی وخت کې چهوارې( وچه خرما) او نوره مېوه وېشل کيږي. د هغې لور نسيم راته وويل " په دی وخت کې خلکو داسی چور ګډکړی وي چې د يو بل د لاس نه چهوارې تښتوي او منډې تررړې وهي. د نکاح پر وخت دوي کونځلې او چينې ( بورا) په مېلمنو





ويشي چې د پېښورد ودونو يو پخوانې دود دې.

دوي دکويژدنې، واده او د ماشوم پر زيږيدو ډزی کوي. د جينۍ په زيږيدو يوه او د هلک لپاره دوه هوای ډزې کيږي. د مېلمنو لپاره د غوښې ښوروا پخوي چې د خميره ډوډۍ سره يې خوري. دا ډوډۍ زيات وخت په تبخي يې پخېږي. لکه د نورو ځايونو دا ښوروا او ډوډۍ په يو لوې طشت يا خانک کې خوړل کيږي او دی خواړو ته " سريد" واي. په باره بستي کې په خاصو موقعو لکه اختر برات کې يو ډول خواړه چې " غړي" ورته واي ،هم خوري . خميره ډوډۍ په يوه کاسه کې ماته کړي د پاځه پری ايشېدلی شيدې چې پکې سوچا ژېړ غوړي او خواړه ګډ شوي وي، واړوي بيا دا ډوډۍ په شودو کې ښه مېده کړي او په لاس يې خوري.

" بنوليا" يو بل خواړه دي . کله چې نوې پنبه ( پاغونده ) راشنه شي نو دا راټولوي او په اوبو کې يې خيشته کړي. له دی راوتلي شيری کې د پخولو پر وخت وريژې او شيدې د خواړو سره ګډ کړي.

د يو بل دود په اړه قېصر جهان راته وويل چې که د ښځې مشر زوې مشر اولاد لور وي نو دا د خپلې نيا سره د لور په توګه اوسيږي. ددې مور هم خپله لمسی ( غزاله ) لکه د لور په شان ساتلی او لويه کړې اوواي، " زه د مور يوه لور وومه نو ځکه غزاله داسی ده لکه زما خور" . هغه نور ورونه خوېندي هم لرې خو د غزالی د سبق او د هغی د واده ټول لګښت د قېصر جهان مور پورا کړو. هغه واي پښتانه يواځې زمکه وال دي . په چنديانه کې نور ټول خلک د پښتنو زمکه والو په کورونو او يا په زمکو د کارونو لپاره اباد شوي دي. د هغوي په کورکې د هری کارکوونکي خپل مسلک معلوم وي. د نايئې کار پخلې او د نورو ټولو خدمت ګارانو نګراني کول و ، مهتراني ( صفاي کوونکې) کار ځاې جاروکول ، پاک کاري او خزلی بهر وړل دي. چميار هغومزدورانو ته واي چې غنم او نوره غله د خوراک لپاره پاکوي ، مصالحې ټکوي، ترکاري پرېکوي او کالي مينځي. که په کور کې غوا يا مېښه وي نو دا چميار ساتي اود خانانو او ددوي مېلمنو ته ببوزې هم خوزوي. دا کار هغه وخت کيدو چې بريښنا به نه وه. ګواله، ګوالن. شېدې او له دی جوړ توکي لکه پنير، ماسته او کوچ ورته راوړل. بهشتي د ورځې د استعمال اوبه کورونو ته راوړل خو اوس په کورونو کې نلکې لګيدلي دي. واده يا په خاصو موقعو اوس هم ډوډۍ بهر په حجره يا په مېدان کې پخوي او دا ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخول او وپشول د "خان سامان" پر غاړه وي. په عامه توګه یوه پورا کورنۍ د یوې خان دکورنۍ په خدمت کې بوخت وي اودوي ته د کال وریژې ، غنم او نور د خواړو شیان ورکړی کیږي.

د باره بستي یو بل کلي خان پور نومیږي. او شیخ رکن الدین ته جهانګیر باچا له خوا ورکړې شوې و. خو کلي د هغه ورور یوسف خان اباد کړو. ددی کلي لویه کلا اوس په کنډ والو بدله ده او په میراث کې اقبال خان ته رسیدلې ده چې پورته یې زکر شوې دې. خان پور یوه لویه سیمه ده او پکې واړه واړه بې شمیره کلي جوړ شوي دي. د مغلو د واک په وروستیو کلونو کې دلته د جاټ " جټانو " حملې ډیرې کیدې . د هرې حملې پر وخت به د ټول کلي خلکو ورته مورچې ونیولې او دوي به یې وزغلول. دلته د امونو د باغونو په منځ کې یوه هدیره د " باغ ګنج شهیدان " په نوم اوس هم شته چې د هغو جګړو مړي پکې خښ دي. ددی کلي د خلکو میړانه په سندرو کې وستایل شوه. د انګریزانو پر وخت ددی کلي وروستې مشر عبد الطیف خان په څلورو جرمونو تورن شو. یو جرم یې دا و چې ده مغل باچا بهادر شاه ظفر ته د خپل ملاتړ لیک ورلیږلې و. دویم دا چې د انګریز په خزانه کې یې د زمکو مالیه ناوخته استولې وه، دریم دا چې په یو جنګ کې د انګریز مخالف د هندوانو ټهاکر بهیم سنګهه چې ده نیولې و، پخپله خوښه ورخوشې کړې و. څلورم دا چې د انګریز د پوځ نه یوه فراري، حوالدار رحیم خان ته یې د څو ورځو لپاره ځان سره پناه ورکړې وه.

ددی جرمونو په سزا کې عبد الطیف خان یې تورو اوبو ته وروا‌ستولواو دده ټولې زمکې یې ضبط کړې. دده کورنۍ یې دړپه دره کړه. وروسته دا نهه کلي یو بل کس سید میر خان ته د سردار بهادر د خطاب سره ورکړې شول. دی د میرټ اوسیدونکې خو مشران یې د پغمان نه هند ته ورغلي و. د ۱۸۵۷ م د پاڅون پر وخت سېد میرد انګریزانو سره ډیره مرسته کړې وه نو دا زمکې د هغې خدمتونو یو انعام و.

د خان پورپه زاړه کلي کې د یو محلت خلک د یوکور غړی وي. د محلت د جوړښت نقشه د اس د نعل په شکل وي چې په دی نیمه داېره کې د تلو راتلو یواځینۍ لاره به یوه لویه دروازه وه. د دروازې دواړو غاړو ته به د دربان د ودریدو یا د کښیناستو لوړ ځایونه لکه د دکانچې جوړ و او هم دلته به حجره هم وه. چې سړي به پکې هر وخت ناست و . ښځوته په دی محلت کې د یو کور نه بل ته د تلو راتلو پورا ازادي وه او دوي بی له پردی پکې ګرځیدی شوی. د محلت په کوڅو کې که څوک ښځه روانه وه او





سړې ورته مخې ته راغلل نو سړې به مخ دېوال ته کړوچې ښځه تېره شي. په ځینو ځایونو کې دا دود اوس هم پاته دی. د خانانو ښځې به په ډولۍ یا چوپان او ورسته بیا په ټانګه (ګاډي )کې بهر تللی چې شا وخوا به ورته پردی تړلی وي. خو زیات وخت ښځې به د خپل محلت نه بهر نشوی وتلې . چمیاران او نورو ملازمانو ښځې به د کارونو لپاره بهر وتلې . د وخت په تیرېدو کله چې د کلو خلک یو بل سره خپلوي پیل کړې نو د ښځو بهر وتل هم زیات شول.

دمحلتونو د داسی جوړښت یوه ګټه دا وه چې هیڅوک به محلت ته بی له اجازې یا بی له شناخت نشو ورتلې . د خطر یا جنګ پر وخت سړي به د وسلو سره ددی کلا ډول محلت چاپیره ودرېدل. د محلت د لوې دروازې نه بهر په حجره کې جرګی کیدې او اوس هم کیږي . د محلت مشر چې محله دار ورته واي په جرګه کې ضرور ګډون کوي. د جرګی د رابللو حاجت د زمکې د شخړو ، د ودونو او یا کوم سیاسي بدلون پر وخت کیږي. اقبال احمد خان وویل ، نن سبا زمونږ جرګی یواځې د زمکې او د کورونو د لانجو د غوڅولو لپاره رابلل کیږي. خوکله ناکله په کلی کې اوسیدونکي د نورو قامونو خلک هم خپلې شخړې دی جرګوته وړاندی کوي.

په بګراسي کې د پښتنو کورونه د سلو شاو خوا دي خو اوس دنورو قامونو خلکو هم پکې کورونه جوړ کړي دي چې شمېره یې ښاي له پښتنو هومره وي. دلته د اس د سپرلي او د پټکي تړل اوس هم رواج لري اویو وخت د اسونو ساتل عام و او ددی سیمې یو مهم کاروبارګڼل کیدو. اوس هیڅوک دادنده نه کوي او څو کورنیو، یو،دوه اسونه د واده ښادې لپاره ساتلي دي. اوس ښځې په ډولۍ یا تانګه کې نه بلکه په موټرو کې ځي راځي . ځینې ښځې اوس هم هغه سپینه بورقه په سروي چې پېښور کې به یې رواج و. د هند د وېش نه وړاندې خلکو پېښور ته تګ راتګ ډېر کاو.

صادق خان راته وویل چې ددوي کچه ( خام ) کورونو کې د لرګي چتونه و او په دېوالونو به یې کاګل کوو. په هر کور کې غوا ، مېښې ساتل کیدې او ځینو کورونو به خپل رتهه لرلو. رتهه د لرګي جوړ هغه ګاډې وي چې یو یا دوه غوایان یې راکاږي. د ښکار غوښې به کباب کیدې خو اوس د حکومت له خوا په ښکار بندیز دې. دلته په هر پخلي کې غوښه ارو مرو وي. ان تر دې چې دال هم د غوښې سره پخوي. ددی ټولو خلکو د خبرو نه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوميري چې په هند کې د پرمختګ په لار دباره بستي پښتانه هم اړ شوي دي چې پخواني روایاتو ته مخه ښه ووايي. خو د مشرانو د برم او عظمت هېرول ورته ګران دي.





## ليکلي سرچيني


١. افغان امرا او مغل. ١٥٢۶،١٧٠٧م. ريتا جوشي وکاس اداره ډيلي. ١٩٨٥ م چاپ. ١٢٨، ١٢٩، ١٣٢،١٣٣، ١٣٢، مخونه

٢. مغل امرا. محمد اطهر على. ژباړه ، امين الدين. فېکټ بک لاهور. نېټه ناڅرګنده. مخونه ، ٢٧، ٢٨، ١٠٧،١١۴، ١١٥

٣. تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني. خواجه نعمت الله هروي. ژباړه د ډاکټر محمد بشير حسين. اردو ساينس بورډ لاهور. دوېم چاپ، ٢٠٠۴ م. مخونه ٣۴٥، ٣۴۶، ٣۴٨، ٣٥٠، ٣٥٥ ،٣۶٧، ،۴٠٥،

۴. يادګار سلف. يعنې تاريخ باره بستى افغانان. محمد عبېدالله خان. ١٩٣٩ م . ناشر. حجن سردار فاطمه خانم.ميرټ. دوېم چاپ ١٩٩٨م ډيلي. مخونه، ۴٧.١۶٨، ١٧٨، ٢٢٢،١٨٢، ١٨۶،٣۶٩، ٣٧٠ ، ٣٧۴،٣٧٥.

٥. اکبرنامه. ايس . ايم برک. ژباړه، مسعود مفتي. علم و عرفان خپروني. لاهور٢٠٠۶ م. مخونه، ١٢۴،١١۶

۶. شاه جهان نامه. ملا محمد صالح کمبوه. ژباړه، ممتاز لياقت. سنګ ميل چاپ لاهور. ١۴٠ نه تر ١۴٧


مرکي

١. عارف محمد خان. د هند د هواي ليکو پخواني وزير

٢. شاهد خان . د باره بستي د افغان جرګې استاځي

٣. محمد صادق خان. د چندهياني اوسېدونکی.

۴. نسيم اختر د بګراسي اوسيدونکي و په ډيلي کې د جامعه مليه اسلاميه محاصله

٥. اقبال خان

۶. د باره بستي يو شمېر اوسيدونکي.

مننه ، د جواهر لال پوهنتون د يو شمېر محاصلينو، عايشه سنبل، مشکور محمد ، د ال انديا رېډيوممتاز ولي، پوهنمله رحيمه او دبيو ګل

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**